د افغانستان اسلامي جمهوري دولت

د علومو اکاډمي

د ژبو او ادبیاتو مرکز

د پښتو ژبې او ادبیاتو انستیتیوت

د کابل مجلې مدیریت

# کابل

**۳ گڼه**

کابل: ژبنۍ، پوهنیزه- څېړنیزه، فولکلوري او ادبي میاشتنۍ

## د کابل مجلې په دې ګڼه کې

## لیکلړ


| سرلیک | لیکوال | مخ |
|---|---|---|
| پښتو ادبي فنون او | عبدالظاهر شکیب | ۱ |
| په پښتو ادب کې ناول | سیدنظیم سیدي | ۲۱ |
| ارزاني خویشکی او | بخت میر وزیري | ۳۲ |
| په اندو اروپايي ژبو کې | میراجان غوربندی | ۴۵ |
| د اسماني ستورو په باب | عبدالواجد واجد | ۵۵ |
| عریان الغیب د ستر | عبدالخالق رشید | ۶۳ |
| د پسرلي په شاعرۍ | مجیب الرحمن امیري | ۷۶ |
| د یو لیکوال د سبکي | فهیم بهیر | ۸۸ |
| غبار خاطر او د زړه | سیدشاه سعود | ۱۰۸ |


### یادونه

- ✓ د کابل مجلې کتنپلاوی د رالېږل شوو مقالو په اوږدون او سمون کې خپلواک دي.
- ✓ د رالېږل شوو مقالو شننه او څېړنه د لیکوالو فکري زېږنده ده، لیکوال ته بویه، چې د خپلې لیکنې سپیناوی په خپله وکړي.
- ✓ د مجلې له چاپ شوو مقالو څخه استفاده کول، بې له اخځه جواز نه لري.
- ✓ رالېږل شوې مقالې بېرته لیکوالو ته نه ورکول کېږي.


### مسوول مدیر

څېړندوی سیدنظیم سیدي

### مهتممه

څېړندوی شکیلا میاخېل

### کتنپلاوی

- ✓ څېړنپوه سیدمحی الدین هاشمي
- ✓ څېړنپوه ډاکټر خلیل الله اورمړ
- ✓ څېړنپوه نصرالله ناصر
- ✓ څېړنپوه عبدالواجد واجد
- ✓ څېړندوی حبیب الله رفیع
- ✓ څېړندوی سیدنظیم سیدي

### کلنۍ ګډون بیې

- ✓ په کـابل کې: «۳۰۰» افغانۍ
- ✓ په ولایاتو کې: «۳۶۰» افغانۍ
- ✓ په نورو هېوادونو کې: «۲۰» ډالره
- ✓ د زده کوونکو او محصلینو لپاره نیمه بیه
- ✓ د یوې ګڼې بیه: «۲۵» افغانۍ

کابـل – د افغانسـتان د علومـو اکـاډمي
د ژبـو او ادبیـاتو مرکـز
د پښـتو ژبـې او ادبیـاتو انسـتیتیوت
اکـاډمۍ څلـور لارې
د پخـوانۍ پښـتو ټـولنې ودانـۍ



ګرمل: ۰۷۹۶۶۵۰۶۵۸
او: ۰۷۷۳۳۰۸۳۳۰
بریښلیک:
magazinekabul@gmail.com

څېړنوال عبدالظاهر شکیب

# پښتو ادبي فنون او د بديع علم

**لنډيز**:

په دې ليکنه کې تر ډېره کوښښ شوی چې د ادبي فنونو او په ځانګړي ډول د بديع د علم په اړه هر اړخيز معلومات وړاندې شي . په لومړي سر کې د ادبي فنونو په اړه او ددې علم په څانګو لنډې څرګندونې شوي دي ، بيا د بديع د علم په اړه خبرې شوي او د بديع د علم په تاريخچه ، لغوي او اصطلاحي معنا هم بحث شوی دی ، ورپسې په پښتو ادب کې د ادبي فنونو او له هغې ډلې په بديع خبرې شوي او دا څرګنده شوې ده چې د بديع پر علم په پښتو ادب کې لومړی سيستماتيک کار چا کړی او څنګه دی؟ او همدا ډول په پښتو ژبه کې د بديع د علم د ځينو نورو ليکل شوو او خپرو شوو آثار يادونه هم شوې ده ، چې لوستونکي يې په لوستلو سره د بديع د علم په اړه کافي معلومات ترلاسه کولای شي .

**سریزه**:

مخکې له دې چې په پښتو ژبه کې د بدیع د علم په تاریخي سیر خبرې وکړم ، غواړم په لومړي سر کې د ادبي فنونو په اړه هم لنډې خبرې وکړم ، ځکه د بدیع علم د ادبي فنونو د یوې برخې په توګه تل په ادبي څېړنو کې مطرح شوی دی .

ادبی فنون هغه علوم دی چې د هغو په مرسته دلیکونکو لیکنې ، د وینا کوونکو ویناوې او د شاعرانو شعرونه ښکلي، لطیف او سمیږي.

له فنونو څخه مهم غرض د لیکنې، وینا او شعر مؤثر کېدل دي، کومه لیکنه ، وینا یا شعر چې په دې ادبي مزایاوو ښکلی شوې وي، د اورېدونکو او لوستونکو پر مغزو کې ښه اغېزه کوي، لطافت یې ډېرېږي او یا لږ تر لږه د نفرت په سترګه ورته نه کتل کېږي او په مرسته یې لیکونکی یا ویونکی خپل مقصد تر لاسه کولای شي.

د ادبي فنونو موضوع نثر، شعر او وینا ده، یعني د نثر ، وینا او شعر سم څرګندول او ناسم سمول او بې خونده ته خوند ور کول دي، ځکه چې ټولې هغه معناوې چې وي زړه وړونکې او معقولې دي د الفاظو په ذریعه سمېږي او د الفاظو د سمولو او پېژندلو او دهغو د ترکیب لپاره څو فنه ټاکل شوي دي، چې د هغو په واسطه الفاظ هم سمیږي او هم پېژندل کیږي او بل دا چې په هره ژبه کې دا خبره ضروري ده چې سمه به لیکل کېږي او هر ژبور مجبور دی ، چې سمه به یې لولي، نو ویل ځانته فن او قانون لري او لیکل ځانته، چې همدې فنونو ته ادبي فنون وایي او هیڅ یوه ژوندۍ او سمه ژبه په مستقیم یا غیر مستقیم ډول ددې فنونو له مراعات څخه خلاصېدلای نه شي، بلکې په طبیعي ډول که کومه ژبه خوږه او کلام یې خوږ وي ( که یې لیکونکی یا ویونکی قصد وکړي که یې ونه کړي) ددې فنونو اغېزه په کې ځلېږي (لکه د عربو د جاهلیت دوخت اشعار) نو له دې څخه څرګندیږي ، چې دا فنون عموماً د پخوانیو له پخو ویناوو او خوږو اشعارو څخه رایستل شوي دي. کومه ،بلیغه ، فصیحه ، صریحه او له ابهامه خلاصه ، موجزه ساده او آسانه ژبه

چې ادبي فنون یې پیشنهادوي هماغه ژبه په مطبوعاتو او نورو برخو کې کارول کیږي البته کله کله قالبونه او ظروف ددواړو ژبو ترمنځ بېلتون راولي او دشعر ژبه دخبر له ژبې څخه جلاکوي .

د حقایقو او واقعیتونو له موضوع سره په ارتباط کې لارې سره بېلې دي هدفونه یې شریک دي دادب ژبه دیو حقیقت د تمثیلولو لپاره دالفاظو قیمتي تابلو جوړوي (۱).

له موضوع سره په ارتباط کې دادبي فنونو دوېش په اړه هم غواړم په لنډ ډول بحث وکړم. د فنونو په وېش کې راز راز نظریې موجودې دي او ډول ډول وېشونه په کې شوي دي او پخوانیو ختیځو پوهانو پر څو علومو سره وېشلي دي. احتمال لري چې په اروپا کې دا وېش په بل ترتیب وي، مګر دلته د شرقي پوهانو نظریې راوړو:

په پخوانۍ ختیځې اصطلاح چې اوس هم په شرق کې تقریباً تعقیبیږي، ادب هغه پوهنه ده چې منثور یا منظوم کلام پرې پېژندل کیږي یعنې دکلام ښه والی، بدوالی، ټیټوالی، لوړوالی، سم او ناسم ځنې څرګند شي، چې په دې صورت کې نو د بلاغت اسبابولو او دبلیغ کلام اصولو ته هم ادب ویلای شو او ځکه نو دلومړنیو په نظر دادب علم په ډېرو عربي علومو پورې اړه لري، چې دا علوم نو "ادبي فنون" یا "ادبي علوم" بللای شو، مګر ددې علومو په شمېر او ټاکلو کې هم د پخوانیو پوهانو نظریې سره مختلفې دي، مثلاً: دادبي علومو په ټاکلو کې د قرائت علم هم په ادبي علومو کې داخلوي او څوک یې نه، یا دا چې ځینې علماء دبدیع علم مستقل نه ګڼي او د معاني او بیان تابع یې بولي ، همدارنګه دادبي فنونو په شمېر کې هم اختلاف دی، ابن انبازی دا فنون اته بولي او زمخشري یې په خپل په کتاب «قسطاس» کې دولس

[1] پوهاند پښتون اقا شیر زاد ، ادبي فنون ، ناچاپ مقاله .

راوړي، او قاضي ذکریا بیا د بیضاوي په حاشیه کې څوارلس ذکر کړي دي، چې علم قرائت یې هم په ادبي فنونو کې داخل ګڼلی، محمد د محمود امین زوی په خپل کتاب نفایس الفنون کې ادبي علوم په پنځلسو فنونو مشتمل بللي دي . جرجي زیدان بیا لیکي: چې صرف، نحو، لغت، عروض، قوافي، صنعت، شعر، تاریخ او انساب – ادبي علوم دي او ادیب هغه څوک ګڼي چې په دې ټولو علومو پوه او خبر وي او یا په یوه ددې علومو کې پوره عالم وي او په نورو خبروي، د عالم او ادیب یې هم دا توپیر ټاکلی دی چې ادیب له هر څه څخه هغه ښکلې برخه انتخابوي او عالم یوائې یو مقصد تعقیبوي او مهارت په کې مومي ، بل بیا وایي د ادب علمونه دیارلس دي چې له دې دیارلسو څخه اته اصول او پنځه فروع ګڼي لغت، نحو، صرف، اشتقاق، معاني، بیان، عروض او قافیه، رسم الخط، قرض الشعر، انشاء محاضرات او تاریخ دي، د بدیع فن د معاني او بیان تابع ګڼي سید شریف بیا ادبي علوم دوولس یاد کړي دي . د ادب د علم اصول اته دي، ځکه چې ادبي علوم په الفاظو اړه لري چې په دې صورت کې به یا دالفاظو له مفرداتو او موادو څخه خبري کیږي چې دا "دلغت د علم" کار دی. او یا یوائې د الفاظو د صورتو څخه بحث دی، چې په "علم صرف" اړه لري. او یا به د کلمو د نسبت له حیثه وي چې په اصلوالي او فرعوالی کې د یوې کلمې نسبت بلې ته وشي، البته دا د "اشتقاق علم" دی او یا دا چې بحث له مرکباتو څخه وي او دا هم پر څو ډوله دی، ځکه چې که په اصل ترکیب او د اصلي معناو په اداء کولو کي بحث وي "د نحو علم" دی او که د معنا دافادې دکیفیت په شاوخوا کې وي چې کومه معنا ترهغې معنا واضحه او کومه تر هغې بلې معنا پټه ده، دا "دبیان په علم" اړه لري او "د بدیع علم" د معاني او بیان له ملحقاتو څخه دی او په هغو کي داخل دی، او که بحث له هغو مرکباتو څخه وي چې هغه وزن ولري دا بیا دوه قسمه دی، ځکه چې که یوائې په وزن کې

خبرې وي "دعروض علم" بلل کیږي او که دبیتونو په اواخرو کې خبرې وي "دقافیې علم" دی.

مګر فروع څلور دي: دا له دې جهته چې که دلیکني او کتابت پر نقشونو بحث وي " د خط علم" دی او که دا بحث په منظوم کلام پوري خاص وي، "قرض الشعر" دی او که یوائحې په نثر پورې اختصاص ولري " دانشاء علم" بلل کیږي او که په یوه پورې هم اختصاص ونه لري "علم محاضرات" دی چې "تاریخ" او "انساب" هم په دې برخه کې شامل دي. (۱)

په یو کتاب کې مې لوستلي وو «آرټیست یا ادیب دروح انجینر دی» ددې خبرې ستر هدف دادی چې ادیب په خپلو نا اشنا او زړه وړونکو تخلیقاتو او فنپارو کې دژوند دمعاملاتو او مسایلو یوائحې انځور کښنه نه کوي ، بلکې دهغې دفني نمونو ښکلاییز اړخونه او باطن هم روښانوي ، یعنې هغه دانساني ژوند پر بیلابیلو برخو دکره کتنې غوره نظریات هم وړاندې کوي .

ادب که دهرې ژبې او هرې سیمې وي ، خوله انساني ژوند سره ټینګه اړیکه لري او هیڅکله دانسان له ژونده اخوا دقدم اخیستلو تصور نه کوي ، نامتو کره کتونکی (میهتیو ارنولډ) ادب دژوند کره کتنه بولي.(۲)

په هر حال ادب یو فن دی چې موضوع یې ژوند دی او دژوند له دایرې او مقاصدو بهر نه دی. ددې تر څنګ ادبي فنون دادب دبیلابیلو برخو شننه ، تشریح او ښکلاییز اړخونه روښانه کوي .

---

[1] پوهاند پښتون اقا شیر زاد ، ادبي فنون ، ناچاپ مقاله .

[2] ډاکټر اس ام زیډ ګوهر ، اردو مین را پورتاژنګاري فن اور ارتقا، سرشتې پبلیکشنر محله کمره ، مظفر پور ، بهار هندوستان ، ۲۰۰۳ ، ۸ مخ .

وايي سقراط ټولو ادبي فنونو او صنعتونو ته د اخلاقو له نظره کتل او د شعرونو پر ارزښتونو به يې د اخلاقي بنسټونو له مخې قضاوت کاوه. (۱)

ادبي فنون چې د شرقي ادب د کره کتنې او تول غوره علوم او فنون وو، د لومړي ځل لپاره په سيستماتيکه بڼه په عربي نړۍ کې رامنځ ته شول او وروسته يې د سيمې نورو ژبو او ادبياتو ته لار وموندله او ورو ورو عام او مروج شول.

د بديع علم:

د بديع علم چې د ادبي فنونو يو ستر څپرکی تشکيلوي او له نظم و نثر دواړو سره ټينګه اړيکه لري، د لومړي ځل لپاره په عربي نړۍ کې رامنځ ته شو، چې په دې اړه فرهنګنامهٔ ادبي فارسي داسې څرګندونه کوي: «د بديع د علم تاريخچه له دوهمې هجري پېړۍ را پيلېږي او دا هغه وخت و، چې علماو د قرآن کريم د اعجاز د اړخونو او د عربي قبايلو د متلونو، شعرونو او فولکلور د راټولولو هڅې پيل کړې، چې د عربي ژبې د لغاتو، صرف، نحوې او نورو ادبي علومو په برخه کې د کتابونو د تدوين لامل شوې او د عربو د بلاغت د علم نظري اصول د ارسطو د شعر فن د کتاب له نظرياتو سره ګډ شول او ځانګړې بڼه يې غوره کړه.»(۲)

د بديع د علم بنسټ اېښودونکی عبدالله بن معتز (۲۴۷ – ۲۹۶ هـ ق) دی، چې په ۲۷۴ هـ ق کال کې يې په دغه علم کې د کتاب البديع په نامه خپل اثر تاليف کړ. ابن

[1] پوهاند دکتور عبدالقيوم قويم، نقد ادبي، انتشارات کتاب، پېښور، ۷– ۸ مخ.

[2] فرهنګنامهٔ ادبي فارسي، د حسن انوشه په اهتمام، جلد دوم، ارشاد اسلامي و فرهنګ وزارت ايران _ تهران، ۱۳۸۱ ل کال، ۲۳۱ مخ.

معتز په خپل اثر کې د بدیع ۱۸ ډوله صنایع راوړي وو، چې پر دوو برخو یې وېشلي وو؛ لومړی قسم یې ۵ صنایع وو او دوهم قسم یې ۱۳ ادبي صنایع وو. (۱)

خو تاریخ ادب عربي د ابن معتز له خوا د وضع شوو بدیعي صنایعو شمېر ۱۷ ښیي. (۲)

تر عبدالله بن معتز عباسي وروسته په څلورمه هجري پېړۍ کې قدامه بن جعفر د دې علم ۹ نور صنایع معرفي کړل، چې په دې ډول یې د بدیعي صنایعو شمېر ۲۷ ته ورساوه. وروسته بیا ابو هلال عسکري پر دغو صنایعو ۱۳ نور ادبي بدیعي صنایع ورزیات کړل او په دې ډول یې د بدیعي صنایعو شمېر ۴۰ ته ورساوه. (۳)

تر ابو هلال عسکري وروسته بیا رشیق قیرواني په خپل کتاب (العمده) کې څه نور ډولونه هم پرې ورزیات کړل؛ تر رشیق قیرواني وروسته شرف الدین نقاشي دغه شمېر ۷۰ ته ورساوه، چې وروسته پرې شیخ ذکي الدین بن اطبخ ۲۰ نور ادبي صنایع ورزیات کړل. د شیخ ذکي الدین (کتاب التحریر) په دې اړه تر ټولو غوره کتاب دی، ځکه چې ده په دغه باب له چا څخه نقل او ایضاح نه دی کړی، بلکې نورو کتابونو ته یې د نقد په سترګه کتلي دي؛ ذکي الدین وایي: «ما دا اثر هغه وخت تصنیف کړ، چې څلوېښت کتابه مې په دغه فن کې لوستلي وو.» (۴)

خو باید یادونه وکړو، چې د بدیع د علم پخواني معتبر پوهان د مغولو تر یرغل دمخه، یعنې د خراساني سبک پر مهال اوسېدل؛ له دې امله یې د بلاغت او بدیع اصول د

---

(۱) اسفندیارپور، ډاکټر هوشمند: عروسان سخن، دوهم چاپ، ایران، تهران، ۱۳۸۴ ل کال، ۲۰ مخ.

(۲) زیات، احمد حسن: تاریخ ادب عربي، (ژباړن: محمد نعیم صدیقي) _ لاهور، ۳۸۹ مخ.

(۳) ډاکټر هوشمند اسفندیارپور: عروسان سخن، ۲۰ مخ.

(۴) پوهاند عبدالشکور ، رشاد : بدیع، د ادبي فنونو درسي لکچرنوټ، کابل پوهنتون، د ژبو او ادبیاتو پوهنځی _ پښتو څانګه، ۱۳۴۷ ل کال.

هغې دورې د مدحي قصيدو او خراساني ادب د ځانګړنو پر بنسټ تدوين کړې دي، ځکه خو د بديع له پخوانيو کتابونو څخه هيڅ يو د عراقي، هندي او د معاصرې دورې د سبک ځانګړنو ته په پاملرنه نه دي تدوين شوي، خو په دې وروستيو کې دغه بريد پولې هم اوارې شوي دي.(۱)

مخکې مو وويل چې د بديع علم د عربي ژبې په ادبي او هنري نړۍ کې وروو وروو وده او ارتقا وکړه او د بديعي صنايعو شمېر وخت په وخت زيات شوی، چې نن ورځ يې شمېر تقريباً ۲۲۰ ته رسېږي.(۲)

کله چې په عربي ادب کې د بديعي ښکلاوو ډېر هرکلی وشو، نو وروو وروو د بديع علم له عربي ژبې څخه فارسي او پښتو ژبو ته لار وموندله او د فارسي او پښتو ژبو ډېرو شاعرانو خپل شعرونه د بديعي صنايعو په ښکلا ښکلي کړل او په شعوري ډول يې دې فن ته مخه کړه.(۳)

د بديع د علم لغوي او اصطلاحي معنا قاموسونو داسې کړې ده:

الف– د بديع لغوي معنا:

پښتو پښتو تشريحي قاموس د بديع معنا داسې کوي:

(۱) خالق، پيداکوونکی، د خدای پاک يو صفت دی؛ لکه کاظم خان شيدا چې وايي:

---

(۱) فرهنگنامۀ ادب فارسي، ۲۳۱ مخ.

(۲) مير صادقي ميمنت (ذوالقدر)، واژه نامۀ هنر شاعري، دوهم چاپ، تهران، ۱۳۷٦ ل کال، ۳۹ مخ.

(۳)عبدالظاهر شکيب: د پيرمحمد کاکړ او شمس الدين کاکړ په ديوانونو کې بديعي صنايع (ناچاپ اثر)، د افغانستان د علومو اکاډمي، د پښتو څېړنو نړيوال مرکز، ۱۳۸۴ ل کال، ٦ مخ.

ای د کـــل جهـــان صـــانعه !
ای د هـــر اســـمان بدیعـــه !
(۲) عجیبـــه، نـــادر، نـــوی،
تازه. (۱)

همـدا ډول پـه قـرآن کـريم کـې دبـديع کلمـه دا ډول راغلـې ده: «قـل مـا کنـت بـدعاًمـن الرسل.»(۲)

ژباړه: «ورته ووايه ای پيغمبره! چې زه په پيغمبرانو کې نوی او بې مثاله پيغمبر نه يم، يعنې تر ما مخکې هم پيغمبران تېر شوي دي.»

بل ځای الله پاک فرمايي: «بديع السموت والارض.»(۳)

همـدا شـان رسـول الله (ص) فرمـايي: «کـل محدثـة بدعـة وکـل بدعـة ضـلالة.» [متفق عليه]

ژباړه: «په دين کې هر نوی کار بدعت دی او هر بدعت بېلاري ده.»

خوشحال بابا د بديع کلمه په سواتنامه کې دا ډول کارولې ده:

په دا فن يې درست د سوات عـالم مطيـع کـړه
و عالم وته يې خپل کتاب بديع کـړه(۴)

---

(۱) پښتو_ پښتو تشريحي قاموس، لومړی ټوک، د افغانستان د علومو اکاډمي، د ژبو او ادبياتو مرکز، د ژبپوهنې څانگه، ۱۳۵۸ ل کال، ۲۹۶ مخ.

(۲) قرآن کريم، سورة الاحقاف، ۱۹ آيت.

(۳) قرآن کريم، سورة البقره، ۱۱۷ آيت.

(۴) خوشحال خان خټک کليات، د عبدالقيوم مشوانې په زيار، دوهم چاپ، دانش خپرندويه ټولنه_ پېښور، ۱۳۸۷ ل کال، ۹۳۵ مخ.

**ب – د بديع اصطلاحي معنا:**

بديع هغه علم دی، چې په هغه سره د کلام د غير واجبې ښکلا او تحسين ښنې او سبونه پېژندل کېږي، يا په بله وينا بديع داسې علم دی، چې د هغه په واسطه د کلام د ښه والي وجهې ښکاره کېږي. (۱)

دايرة المعارف ادبي، بديع دا ډول تعريفوي: «بديع په لفظي يا معنوي صنعتونو باندې د منثور يا منظوم کلام د ښکلا علم ته وايي.» (۲)

فرهنګ بلاغي ادبي د بديع په اړه وايي: «د بديع علم د هغو قوانينو ټولګه ده، چې د حال له غوښتنې سره سم، د هغو له ترکيبونو څخه فصاحت معلوم شي او پر هغو د کلام له تېروتنو څخه ځان وژغوري او خپله موخه په داسې ښکلو او زړه راکښونکو الفاظو کې وړاندې کړي، چې پوهېدل پرې اسان وي او اورېدونکي ته خوند ورکړي.» (۳)

واژه نامه های هنر شاعري اثر بيا داسې ليکي: «بديع د تازه او نوي راڅرګند شوي معنا لري او د بلاغت له علومو څخه دريم ښاخ د بديع فن دی، چې په هغې کې د فصيح او بليغ کلام له ښکلاوو څخه بحث کېږي او د وينا د اغېزناکتيا لامل کېږي.» (۴)

د بديع علم پر دوو لويو څانګو وېشل کېږي، چې د لفظي او معنوي صنايعو ښاخونه دي. موږ به په خپله دې ليکنه کې لومړی د لفظي صنايعو په اړه څرګندونې

---

(۱) پوهنيار خان سلام شينواری: د ادبي فنونو درسي لکچرنوټ، ننګرهار پوهنتون، د ژبو او ادبياتو پوهنځی، ۱۳۷۲ ل کال.

(۲) عبدالحسين سعديان: دايرة المعارف ادبي، تهران، ۱۳٦۳ ل کال، ۴۷۹ مخ.

(۳) ډاکټر ابوالقاسم رادفر: فرهنګ بلاغی ادبي، لومړی ټوک، تهران، ۱۳٦۸ ل کال، ۲۴۴ مخ.

(۴) مير صادقي ميمنت (ذوالقدر). واژه نامهٔ هنر شاعري، ، ۳۸ مخ.

وکړو او بیلګې به یې د خوشحال بابا په اشعارو کې په ګوته کړو او بیا به معنوي صنایعو یادونه وکړو.

لفظي ښکلاوې:

لفظي ښکلاوې یا صنعتونه هغه دي، چې د کلام ښکلا په الفاظو پورې تړلې وي، یعنې د الفاظو تر منځ په بېلابېلو طریقو او د تناسب ور کولو په وجهه د کلام موسیقیت زیاتېږي، چې په دې ډول صنایعو کې تجنیسات او ډولونه یې، سجع او ډولونه یې، تکرار او ډولونه یې، تکلفات او تفننات (لزوم ما لایلزم) او د هغو ډولونه راځي.

معنوي ښکلاوې:

هغه بدیعي صنایع، چې د کلام د معنوي ښکلا لامل ګرځي، یا معنوي صنایع هغه صنایع دي، چې د کلام ښکلا په معنا او مضمون پورې تړلې وي.

تر دې ځایه مو د بدیع د علم په عمومي تاریخچه ، لغوي او اصطلاحي معنا وغږېدو اوس به راشو پښتو ادب ته: په پښتو ژبه کې که څه هم د بدیعي صنایعو د استعمال سابقه ډېره پخوانۍ ده او حتی د پښتو ادب په لرغوني دوره کې هم د دې علم د ځینو صنایعو څرک لګېږي ، خو له بده مرغه پر دې علم پخوا کوم ځانګړی کتاب موږ ته نه دی معلوم؛ پر دې علم د لومړي ځل لپاره او د اوښاد استاد عبدالرؤف بېنوا کار کړی او د ادبي فنونو تر سرلیک لاندې یې د دې علم لومړی کتاب ولیکه .

تر دې وروسته په کوزه پښتونخوا کې ښاغلي سید تسنیم الحق کاکاخیل د روح ادب په نامه یو اثر ولیکه او په ۱۹۵۷ م کال یې په پېښور کې خپور کړ.

استاد پوهاند عبدالشکور رشاد په دې علم کې په پښتو ادب ډېر حق لري، که څه هم د بدیع په اړه د ده یوازې یو کوچنی اثر ډېر وروسته چاپ شوی، خو اروا ښاد پوهاند رشاد زما په

نظر، په دې علم کې هغه کارونه کړي، چې نه یې پخوا ساری لیدل کېده او نه تر دې دمه د هغه د کار درجې ته څوک رسېدلي دي.

اوس به راشو په پښتو ژبه کې دبدیع د علم د ځینو اثارو په اړه لنډو معلوماتو ته:

ادبي فنون:

د استاد عبدالروف بېنوا لیکلی اثر (ادبي فنون) لومړي ځل په ۱۳۲۶ لمریز کال په کابل کې چاپ شوی دی.

دغه اثر په دوهم وار په ۱۳۸۲ لمریز کال په کندهار کې د هیواد کلتوري ادبي ټولنې له خوا د په ۸+۲۴۲ = ۲۵۰ مخونو کې چاپ شوی دی، اسماني رنګه آبي پوښ لري او پر وروستي وزر یې د استاد بېنوا انځور راغلی، د کتاب د کمپوز چارې مطیع الله روهیال او د پروف د تصحیح چارې یې د عبدالواسع هڅیال له خوا تر سره شوي دي.

په دې اثر کې معاني، بیان، بدیع، قافیه، عروض، خطابه او دلیکنې اصول شرحه شوي دي.

د اثر په پیل کې د ادبي فنونو تعریف، غرض، موضوع، د ادبي فنونو وېش، د عربي او خراساني پوهانو له نظره د ادبپوهنې څانګې په ډېر لنډیز سره تشریح شوي دي، ورپسې د معاني علم، بلاغت او ډولونه یې، صراحت او ډولونه یې، معنا او ډولونه یې، مسند الیه او د هغه ډولونه، مسند، جمله، فعل، قصر، انشاء، فصل و وصل، ایجاز، اطناب، مساوات راغلي. په دې پسې جوښت بیا د بیان علم پیلیږي، چې تشبیه او د تشبیه ډولونه، مجاز، استعاره، کنایه او دکنایې ډولونه په کې تشریح او راوړل شوي دي.

له بیان وروسته د بدیع پر علم بحث پیلیږي ، لومړی معنوي صنعتونه او ورپسې لفظي صنعتونه یو په بل پسې په منظم ډول تشریح کوي او په هره برخه کې د پښتو شعرونو بېلګې راوړي .

له بدیع وروسته د قافیې علم تشریح شوی، بیا د عروضو پر علم هر اړخیزه رڼا اچول شوې ده ورپسې د پښتو شعر ولسي ډولونه لکه : لنډۍ ، لوبه ، سندرې، مربع ، رباعي، غزل ، بدله ،نیمکۍ ، بګتۍ او نارې د پښتو عروض تر سټر سرلیک لاندې تشریح شوي دي .

ورپسې د پښتو عروضي نظم ډولونه چې له نورو ژبو سره مشترک دي ، ډولونه لکه مربع ، مخمس ، رباعی ، قطعه ،مسدس ، مثنوي ، قصیده ، ترجیع بند ، مستزاد ، مسبع ، مثمن ، معشر راغلي او په هره برخه کې یې پښتو بېلګې راوړل شوي دي.

له دې وروسته وینا یا خطابه ، د خطابی ډولونه ، دلیکنې اصول ، دلیکنې لنډ تاریخ ،املا، د پښتو مخصوص توري ، په پښتو کې د(یا) ډولونه ، لیک نخښې، انشاء یا لیکنه ، دلیکنې مواد ، تصویر ، د تصویر اقسام او روایت په پای کې د منابعو او اخځلیکونه فهرست راغلی دی. (۱)

روح الادب :

دا کتاب پروفیسر سید تقویم الحق کاکاخېل لیکلی او په ۱۹۵۷ م کال د لومړي ځل لپاره چاپ شوی دی دا کتاب په دوهم ځل په ۱۹۸۷ م کال په پېښور کې په جدون پریس کې بیا هم چاپ شوی دی . کتاب ټولټال ۱۴۱ مخونه لري ، پر دې کتاب پروفیسر محمد نواز طایر سریزه لیکلې، بیا ورپسې د یو څو خبرې تر سرلیک لاندې سید تقویم الحق کاکاخېل خپلې خبرې لیکلي دي ، بیا د کتاب مقدمه راغلې

[1] عبدالروف بېنوا، ادبي فنون ، هېواد کلتوري ادبي ټولنه ، کندهار ، دوهم چاپ، ۱۳۸۲ل کال ، ۱–۲ مخونه .

ده .دا کتاب په دریوو برخو مشتمل دي چې په لومړۍ برخه کې د معاني پر علم ځینې بحثونه راغلي دي ، په دوهمه برخه کې بیا د بیان په علم او د هغو پر اجزاوو بحث شوی دی ، بیا وروسته په دریمه برخه کې د بدیع د علم په لفظي او معنوي صنایعو په زړه پورې بحث شوی . د کتاب په ټولو برخو کې د پښتو ژبې د شاعرانو شعرونه د بېلګو په توګه راوړل شوي دي ، کتاب په خاتمه پای ته رسیدلی دی .

موږ به اوس دلته ددې دواړو کتابونو (روح الادب او ادبي فنون) په اړه لنډې خبرې وکړو :

استاد بېنوا د خپل اثر (ادبي فنون) په مقدمه کې لیکلي :

« د ۱۳۲۳ ل کال په منځ کې د معارف د وزارت له خوا د ادبیاتو فاکولته تاسیس شوه ، د نورو ښوونکو په ډله کې زه هم ددې فاکولتې په معلمۍ سرلوړی شوم او وګمارل شوم ، چې د ادبي فنونو درس ورکړم .

دا کار په سرسري نظر اسانه ښکاري او ما ته هم ډېر ګران نه شو ښکاره ، ځکه چې په دې فنونو کې ډېر عربي او فارسي آثار لیکل شوي وو او له ښه مرغه زما مطالعه هم په کې جاري وه ، مګر کوم وخت چې مې په کار ګوتې پورې کړې ، د ډېرو مشکلاتو سره مخامخ شوم ، دا ځکه چې ما په پښتو درس ورکاوه او دا فنون مې باید د پښتو سره تطبیق کړي وای او یا مې د پښتو مخصوص فنون راځرګند کړي او راایستلي وای ، په دې باب کې چې یوه رساله هم نه ده لیکل شوې او نه یې مثالونه له ادبیاتو څخه راوتلي او ټاکل شوي دي ، ځکه نو ددې فنونو تطبیق ډېر وخت او زیار غوښت د یوه مثال د پاره به ما شپې او ورځې دېوانونه پرله اړول او ډېر فکر به مې کاوه .»(۱)

---

۱ عبدالروف بېنوا، ادبي فنون ، ۱-۲ مخونه .

داروانښاد بېنوا له اثر څخه لس کاله وروسته په پښتو ادب کې بل اثر د سید تسنیم الحق کاکاخېل له خوا د ادبي فنونو په اړه د( روح الادب ) په نامه ولیکل شو ، چې هغه د خپل اثر په اړه داسې څرګندونې کوي:

« هر یو محقق ته د خپل تحقیق موضوع ډېره مشکله ښکاري او خپل تحقیق ډېر قیمتي ، خو که د انصاف په نظر و کتی شي ، نو ما د تحقیق په یو داسې نااشنا صحرا کې قدم ایښی دی، چې زما نه مخکې ورته د بل چا مخه شوې نه ده ، نه ورکې چرته د پلونو نښې شته ، چې زه یې د ځان لپاره رهنما کړم او نه ورکې د لارې څه علامې چې د هغه په اسره د منزل مقصود تلاش وکړم ، زه یم او یو بې سره رېګستان دی ، په شاړو مېرو ، کندو کروندو او چتو ټېټو او غاړو مورګو کې چرته ځان ته د لارې درک لګوم او چې چرته مې څه ځای په سترګو خوږولګي ، هلته نښه وکړم او په مخه روان شم .

خو سره ددې ټولو مشکلاتو ما دې کار ته د همت ملا وتړله او د خدای په اسره مې په دې بې سره صحرا کې قدم کېښود ، بنده په وس پړ دی .... ما خپل کوشش پوره کړی دی ... زما دا جرئت مندانه اقدام ( به ) د یو لوی عالم او پوه ادیب دې طرف ته مخه کړي....» (۱)

د کاکاخېل له خبرو داسې معلومیږي ، چې نوموړي د اروانښاد بېنوا د ادبي فنونو اثر له سره نه و لیدلی ، ځکه که یې لیدلی وای ، هغه به هیڅکله هم داسې دعوه نه وای کړې او زما یقین دی ، چې د اروانښاد بېنوا حق به یې په بشپړه معنا اداء کړی وای .

---

[1] سید تسنیم الحق کاکاخیل ، روح الادب ، یونیورستي بک ایجنسي ، پېښور ، ۱۹۵۷ ، ۵– ۶ مخونه .

همدارنگه د کاکاخېل د اثر له لوستلو جوتیږي او موږ دا اټکل هم کولای شو، چې ښاغلي کاکاخېل د اروابناد بېنوا اثر تر دغه مهاله نه و لیدلی .

دا چې د اروابناد بېنوا اثر ( ادبي فنون) په ۱۳۲۶ لمریز کال چاپ شوی او د سید تسنیم الحق کاکاخېل اثر د ۱۹۵۷م کال د اکتوبر ۱۸ (د ۱۳۳۶ ) د میزان ۲۶ ) کال چاپ شوی ، نو موږ ویلای شو چې په پښتو ژبه او ادب کې اروابناد بېنوا لومړی شخص دی ، چې د ادبي فنونو او علومو په اړه یې نسبتاً سیستماتیکې څرګندونې کړي .

له اروښاد بېنوا وروسته د ادبي فنونو په برخه کې تر ټولو ستر حقدار لیکوال استاد پوهاند عبدالشکور رشاد دی ، چې په دې برخه کې یې کلونه کلونه د کابل په پوهنتون کې درسونه او لکچرونه ورکړي دي او د دې فن په بېلابېلو برخو کې یې بېلابېل آثار هم لیکلي ، چې زیاتره یې تر اوسه نه دي چاپ شوي ، که چېرته هغه چاپ شي په دې برخه کې به یوه لویه تشه ډکه شي .

اوس به راشو د استاد بېنوا د لیکلي ادبي فنون ځانګړنو ته :

- دغه اثر په پښتو ژبه کې د ادبي فنونو، لیکوالۍ او د ادب د اصنافو د پېژندنې لپاره یو بې ساری کتاب دی، چې تر دې دمه په دې کچ ومېچ بل داسې اثر نه دی کښل شوی او که کښل شوی هم دی ، د نوموړي اثر پیروي یې کړې او لا تر اوسه هم د استاد بېنوا اثر د ځانګړي ارزښت او اهمیت وړ دی .
- په دې کتاب کې د ادب د فنونو په اړه تقریباً ټولې خواوې په لنډیز سره معرفي شوي او راغلي دي ، چې په نورو آثارو کې بیا د دغو فنونو یوه یا دوه خواوې راغلي دي .
- د دغه کتاب لوستل د ادبیاتو له زده کوونکو سره داسې مرسته کوي لکه له ړوند سره چې لکړه او امسا مرسته کوي ، ړوند له لکړې پرته له ستونزو سره

مخامخ وي ، نو که یو څوک له ادب سره سروکار لري ، د دې کتاب زده کړه ورته تر ټولو زیاته اړینه ده .

- دا کتاب نه یوازې د فصحاحت او بلاغت د اصولو په اړه بحثونه لري ، بلکې نوو لیکوالو او د پښتو ژبې زده کوونکو ته د املاء او انشاء په برخه کې هم ښې لارښووني لري او لوستل او زده کول یې د ادب د زده کوونکو لپاره خاص اهمیت لري .

له دې پرته دا کتاب نورې ډېرې ښېګڼې او ځانګړ تیاوې هم لري ، چې دلته پرې موږ په ډېر لنډیز سره خبرې وکړې .

زه د دې کتاب لوستل د پښتو ژبې او ادب د ټولو زده کوونکو لپاره اساسي او اړین بولم او سپارښتنه کوم چې دغه کتاب ولولي او د خپلې ژبې او ادب د ارتقاء او پرمختګ لپاره ترې نوې تجربې راخرګندې او عملي کړي .

د بدیع په علم کې له استاد بېنوا او ښاغلي تسنیم الحق کاکا خېل وروسته تر ډېرشو زیات آثار تالیف شوي، چې دلته یې د ځینو یوازې نومونه راوړو :

- ❖ پښتو ادب (عبدالحلیم اثر )
- ❖ بدیع او بیان(( دلسم او یوولسم ټولګیو لپاره ))پوهندوی نور احمد شاکر
- ❖ زر کاڼي (مشتاق مجروح یوسفزی)
- ❖ فضلیات (فضل میر خټک)
- ❖ فصاحت او بلاغت (ښاغلی فاروقي)
- ❖ ټپه او صنعتونه (داور خان داود ؟)
- ❖ بدیع او بیان (محمد سرور وکیلي )
- ❖ بدیع پوهنه (استاد محمداجان حقپال)
- ❖ بدیع او د پښتو شعر (اورنګزیب ارشاد)

- خوږه ژبه (عبدالرحیم مسلم دوست)
- د بدیع فن او پښتو شاعري (محمد ابراهیم همکار)
- ادبي فنون (الحاج انجینر محمد ظاهر بارکزی)
- ادبي ارمغان (حاجي فضل محمد پنهان)
- ادبي فنون (بدیع ، بیان) (پوهندوی محمد اقاشیرزاد)
- د بهایي جان په اشعارو کې د بدیع او بیان پلوشې (څېړنپوه علی محمد منګل)
- په لنډیو کې تلمیح او تاریخي سرچینې (څېړنپوه علي محمد منګل)
- زېږي ګلونه (څېړنپوه علي محمد منګل)
- د خوشال خټک اشعار د قافیې فورم او بدیعي ښکلاله نظره (څېړندوی عبدالظاهر شکیب)
- ادبي جوړښتونه (محمود مرهون)
- زرچاڼ (سید نظیم سیدي) او داسې نور

پر پورته اثارو سربېره ځینې نور اثر هم تر دې دمه دبدیع دعلم ادبي صنایعو په تشریح او توضیح کې لیکل شوي دي ، چې ما یې یواځې پورته مشت نمونه خروار یاد کړل .

پایله:

په دې لیکنه کې په پښتو ژبه کې د ادبي فنونو او په ځانګړي ډول د بدیع د علم په ښنګه والي ،څومره والي او نورواړوندو مسایلو باندې ما د خپلې پوهي تر کچې یو څه معلومات وړاندې کړي دي ، تر څو لوستونکي او مینه وال وکولای شي په اسانه توګه د ادبي فنونو او په ځانګړي ډول دبدیع دعلم په اړه معلومات تر لاسه کړي . په دې لیکنه تر ډېره بریده هڅه شوې چې د ادبي فنونو په څانګو او پېژندنه لنډې خبرې وشي او وروسته بیا لوستونکو ته د بدیع د علم په اړه په عربي ادب کې معلومات وړاندې

شوي او دا جوته شوې چې په عربي ادب کې د بديع علم څرنګه رامنځ ته شو او څنګه يې ورو ورو د انکشاف او پرمختګ پړاوونه ووهل ، همدارنګه دا هم جوته شوې ده چې د بديع د علم په اړه په پښتو ادب کې لومړی سيستماتيک کار چا او څرنګه پيل کړ او د هغې اهميت هم په ګوته شوی دی .

ددې مقالې په لوستلو سره لوستونکي کولای شي په اړونده موضوع کې د ادبي فنونو او د بديع د علم په اړه لومړني معلومات تر لاسه کړي ، چې دا معلومات به په دې برخه کې نورو پراخه څېړنو ته لار پرانيزي .

**اخځليکونه**:


۱. قرآن کريم .سورة البقره، ۱۱۷ آيه، سورة الاحقاف، ۱۹ آيه.
۲. اسفنديارپور، ډاکټر هوشمند: عروسان سخن، دوهم چاپ، ايران، تهران، ۱۳۸۴ ل کال .
۳. انوشه ، حسن. فرهنګامۀ ادبي فارسي، په اهتمام، جلد دوم، ارشاد اسلامي و فرهنګ وزارت ايران _ تهران، ۱۳۸۱ ل کال .
۴. بېنوا، عبدالروف. ادبي فنون ، هېواد کلتوري ادبي ټولنه ، کندهار ، دوهم چاپ، ۱۳۸۲ ل کال.
۵. پښتو _ پښتو تشرېحي قاموس، لومړی ټوک، د افغانستان د علومو اکاډمي، دژبو او ادبياتو مرکز، دژبپوهنې څانګه، ۱۳۵۸ ل کال .
٦. خټک ، خوشال خان . کليات، د عبدالقيوم مشوانې په زيار، دوهم چاپ، دانش خپرندويه ټولنه _ پېښور، ۱۳۸۷ ل کال .
۷. رادفر، ډاکټر ابوالقاسم : فرهنګ بلاغی ادبي، لومړی ټوک، تهران، ۱۳٦۸ ل کال .

۸. رشاد، پوهاند عبدالشکور: بدیع، د ادبي فنونو درسي لکچرنوټ، کابل پوهنتون، دژبو او ادبیاتو پوهنځی _ پښتو څانګه، ۱۳۴۷ ل کال.
۹. زیات، احمد حسن: تاریخ ادب عربي، (ژباړن: محمد نعیم صدیقي) _ لاهور.
۱۰. سعدیان، عبدالحسین: دایرة المعارف ادبي، تهران، ۱۳۶۳ ل کال.
۱۱. شکیب، عبدالظاهر: د پیرمحمد کاکړ او شمس الدین کاکړ په دیوانونو کې بدیعي صنایع (ناچاپ اثر)، د افغانستان د علومو اکاډمي، د پښتو څېړنو نړیوال مرکز، ۱۳۸۴ ل کال.
۱۲. شیرزاد، پوهاند پښتون اقا. ادبي فنون، ناچاپ مقاله.
۱۳. شینواری، خان سلام: د ادبي فنونو درسي لکچرنوټ، ننګرهار پوهنتون، د ژبو او ادبیاتو پوهنځی، ۱۳۷۲ ل کال.
۱۴. قویم، پوهاند دکتور عبدالقیوم. نقد ادبي، انتشارات کتاب، پېښور.
۱۵. کاکاخیل، سید تسنیم الحق. روح الادب، یونیورسټي بک ایجنسي، پېښور، ۱۹۵۷.
۱۶. گوهر، ډاکټر اس ام زیډ. اردو مین راپور تاژنګاري فن اور ارتقا، سرشتې پبلیکشنز محله کمره، مظفر پور، بهار هندوستان.
۱۷. میمنت (ذوالقدر)، میر صادقي. واژه نامهٔ هنر شاعري، دوهم چاپ، تهران، ۱۳۷۶ ل کال.

څېړندوی سيدنظيم سيدي

# په پښتو ادب کې ناول ليکنه
# «پېژندنه، راتګ او ځلېدنه»

د ناول د پېژند په اړه خورا ډېرو پوهانو خپل نظرونه او ليدلوري څرګند کړي چې موږ به يې په لنډه توګه ځينو ته نغوته وکړو:

ناول له آره لاتينې کلمه ده، چې په لغت کې نوي، تازه، په زړه پورې، عجيبه، ښايسته او ښکلي شي ته ويل کېږي او په ادبي اصطلاح کې هغې اوږدې کيسې ته ويل کېږي چې د ژوند پر محور چورلي يا په بله وينا: د ناول معنا نوې، عجيبه او تازه ده، خو په اصطلاح کې بيا هغه کيسه ده، چې موضوع يې انساني ژوند وي. (۷: ۶)

ځينې يې بيا داسې را پېژني: ناول يوه داسې نثري کيسه ده، چې د ژوندېو مسئلو ترجماني په فني پيرايه کې وکړي او د کردار، سپنس، نظريه حيات، پلاټ، ماحول و غيره فني توکي په کې په خپل ځای په توازن سره راشي او په عين کې حال کې د ليکوال پيغام هم په کې ورسېږي. (۴: ۳۰ – ۳۱)

خو کاندید اکاډمیسین روهي بیا وایي چې: پر ناول سربېره د ناولټ په نامه هم نسبتاً کوچنی داستان شته، چې هغه ته وړوکی ناول یا ناولټ وایي، دا ډول داستان له ناول څخه لنډ او له لنډې کیسې څخه اوږد وي. (۳: ۲۱)

که پورتنیو تعریفونو ته ځیر شو، نو په ټولو کې پر پېښو داسې ټینګار کېږي چې دژوند ترجماني وکړي، خو ځینې اوسني پوهان بیا په دې ګروهه دي، چې ډېر ځله د ناول او یا دې ته ورته ژانرونو کیسې حقیقي نه وي او خیالي وي، په داسې حال کې، چې یوه داسې لویه خیالي کیسه پیدا کول او بیا ورته نورې ورې کیسې پیدا کول له حقیقته او ژونده لرې کار دی او له پېژند سره یې هم اړخ نه لګوي؛ نو غوره به دا وي، چې وواېو دژوند په یو پېر کې به هرو مرو دا کیسه په لړ بدلون سره پېښه شوې وي، نو چې کله مو دا خبره ومنله بیا بنایي دا هم ومنو، چې ناول هغه نثري هنري کیسه ده، چې د رومان په کور کې زېږېدلې او لوستونکي د یو چا دژوند هغو پېښو ته ځیر کوي چې په ربښتینې معنا یې لیکل او له لوستونکو سره شریکول غواړي، خو دا د لیکوال په هنر او مهارت پورې اړه لري، چې څنګه ورسره ورې پېښې داسې اوډي، چې هم د کیسې زړه راښکون زیات شي او هم لوستونکی پر هنري والي سربېره یوې موخې ته ورسوي. البته دا څرګنده خبره ده چې د کیسو پایلې په دوه ډوله وي، چې په یو ډول کې یې لیکوال نېغ په نېغه خپل پیغام رسوي او په بل کې یواځې ورته نغوته کوي او په اصطلاح لوستونکی په هوا کې داسې پرېږدي چې هم ځانته لاره پیدا کاندي او هم په ځیرو سترګیو د لیکوال جاجونه درک کاندي.

که له دې خبرو را تېر شو او د ناول پیدایښت ته ځیر شو؛ نو په دې اړه له دوه ډوله نظریاتو سره مخامخ کېږو، یو دا چې ټولې کیسې لومړی پلا په دینې کتابونو او تقدساتو کې خوندي شوي او له هماغه وخته یې پیلامه پیل کېږي او دوهم نظر دا دی چې دغه د دیني متونو او تقدساتو کیسې له ننیو کیسو سره ډېر اړخ نه لګوي او نه هم

د ننني ناول د جوړښت اساسي توکي په کې د تطبیق وړ دي، نو ځکه پر لومړي نظر ډېر تاکید کول هم نه دي په کار؛ خو که حقیقت ته ځیر شو، موږ چې د کوم ژانر/ ناول یادونه کوو په حقیقت کې دا کیسې تر حقیقته خیال ډېر لري او په دیني متونو کې د دې خبرې زغم او ویل د تامل خبره څه، چې د کفر خبره ده.

که د دین له زاویې د کیسو له بحث څخه تېر شو او لږ را وروسته پېر له نظره تېر کړو بیا هم یو څه د تامل خبرې شته. په دې معنا ځینې څېړونکي په دې اند دي چې د مصر د خوفو کورنۍ ځینو اولادونو به د پلرونو لپاره کیسې پنځولې او هغه کیسې له ننتیو کیسو سره ډېر اړخ لګوي. له دغو کیسو را وروسته بیا د هندیانو کیسې دي، چې په خپل وخت کې له پوره شهرت نه برخمنې وې. په دې کیسو پسې د یونانیانو کیسې دي، چې په پښتو ادب کې تر ننه پورې د مطالعې ځای لري او د هومر کیسې لا هم د محصلینو تر غوږونو رسول کېږي. له دغو کیسو وروسته بیا د لقمان حکیم کیسې دي چې په بسنده توګه پرېکړې او نصیحتونه لري او همداسې په وار سره په پښتو ادب کې د میر احمدشاه رضواني او دې ته ورته د نورو لیکوالو کیسې دي چې د سوداګرو له خوا د خپلو ګټو لپاره چاپ شوي، چې کله یې پرې د لنډو کیسو او کله یې هم پرې د ناول نوم ونه ایښي، په داسې حال کې، چې له ننۍ لنډې کیسې او ناول سره هېڅ ډول جوړښت او تړاو نه لري او نه ورته د دغو ژانرونو نومونه ورکولای شو او غوره هم دا ده، چې ډېر بحث پرې ونه کړو.

د پوهانو په اند ناول ځان ته ځانګړنې او د جوړښت اساسي توکي لري، چې پورتني هغه یو یې هم دا ځانګړنې نه لري؛ نو ځکه وایي: چې ناول لومړۍ پلا په لویدیځ (یورپ) کې په شپاړسمه پېړۍ کې وپنځېد، چې نسبتاً د خلکو له هر کلي سره مخامخ شو؛ خو په اتلسمه او نولسمه پېړۍ کې یې په بشپړه توګه په بشري ټولنه کې خپل ځای پیدا کړ او نه یوازې په خپل کلي/ لویدیځ کې پاتې شو؛ بلکې

هرې ټولنې ته یې د هماغې ټولنې د فرهنګي او دودیزو جامو په اغوستلو سره د خپلې ښکلا ننداره ځرګنده کړه.

د پوهانو په اند د ناول لومړنی لیکوال د اسپانیې مشهور لیکوال سروانټس دی، چې د شپاړسمې پېړۍ په دوهمه نیمایي کې یې د (دون کیشوت) په نوم د بشریت لومړنی ناول په زندان کې وکېښ، چې پر دغه کار یې د خپلې ټولنې پر لیکوالو سربېره الماني لیکوال هم خوښ کړل او هاینه بیا ورته نړیوال شهرت ورکړ. (۴: ۱۲۳)

ځینې پوهان بیا په دې ګروهه دي چې د ناول بنسټ لومړی پلا سروانټس نه؛ بلکې هغو لسو تنو ایټالیوي لیکوالو اېښی، چې له کوره د چکر لپاره په سفر تللي وو او وروسته د فیکشن کره کټونکې ډلې یو تن بوکاشیو د ډیکامیرون په نامه کتاب چاپ کړ او دغو کیسو ته یې د ناویلا (Novella) نوم ورکړ چې له اره ایټالوي کلمه ده، خو وروسته یې په انګریزۍ کې د ناول (Navel) په نامه شهرت وموند او تر ننه پورې په همدې نامه یادېږي.

خو که حقیقت ته ځیر شو، نو د سروانټس پلویان ډېر دي او کابو ډېری لیکوال په همدې نظر دي، چې د ناول لومړنی لیکوال سروانټس دی او دلایل یې هم د منطق پر تله برابر دي.

که له نړیوال تاریخ څخه را تېر شو او د پښتو ناولونو تاریخ ته راشو بیا هم د نظرونو له اختلافونو سره مخامخ کېږو، په دې معنا ناول پښتو ژبې ته د اردو ادب له لارې د ژباړې په ډول راغلی چې لومړني هغه یې (مراة العروس) چې پښتو شوی نوم یې (نقش نګین) او (توبة النصوح) دي. دا دواړه ن د اردو ژبې د لیکوال او شاعر ډپټي نذیر احمد خان ناولونه دي، چې لومړی هغه یې میاحسیب ګل کاکاخېل او دوهم یې میامحمدیوسف کاکاخېل د نولسمې او شلمۍ پېړۍ په لومړۍ نیمایي کې ژباړلي او چاپ کړي دي. (۱: ۱۲)

خو د دې دواړو د لومړیتوب په اړه هم د لیکوالو ترمنځ اختلاف شته، چې د سپیناوي لپاره یې د زرین انځور نظر ته ځیر کېږو: «... د دې پر بنسټ نقش نګین په ۱۲۹۳ هـ .ق کال کې ژباړل شوی.

لیدل کېږي چې نقش نګین میاحسیب ګل کاکاخېل له خپلې مړینې څخه ۱۲ کاله وړاندې راژباړلی او د میامحمدیوسف کاکاخېل "توبة النصوح" له "نقش نګین" څخه دېرش کاله وروسته له اردو څخه راژباړل شوی او چاپ شوی دی، له دې څخه ښکاري چې نقش نګین د مراة العروس د اردو متن له چاپ څخه پنځه کاله وروسته په ۱۸۷۴ م. کال کې میا حسیب ګل راژباړلی دی. » (۱ : ۲۷)

د ښاغلي انځور او ځینو نورو څېړونکو له څېړنو څخه څرګندېږي چې د پښتو ژبې لومړنی راژباړل شوی ناول مراة العروس یا نقش نګین دی او دوهم یې توبة النصوح دی، خو توبة النصوح د ژباړې له کال سره سم په (۱۹۰۴ م) کال کې چاپ شوی او مراة العروس پر (۱۹۵۷م) کال چاپ شوی چې همدغې موضوع د لیکوالو ترمنځ اختلاف پیدا کړی او ډېری لیکوال په دې اند دي، چې لومړنی ژباړل شوی ناول نقش نګین نه، بلکې توبة النصوح دی، ځکه چې وړاندې چاپ شوی او نقش نګین چې وروسته چاپ شوی، نو دوهم راژباړل شوی ناول دی، په داسې حال کې، چې خبره اپوته ده.

له دغو ژباړو وروسته د لومړي ځل لپاره پښتو ناول اروا ښاد سید راحت الله راحت زاخېلي ولیکه، چې نوم یې دی «نتیجه عشق» یا ناول د ماه رخې. دغه ناول پر کال ۱۹۱۰ زېږدیز کې چاپ شو، چې د ډېر محبوبیت له امله دوهم ځلي په کابل کې د کابل پوهنتون چاپ او د چاپ چارې او سریزه یې لطیف بهاند ترسره کړې او د ناول د ارزښت او هر کلي په اړه یې لازمې خبرې په کې وکړې. (۶: ۳۱۵)

له ښاغلي زاخېلي وروسته صاحبزاده محمدادریس، اشرف دراني، امیر حمزه شینواري، رشید علي دهقان او داسې نورو ښاغلو د ناول لیکل پیل کړل او دا ژانر یې هم پښتو کړاو هم یې ښه وځلاوه.

له پښتونخوا وروسته په افغانستان کې هم د ناول لیکنې لړۍ پیل شوه چې پیلامه یې برهان الدین کشککي په (پټه مینه – ۱۳۱۷ لمریز) کال کې وکړه. (۴: ۱۳۱)

خو ځینې لیکوال په افغانستان کې د ناول لیکنې لومړنی لیکوال محمود طرزي او ځینې یې هم نور محمد تره کی بولي، په دې اړه ډاکټر حنیف خلیل وايي: "د مرحوم راحت زاخېلي نه پس تر ډېرې مودې د پښتو ناول چا ونه لیکلو، په کال ۱۹۳۹ کې نور محمدتره کي په افغانستان کې یو ناول دبې تربیته زوی په نامه ولیکلو، چې په کابل مجله کې یې قسطوار چاپ کړو.... ". (۲: ۴۶)

ښاغلی حنیف نه یوازې دافغانستان د لومړني ناول لیکوال په اړه نه دی ځیر شوی؛ بلکې د زاخېلي ناول د ماه رخې د چاپ کال هم (۱۹۱۲) زېږدیز بولي، په داسې حال کې، چې دا خبره ټولو څېړونکو په شواهدو زباد کړې او دلته یې بیا تکرار ته اړتیا نه لیدل کېږي، چې یاد ناول پر (۱۹۱۰) زېږدیز کال چاپ شوی دی.

په هر حال! له ارواښاد کشککي وروسته دا ژانر په افغانستان کې هم د لیکوالو د پام وړ وګرځید او په وار سره ښاغلو محمدرفیق قانع، عبدالروف قتیل، نور محمد تره کي، غوث خیبري، کبرا مظهري او نورو لیکوالو د ناول په لیکلو پیل وکړ چې ډېره ښه او کامیابه تجربه وه او له نېکه مرغه نن په پښتو ادب کې داسې معیاري او هنري ناولونه لیکل کېږي، چې آن له نړیوالو ناولونو سره سیالي کولای شي، نو د دې لپاره، چې د ناول د جوړښت اساسي توکو ته مو هم نغوته کړې وي لاندې ټکو ته به ځیر شو:

۱- **کیسه**: کیسه د ناول د جوړښت لومړنی عنصر دی چې له بېلابېلو پېښو څخه جوړه شوې ده.

په کیسه کې تر ټولو مهمه مسئله حقیقت ته د نږدېوالي ده، یعنې کله چې ناول لیکوال کیسه غوره کوي باید حقیقت او یا حقیقت ته نږدې وي، چې لوستونکی په اسانۍ پرې قانع کړای شي.

د کیسې په اړه جورج. هـ. سیزر وایي: «هره کیسه چې تاسې لیکئ باید رښتیا وي او یا تر یوې اندازې رښتیا وي، البته رښتینوالی یې هم بېلابېلې درجې لري، که چېرې په یوه کیسه کې د رښتینې مینې، یوائیتوب، خوند، سرلوړۍ، وېرې، ډار او نورو احساس نه وي، نو دا تر ټولو خورا بد ډول درواغ دي چې هېڅ چا ته د منلو او زغملو وړ نه دي». (۵: ۶۹)

۲- **پلاټ، طرحه، اډانه**: په انګرېزي کې د پلاټ معنا ده: د ځمکې نقشه یا د یوې ودانۍ لپاره جوړه شوې نقشه، د ځمکې یوه ټوټه، چې طرحه ورته جوړېږي. پلاټ ته چې په پښتو کې اډانه یا طرحه وایي د ناول هغه برخه ده چې ور څخه د کیسې خاکه یا سکلېټ جوړېږي چې په کې د ناول هره برخه په جلا جلا توګه انځورېږي او بیا یې لیکوال د هنر په زور سینګاروي.

۳- **کرکټرونه، لوبغاړي یا پرسوناژ**: له کرکټر څخه هدف هغه اشخاص او لوبغاړي دي چې د ناول کیسه او کیسې پرې څرخي، ډېر ځله په دغو کرکټرونو کې یو یا دوه تنه مرکزي رول لري، لکه یو اتل او بله اتله وي او پاتې کسانو د ناول پېښې په حقیقي یا ضمني توګه رواني کړې وي.

ناول لیکوال ته بویه چې د کرکټر په ټاکنه کې ډېر محتاطانه عمل وکړي او کرکټرونه له کردارونو سره سم انتخاب کاندي.

۴- **پېښه او پېښې**: ناول یا داستان په حقیقت کې د بېلابېلو پېښو ټولګه ده، چې یوه یې مرکزي او نورې یې فرعي وي، چې پر مرکزي پېښې چورلي. ادیبوهان وايي په ناول کې تر ټولو ضروري اصلي پېښه ده، ځکه پېښه د ناول روح ګڼل کېږي، پېښه ناول له ولاړ حالت نه د متحرک حالت خوا ته بيايي او لوستونکی د پرله پسې زړه راښکون او کشش خوا ته بیا یې او هیله من وي، چې هم د پېښې په لامل ځان پوه کړي او هم د خپل مطلوب کس په برخلیک او له پېښې څخه د خلاصون پر علتونو پوه شي.

۵- **خبرې اترې، ډیالوګ یا مکالمه**: په ناول کې خبرې اترې یا ډیالوګونه هغه څه دي چې په وسیله یې ناول هنري او په زړه پورې کېږي او په ورته وخت کې د لوبغاړي د شخصیت پر څرګندتیا سربېره د ناول لوری هم روانوي. په دې معنا ډېر ځله خبرې اترې د دې لامل کېږي چې د لوستونکو جذبه زیاته شي، هنري تومنه یې را وپارېږي او آن لیکوال ته د لیکلو قوت او الفاظ هم ور الهام کړي.

۶- **صحنه، منظره کښنه**: صحنه هغه مهال یا شیبې دي چې ناول په کې پېښېږي او لیکوال له دغو شیبو څخه نهایت اعظمي ګټه پورته کوي او دومره په هنري په جدیت یا هیجان سره صحنه جوړونه کوي چې لوستونکی هم له ځان سره د جدیت او حیرانتیا خواته بیایي، د مثال په توګه: تاسې وینئ، چې ستاسې په منځ کې په یو تن باندې امنیتي ځواکونه شکمن کېږي او ځاري یې، خو تاسې هم دغه ښار او هغه تن ته ځیر کېږئ، نو اوس فکر وکړئ که چېرې هغه سړی ځانمرګی وي او تاسې هم پرې پوه شئ، ایا ستاسې په رواني حالت کې به بدلون رانه شي او چې کله ترې خلاصون پیدا

کړئ او وروسته څوک همداسې یوه شېبه تاسې ته انځوروي، نو ستاسې په روان کې به بدلون رانه شي؟

۷- **تلوسه ، غوټه ، سپنس**: تلوسه یا غوټه هغه غیرمترقبه پېښه یا کړنه ده، چې په لوستلو یې لوستونکي ته په لسګونو پوښتنې پیدا کېږي او دلته‌ون او ځواب په موخه یې ډېر بې واره وي، البته کله ناکله داسې کېږي چې له ځان سره یې د حل لار هم په پام کې ونیسي، خو ډېر ځله په انسان کې دلته‌ون او تجسس حس را پاروي او د همدغه حس دمونډنې په موخه د خپلې ورکې په لټه کې وي، ترڅو چې یې ځواب (مثبت یا منفي) ومومي.

۸- **ژبه او کارونه یې**: له ژبې څخه هدف دا دی، چې د لیکوال ژبه هنري ده، ساده ده او که اخباري. په دې وروستیو کې مورډېر ناولونه ګورو چې ژبه یې نه یوازې هنري نه ده، بلکې خسته کنه او زړه نیوونکې هم ده، خو دا چې د بناغلي یا اغلې په نامه لیکواله غواړي د شهرت په سمندر ور ګډ شي، نو بس لیکل کوي او پیل هم له هنري نثر نه، په داسې حال کې چې په لیکوالۍ کې تر ټولو سخته او ستونزمنه چاره هنري نثر لیکنه ده، ځکه هغه ځانته ور تیا، الهام او ریاضت غواړي، چې د هر چا له وسې پوره نه ده.

۹- **غوټه پرانیستل**: دا نو په ناول کې هغه برخه ده، چې په اخره کې یې راځي، په دې معنا په ناول کې کیسه لیکوال غوټې، تلوسې او پوښتنې پیدا کړې وي او په دې برخه کې ورو ورو یوه یوه پرانیزي او د لوستونکي پوښتنو ته د پای ټکی ږدي، بنایي ډېر ځله دغه پرانیسته د لوستونکي په زړه هم نه وي، خو لیکوال چې کومه موخه لري په دې وسیله ځان هماغې ته رسول غواړي او ډېر ځله لوستونکی د انسان فکري تګلوری له همدغه ځایه هم معلومولای شي.

۱۰- **پیغام او موخه**: ټولې ټولنیزې، سیاسي، ادبي او هنري لیکنې د یوې موخې او هدف لپاره کېږي، چې دغه هدف ډېر ځله د لیکوال پر شخصي ملاحظې ولاړ وي، دغه ملاحظه شونې ده، چې هېوادنۍ وي، شونې ده، چې پر اسلامي روحیه وي او شونې ده، چې د خپل شخصي موخې لپاره وي، خو چې د هرې موخې لپاره وي بیا هم لیکوال خپله موخه په کې بیانول غواړي او دغه هدف کله په ښکاره او بربنډو الفاظو بیانوي او کله یې هم په پوښونو کې داسې پوښلی وي، چې له هنرمن لوستونکي پرته عادي لوستونکی په سختۍ پرې پوهېدای شي.

نو که خبره را ټوله کړو د ناول د جوړښت لپاره دا او دې ته ورته توکي اړین دي، چې د لیکلو پر مهال یې لیکوالو ته پرې پوهېدل حتمي دي او که چېرې څوک ناول لیکي او په داخلي جوړښتونو یې خبر نه وي، نو د ناول په نامه به یې یو څه لیکلي وي، خو دا چې ناول به وي او که نه او دا چې لوستونکي او مینه وال به لري او که نه؟ هغه پوښتنې دي، چې ډېر ژر به یې خپله هم ځان ته ځواب پیدا کړو.

**اخځونه**:


۱- انځور، زرین: پښتو معاصر داستاني ادبیات، جرمني، د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه، ۱۳۹۳ لمریز.

۲- خلیل، حنیف: پښتو ناول تحقیقي او تنقیدي جایزه، پېښور، باګرام پښتو ادبي جرګه، ۲۰۰۰ م.

۳- روهي، محمدصدیق: پښتو معاصر ادبیات، کابل، د افغانستان ټایمز پبلکیشن سنټر، ۱۳۹۰ لمریز.

۴- سيدي، سيدنظيم: ناول به څنګه ليکو؟، ننګرهار، مومندخپرندويه ټولنه، ۱۳۸۹ لمريز.
۵- سيدي، سيدنظيم: ناول اوپه پښتو ادب کې د هغه پرمختيايي بهير، کابل، د افغانستان د علومو اکاډمي، عدالت مطبعه، . ۱۳۸۹ لمريز.
٦- کتوزی، سحرګل سحر: پښتو ادب پوهنه، پېښور، يونيورسټي پبلشرز.
۷- هاشمي، رفيع الدين: ادبي ژانرونه، د سرمحقق عبدالرحيم ځدراڼ ژباړه، پېښور، الازهرخپرندويه ټولنه، ۱۳۸۵ لمريز.

پوهندوی بخت میر وزیري

# ارزاني خویشکی او تصوف

**سریزه**:

ملا ارزاني خویشکی د بایزد روښان مشر خلیفه او د روښاني طریقت تر ټولو لوی مبلغ او مفسر دی. نوموړی لوی عالم او د وحدت الوجود په رموزو او اسرار و خبر او اګاه شخصیت و.

دا چې د پښتنو تاریخ زرګونه کلونه قدامت لري، د خویشکو د نسب سلسله، د خویشکو موجوده استوګنځایونه، د نومیالي شاعر ارزاني خویشکي نوم، زیږېدنه، مړینه، د ارزاني اثار او افکار، روښاني تصوف او ارزانی، د ارزاني په اثارو کې پښتو او پښتونولي او په پایله کې د ارزاني په اثارو کې فن ته اشاره شوې ده.

**د خویشکو د نسب سلسله**:

دا چې د پښتنو تاریخ په زرګونو کلونو قدامت لري، خو د شجرو په حواله د دوی تاریخ له قیس عبدالرشید نه شروع کیږي، چا چې د اسلام په ابتدایي دور کې ژوند درلود او د قیس پر ځای هغه ته د عبدالرشید نوم هم ورکړ شوی دی. د قیس عبدالرشید درې زامن وو.

۱. سړبن
۲. بېټنی
۳. غرغښت

ویل کیږي له پورته درې کسانو څخه د پښتنو ټولې قبیلې او شجرې جوړې شوي دي. ویل شوي چې لومړي سړي؛ یعنی سړبن دوه زامن درلودل یو یې شرخبون (شرف الدین) او بل یې خرشبون (خیرالدین) نومېدل، شرخبون درې زامن درلودل. یو یې (کند) بل یې (ځمند) او دریم یې (کاسی یا کانسی) بلل کېدل. په دې دریو کسانو کې (ځمند) چې زموږ د څېړنې موخه ده (پنځه) زامن درلودل.

۱. خویشکی
۲. محمدزی
۳. کتانی
۴. نکبي زی
۵. نوخی

باید یادونه وشي چې د پښتنو د نسب د سلسلې په پورته څېړنه کې د څېړونکو تر منځ اختلاف هم شته چې زیاتې څېړنې ته ضرورت لري، زه یې دلته تر دې زیات ضرورت نه وینم.

**د خویشکو موجوده استوګنځایونه**:

زه د خوېشکو د هغو ښارونو او کلو یادونه کوم چې دوی په کې په زیات شمېر سره استوګنه لري.

۱. د پنجاب قصور:
۲. ټانډه او هیرووال:
۳. د هند خورجه:

۴. دغربي پنجاب میاچنو:
۵. بنون او دیره اسماعیل خان:
۶. دافغانستان غوربند:
۷. بهاولپور:
۸. چارسده:
۹. نوښار:

دنومیالي شاعر ارزاني خوېشکي (نوم – زېږېدنه او مړینه):

**الف - نوم**:

دارزاني خوېشکي دنوم په برخه کې زموږ ادبي څېړونکو مختلف او بېلابېل نظرونه وړاندې کړي دي چې ځینې یې په دې ډول دي:

قاضي عبدالحلیم اثر دده دنوم په برخه کې لیکي: (ارزاني په خپله یوه قصیده کې لیکي: چې دده نوم محمد عزیز دی).

دوست محمد کامل دارزاني دلاندې شعرونو پر اساس دده نوم (عزیز) بولي لکه چې لیکي:

ارزاني په پښتو ژبه
له زړه وکېښ دا شعر
په سربن کې دی څمند دی
او په خوېشکي کې عزیز

قلندر مومند په خپل کتاب د (خیرالبیان تنقیدي مطالعه) او همیش خلیل په خپل کتاب (ورکه خزانه) کې چې دارزاني کوم شعر را نقل کړی دی، دده نوم (عزیز) او د قبیلې نوم یې (عزیز زی) بللی دی.

لکه:

دی په خویشکي کې عزیز
د والد نوم یې برهان دی

پروفیسر محمد افضل رضا (پښتو غزل) کې د ارزاني نوم (محمد عزیز) لیکلی دی. همدا شان ډاکټر راج ولي شاه خټک د دوست محمد خان کامل د تحقیق پر اساس (د پښتو ادبي تحریکونه) کې د ده نوم (عزیز) بولي.

زلمی هیواد مل ( په هند کې د پښتو ژبې او ادبیاتو د ایجاد او ودې پړاوونه) کې د ارزاني نوم هم ارزاني لیکي او نه (محمد عزیز ارزاني).

د دې پورته څېړنې نتیجه دا ده چې د (ارزاني) نوم نه (عزیز) دی، نه (عزیر) او نه (ارزاني) دی، ځکه چې په دې برخه کې نه د ده له کلیاتو څخه او نه نور خارجي شواهد لرو. ارزاني د ده تخلص دی او موږ دی یوازې په دې تخلص سره پېژنو.

**ب - زېږېدنه او ځای**:

تر کومه ځایه چې د ارزاني د زوکړې خبره ده په دې برخه کې په پوره یقین سره چا څه نه دي ویلي او زموږ ادبي تاریخونه او تذکرې هم په دې برخه کې غلې او چوپ پاتې شوې دي. البته (اولیایي قصور) د (اخبار الاولیا...) په حواله د ارزاني د زوکړې په هکله دومره لیکي چې د ده زوکړه په ولایت کې شوې ده، چې اکثره تاریخونه په دې باره کې یوه خوله دي.

**ج- مړینه**:

د پیر روښان په خلیفه ګانو کې خلیفه ارزاني هغه څوک وو، چې د پادشاهانو او امیرانو په ځای عام ولس ته د معرفت او د توحید د علم د ورښودلو لپاره چې د پښتو نه علاوه د عربي، فارسي او هندي ژبې عالم او فاضل شخص وو هند ته لېږلی و. د ارزاني د مړینې په برخه کې بېلابېل روایتونه راغلي دي، خو په (۲۰۰۲ ع) م کې د (بي بي سي) په اردو سرویس

کې د عبدالخالق رشید د یوې څېړنې او د نعیمه مهجور د پیشکش ترمخه د هند د بهار صوبې په (پټنه) نومي ښار کې د ده قبر او مشهور زیارت دی او د دغه قبر په کتیبه باندې د ده د مړینې کال (۱۰۲۸هـ) لیکل شوی دی[۱].

## د ارزاني اثار او افکار:

۱. **پښتو دیوان**:

ارزاني د پښتو ژبې یو لوی دیوان لري، د ارزاني دا دیوان تقریباً (شپږ زره) شعرونه لري. تقریباً دا ټول (شپږ زره) شعرونه که غزل دي که رباعي د (اتو) سیلابونو په وړوکي (بحر) کې لیکل شوي دي. د تصوف او د سلوک د اسرارو او رموزونو ډک دی. د وحدت الوجود د خیالاتو د اظهار خزانه ده. د روښاني فکر او فلسفي تشریح او توضیح ده، د شریعت او طریقت د علمي ژوند شروع ده. د ذات د معرفت او د توحید د علم په حصول کې اسرار او تاکید لري.

لکه:

دا شناخت دې نن فرض شوی
په مړه او په عورتـه
د عرفان سبب دې وکړه
هېڅ کار نه شي بې سببه

---

[۱]– البته دا نظر د ډاکټر عبدالخالق رشید او څو د ګوتو په شمار څېړونکو دی او د سرمحقق زلمي هېوادمل په ګډون ډېر نور څېړونکي د ارزاني مقبره په هند کې سمه نه بولي او د رد لپاره یې کافي شواهد لري، چې په چاپي رسنیو او کتابونو کې یې په کراتو مراتو نظریات خپاره شوي او له بیا راوړلو څخه یې ډډه کوو. (هیئت تحریر).

۲. **مرات المحققین**:

حالنامه دارزاني د یو فارسي کتاب (مرات المحققین) یادونه په خصوصي توګه سره کوي. په دې کتاب کې لکه د پندونو په شکل د تصوف اسرار او رموز بیان شوي وي. حالنامه د دې پندونو یو څو نمونې د (۲۰۸ نه ۲۱۳) مخونو پورې درج کړي دي چې یوه نمونه یې دلته وړاندې کېږي.

(ای عزیز من این از سخنهای وی است که فرموده، بشنو این سخنهای راز است، سخنهای راز خوب است گر چه دراز است).

۳. **د نثر رساله**:

دارزاني دیوې شعري قلمي نسخې (نمبر ۹۳۷ کتابتون پښتو اکاډمي پېښور یونیورستي) په اخر کې یوه کوچینۍ نثري رساله تړل شوې ده چې فی الحال (۲۲) مخونه لري. دا رساله د پیل او پای له دواړو خواوو څخه نیمګړې ده.

چې د شعري نسخې او د دې نثري رسالې کاتب او کتابت یو ښکاري، رسم الخط هم د دواړو نسخو یو روښاني رسم الخط دی او موضوع یې هم روښاني تصوف دی.

د دې رسالې د مصنف نوم په رساله کې نه دی لیکل شوی. پښتو ادب څېړونکو دا رساله د ځینو ثبوتونو له مخې دارزاني بللې ده.

۴. **د ارزاني عربي، فارسي او هندي شعرونه**:

اخون درویزه دارزاني په څلور ژبو د شاعرۍ ذکر په لاندې ډول کوي:

ارزاني چون شاعر تیز فهم و فصیح زبان بود انواع ضلالت و بدعت شعر افغانی و فارسی وعربی بیان کرده.

د اخون درویزه د پورته بیان په باور حافظ عبدالقدوس قاسمي، قلندر مومند، همیش خلیل په (ورکه خزانه) کې او حبیب الله رفیع په خپله مقاله کې (روښاني

لیکنې) کې د ارزاني په څلورو ژبو شعرونه ویل او په دغو ژبو کې لکه د پښتو د بوانونه پرې ایښې دي او دا دیوانونه لا ورک دي، لاندې شعرونه د دلیل په توګه راوړي.

دی ریخته پـه څلور ژبــو
دی بیــان په څو الـوان دی
هر غـزل مې د دل تــار دی
پـرې وو دلی دا چـو تار دی
پـه څــلور ژبــو وو دلـی
د ارزاني افغــان ګفتــار دی

۵. **چهار زبان**:

اخون درویزه پـه تـذکره الابـرار کـې د ارزانـي دیـو کتـاب د چهـار زبـان یادونـه کړېده.

لکه چې وایي:

ارزانـي نیـز کتـاب را تصـنیف کـرده اسـت، مملـو از انـواع ضـلاحت و اثـر چهـار زبـان نامیده.

حبیـب الله رفیـع پـه خپلـه یـوه مقالـه (روښـاني لیکنـې) کـې د اخـون درویـزه د تذکره الابرار و الاشرار په حواله او بیا یې د (رښـتین او میجر راورټي) په حوالـه د دغـه کتاب نوم چهار رساله ذکر کړی دی. دا کتاب لا تر اوسه لاس ته نه دی راغلی.

۶. **د ارزاني یوه بې نومه مجموعه**:

محترم حبیب الله رفیع په خپله مقاله (روښاني لیکنې) او محترم زلمي هېواد مل په خپل کتاب (په هند کې د پښتو ژبې او ادبیا تـو د ایجاد او ودې پړاوونـه) کـې د ارزانـي د یـوې بـې نومـه شـعري مجمـوعې ذکـر کـړی دی، چـې ځینـې ادبي څېړونکـي ورسره هم نظره نه دي.

### ۷. د ارزاني مګويات:

محترم حبيب الله رفيع په خپله مقاله (روښاني ليکنې) کې د ارزاني يو بل موهوم کتاب د هغه د يوې رباعي په استناد ( د ارزاني مګويات) معرفي کړی دی. دغه رباعي په لاندې ډول ده.

هم د دې دېـــوان خبرې
کـل د زړه دي مـــرغلرې
واړه ګـوی يـې دي ويلي
کل مګوېې شوې ځنې لرې

### ۸. د حضرت رسول خوب (حکايت رسول):

د ښاغلي حبيب الله رفيع په (روښاني ليکنې) او د ښاغلي زلمي هېوادمل (په هند کې د پښتو ژبې او ادبيا تو د ايجاد او ودې پړاوونه) کې د ارزاني د يوې بلې ليکنې د (حضرت رسول خوب يا حکايت رسول) يادونه کوي. يو حکايتي نظم دی چې په (۷۹) رباعي ګانو ويل شوی دی؛ خو ځينې نور ادب پوهان دغه رباعي ګانې د (فقير سليمان) بولي.

### روښاني تصوف او ارزاني:

دا چې ارزاني خوېشکی پښتون و، خو دوی په قصور کې اوسېدل. د پير روښان د پيرۍ اوازه دومره خوره شوې وه چې د قصور پښتانه څه، چې د هندوستان اکثره پښتانه هم ترې خبر شوي وو. خليفه مودود ترين او ارزاني خوېشکی له هندوستان څخه پښتونخوا ته راغلل او د پير روښان مريدان شول. اخون درويزه دا واقعه داسې بيانوي:

(ارزاني شاعرانکه ایشان سه برادران بودند از افغانان خوښکی یکی ملا ارزاني نام، دوم ملاعمر، سوم ملا علی از جانب هند در رسیدند چون در اینجا نیز الحاد در ایشان اثر کرده بود، اما ملا به مجرد وصول ایشان بدین لعین کافر مطلق آمدند).

ارزاني د خپل پیر کامل او د هغه د (اتو) مقامونو په لړ کې لیکي:

شریعت د ده آغــاز دی
طـریقت یې سوز و ساز دی
حقیقت حال دی په زړه کې
معرفت یــې ســره راز دی
قــربت یــې نزدیـکي ده
په وصلت کــې لا دویـي ده
وحدت کــې دویي نشتــه
سکونت کـل نیک خویي ده

د ارزاني خوېشکي ټوله شاعري د پیر د تصوف تشریح او توضیح ده، تبلیغاتي او دعوتي رنګ لري.

## د ارزاني خوېشکي په اثارو کې پښتو او پښتونولي:

د ارزاني خوېشکي شاعري ګر چې د روښان مسلک د مذهبي او تصوفي تعلیماتو دعوت دی. خو د دې تر څنګ ارزاني په خپله شاعرۍ کې د پښتو د یوې علمي او ادبي ژبې په حیث د درنولو د پښتون او افغان په حیث د یو قومي او نسلي تفخر یادونه کوي او په شعوري توګه په پښتو ویل او لیکل خپل یو فرض ګڼل لکه چې وایي:

ارزاني پــه پښتــو ووې
نــن یې غاړه کــړه ادا

او د دې تر څنګه ورسره عامو پښتنو ته دا وړاندیز هم کوي چې پښتو سپکه مه ګڼئ او په پښتو کې دلیکلو نه کرکه مه کوئ. لکه چې وايي:

ارزانـــي پښـــتو خبره
تـــه يې مه ګـڼه هـلکه
دا خبـره کـه پښتـو ده
څـوک دې نه کا ځنې کرکه

ارزاني په خپـل ديوان کې تقريباً (سل ځايـه) پښتـو يـادوي او ځان تـه افغان وايي، چې دا د پښتو او پښتونولۍ واضيح ثبوت دی. لکه چې وايي:

دا پښتـــو خـــبره واوره
لــه دې ارزانـي افغـــانه
ارزانــي افغـان و کښلـي
د خپـل زړه لـه تصـور ه
د دې افغـانــي درونـو
ارزاني پښتـون حکـاک دی
يــو وينا بـه کـړم اغازه
پــه پښتو به يې کړم سازه
پر کـاغـذ به يې زه وکښم
لـــه د دې پښتنـــيه رازه

## د ارزاني په اثاروکې فن:

ارزاني خوېشکي د نورو ادبي صنعتونو تر څنګ په خپله شاعرۍ کې له علم بديع څخه په کافي اندازه کار اخيسی دی چې زه يې دلته د دې ښکلاوو څو بېلګې وړاندې کوم.

۱. **د تضاد صنعت**:

په وینا کې د دوو داسې کلمو راوړل چې په معنوي توګه دواړه د یو بل ضد وي، لکه شپه او ورځ، تور او سپین، اوبه او اور او نور.

مثال:

زنده دل بـه پرې پوهېږي
پـه دا څه پـو هیږي مړی

۲. **تلمیح**:

په لغت کې لیدو او اشارې کولو ته وایي او په ادبي اصطلاح که شاعر په خپل کلام کې یوې مشهورې پېښې یا کیسې ته په لنډه توګه اشاره وکړي یا د یو آیت یا حدیث ژباړه په خپل کلام کې راوړي تلمیح ورته وایي.

**مثال:**

یـو الف یـدو عصـی دی
میم یـې مسجد اقصی دی
پـه خپل دم یې ادم لو ی کړه
پـه ګندم یـا د فعصی دی

۳. **تجنیس**:

تجنیس په لغت کې هم جنس کولو ته وایي، د ادبي فنونو په اصطلاح کـه پـه یـو بیت یا نـیم بیتي کې دوې یا زیـاتې داسې کلمې راشي، چې پـه بڼه، وزن د تورو شمیر، لیک او لوست کې یو شان یا څه سره ورتـه وي او پـه معنا کې سره تـو پیر ولري تجنیس یې بولي، تجنیس ته ځینې جناس هم وایي.

مثال:

لـه وحـد ته میم روان شـه
دی د دوست کـلیات روان شه
د عنصـر لباس یې وا غوست
خود باد شاه شه خود روان شه

یـا:

پـــه دا دم ادم ولاړ شـه
هم موسی یې په ویــلاړ شه
په دا دم احمد احد غوښت
په معراج ور سره ولاړ شـــه

یـا:

په دا دم لــه خاکه پاڅي
پـر کثرت په دا دم نــاڅي
په دا دم غوتۍ کــا ماته
اب یې اب سـره وڅاخـي

**پایله**:

دغـه څېړنیـزه لیکنـه کـه لـه یـوې خـوا د ارزانـي خویشـکي د نسـب سلسـله تـر څېړنې لاندې نیسي، له بلې خوا د نوموړي د عرفاني ژوند پـه باب د روښاني طریقت او فکر له مرکزه ډېر لرې په هند کې د همـدې تګلارې پلوي د پښـتو ژبې د ښوان لرونکی نامتو شاعر دی.

د ارزاني دیوان د تصوف او د سلوک د اسرارو په رموزو ډک او د وحـدت الوجـود د خیالاتو د اظهار خزانه ده، د روښاني فکر د فلسفې تشریح او توضـیح ده. خـو د دې تـر

ځنګ ارزاني خويشکي په خپله شاعرۍ کې (پښتو) د يوې علمي او ادبي ژبې په حيث د درنولو، د پښتون او افغان په حيث د يوې قومي او نسلي تفخر يادونه او په شعوري توګه په پښتو ويل او ليکل خپل فرض ګڼلی دی. همدارازيې په خپلې شاعرۍ کې له ادبي صنعتونو څخه په لازمه اندازه هم کار اخيستی دی.

**ماخذونه**:


۱. انصاري، بايزيد: خيرالبيان، پېښور، پښتو اکاډمي، ۱۳۶۷ ل.

۲. حبيبي، عبدالحی: د پښتو ادبياتو تاريخ (لومړی او دويم ټوک)، پېښور، دانش خپروندويه ټولنه، ۱۳۸۴ ل.

۳. خويشکی، ارزاني: دارزاني خويشکي کليات، پېښور، پښتو اکاډمي، ۲۰۰۵ ع.

۴. رشاد، عبدالشکور: د پښتو پخوانۍ الفبې، کندهار، علامه رشاد اکاډمي، ۱۳۸۷ ل.

۵. روهي، محمد صديق: ادبي څېړنې، ننګرهار، ننګرهار پوهنتون، د ښوونې روزنې پوهنځی، ۱۳۶۰ ل.

۶. هېوادمل، زلمی: په هند کې د پښتو ژبې د ايجاد او ودې پړاوونه، کابل، د علومو اکاډمي، ۱۳۷۳ ل.

۷. ننګرهار پوهنتون: پوهه (علمي، څېړنيزه درې مياشتنۍ مجله)، (۳،۴) ګڼه، ۱۳۹۲ ل.

پوهندوی میراجان غوربندي

# په اندو اروپايي ژبو کې د لغتونو ورته والی

**لنډيز**:

ژبپوهان د نړۍ ژبې او ديالکتونه، يو تر بله د جينتيکي، يعنې د نسبتي خپلوۍ له مخې، لومړۍ په لويو لويو کورنيو او کورنۍ بيا په ګروپونو او ګروپونه بيا په مختلفو څانګو باندې وېشي. په نړۍ کې د ژبو مختلفې کورنۍ موجودې دي، چې له هغوی څخه د هندو اروپايي ژبو کورنۍ خورا مشهوره ده. دا کورنۍ د نړۍ د ژبو د نورو کورنيو په پرتله، ځکه مشهوره او د اهميت وړ ده، چې د نړۍ خورا مهمې ژبې په همدې کورنۍ پورې اړه لري. د اندواورپايي ژبو کورنۍ په نهو ګروپونو باندې ويشل کېږي؛ لکه: (آريک، ګرمانيک، بالتيک، سلاويک، ارمني، الباني، روماني، يوناني، کلتيک)، چې آريک ګروپ يا ډله يې بيا په دريو څانګو باندې وېشل کېږي، چې (اندو آري، داردیک او آرياني) ژبې دي، آرياني ژبې هم په خپل وار سره په دوو نورو وړو څانګو باندې وېشل کېږي، چې يوه يې ختيځه (باختري) او بله يې لويديځه (پرسيک) ده.

لکه چې څرګنده ده، د یوې ژبې د سلسلې او کورنیو معلومولو لپاره درې مهم اساسونه تر نظر لاندې نیول کیږي . لومړی .دلغتونو ورته والی،دوهم .ګرامري ورته والی ، دریم.دغږونو ورته والی. کومې ژبې، چې په دغو دریو اساسونو کې سره ورته والی او مشابهتونه ولري، هغه ژبې له یوې کورنی څخه شمیرل کیږي. څرنګه چې څرګنده شوې ده، پښتو ژبه په دغه درې واړه ټکو کې، د نوروانډواورپایي ژبو سره ورته والی او مشابهتونه لري. په ځانګړي توګه دلغتونو په برخه کې، ددوی تر منځ زیات ورته والی لیدل کیږي. نو ځکه ژبپوهانو پښتو ژبه د هندو اروپایي ژبو کورنی پورې تړلې ده.

**سریزه**:

ژبه انسانانو ته د الله تعالی یوه بې ساري ډالی ده، چې پر ته د هغی له کارونې څخه انساني تمدن او پرمختګ نه را منځته کیږي. کله چې انسانان د ځمکې پر مخ باندې پیدا شول ،بیا یې بشري ټولنې جوړې کړې، د زمانې په تیریدو سره دغو بشري ټولنو وده او پرمختګ وکړ ، نو له دې ودې او پرمختګ سره سم ژبه منځ ته راغله.

ژبه د اختیاري وییزو غږونو او د غږونو دلړی هغه جوړ شوی سیستم دی، چې د انسانانو د یوه ټولګي له خوا له یو بل سره د پوهولو او را پوهولو لپاره ور څخه کار اخیستل شوی دی او یا ورنه اخیستل کیدای شي او د انساني چاپیریال شیان پیښې په پوره او کره ډول افاده کوي. (۱)

ژبه یو لړ ارزښتناک غږونه دي، چې انسانان یې د خپلو افکارو او خیالاتو د څرګندولو په غرض د صوتي غړو په واسطه د خولی څخه راباسي او په دې توګه په خپلو منځونو کې افهام او تفهیم کوي.(۷) دژبې له مختلفو تعریفونو څخه یو علمي او جامع تعریف پوهاند محمد رحیم الهام داسې کړی دی : ((ژبه د غږیز سمبولونو داسې، یو اکتسابي او میثاقي سیستم دی، چې د ټولنې وګړي یې له یو بل سره د

مفاهمې لپاره په کاروي.)) دژبپوهانو په عقیده دژبې ځینې مهم خصوصیات دا دي:

۱– ژبه رمزي، یانې یوه سمبولیکه پدیده ده، چې په عمومي ډول د خپل مدلول سره کومې منطقي او ضروري اړیکې نه لري او د وخت په تېرېدو سره نوموړي رمزونه هم تغییر کوي.

۲– ژبه منظم جوړښت لري، چې په همدې دلیل د ښودلو او زده کولو وړ ده. که څه هم د یوې ژبې قاعدې له بلې ژبې د قاعدې سره ټکي په ټکي یو شانته نه دي، خو بیا هم په عمومي ډول ځانته ټاکلي اصول او قاعدې لري.

۳– ژبه بشري خاصیت دی ،چې د حیواناتو له ژبې سره ژور توپیر لري.

۴– ژبه یوه ټولنیزه پدیده ده ،چې دټولنې دوګړو تر منځ ټولنیز مناسبات ټینګوي.

۵– ژبه طبیعي غریزه نه ده، بلکې له ټولنې څخه زده کېږي. که چیرې ژبه طبیعي غریزه وای ،نو په ټوله بشري ټولنه کې،به فقط یوه ژبه موجوده وای او زده کړې ته به یې هیڅ ضرورت نه وای او ټولو انسانانو به، په یوې ژبې باندې خبرې کولې.

٦– ژبه د تفکر د انتقال وسیله ده، خو په عین زمان کې یوه نسبي خپلواکي هم لري. لنډه دا چې ژبه د اوازونو هغه رمزي سیستم دی ، کوم چې د ټولنې له خوا د ویلو او پوهولو لپاره وضع شوې او د انسان په صوتي جهاز پورې اړه لري. په پای کې دې نتیجې ته رسو، چې ژبه د انسانانو تر منځ د اختیاري وییزو غږونو او دهغوی د یو ځای کېدو څخه هغه جوړ شوي سیستم دی ،چې د یوه ګروپ او ټولګي له خوا د یو بل ګروپ او ټولګي د پوهولو او را پوهولو لپاره کار ور څخه اخیستل کېږي. ژبه د انساني چاپېریال شیان پېښې، کړه وړه په پوره او کره ډول سره افاده کوي. (۴)

ځرنګه، چې لا تر اوسه پورې د نړۍ د ټولو ژبو حقیقي شمېر نه دی څرګند، دا ځکه چې له یوې خوا د ژبو او ګړدودونو ترمنځ، کومې قطعې پولې، لا تر اوسه پورې نه دي تثبیت شوي او له بلې خوا یو زیات شمیر ژبې، په ځانګړې توګه په امریکا او افریقا کې لا تر اوسه پورې نه دي څېړل شوي.

خو بیا هم د هغې محاسبې پر بنسټ، چې ژبپوهانو په ۱۹۶۴ میلادي کال کې کړې وه، د نړۍ د ژبو شمیر یې له دریو نه تر اوه زرو پورې اټکل کړې دي. چې دهغوی په جمله کې پنځوس ژبې د بشرې ټولنو د ملیونونو وګړو، د لیک لوست، افادې او د استفادې وړ ژبې دي، چې دهغوی په جمله کې پښتو او دری ژبې هم شاملې دي. د نړۍ د ټولو ژبو څخه انګلیسي، فرانسوي، عربي، روسي، هسپانوي او چینایی ژبې د بین المللي ژبو په شمیر کې راځي. اوسني ژبپوهان په دې اند دي، چې ژبني فعالیتونه، دآواز په بڼه له انساني غړیز سیستم څخه راوزي. وینایيز غړي، فزیالوژیکي جوړښتونه، چې د خبرو کولو په پروسه کې فعاله ونډه اخلي غړیز غړی ورته ویل کیږي. سږي، نلونه، حنجره، پوزه، خوله، ژبه، غاښونه او شونډې وینایيز غړي دي. (۱۰)

اریایی اقوامو په لومړني ټاټوبي (اریانا ویجه) کې ځانته یوه ژبه درلوده، چې اریک نومیده. چې له هغې څخه هندي، ایراني، بخدي ژبې راوتلې دي. په دې لومړني اریایی ژبه کې لا تر اوسه پورې کوم دقیق معلومات په لاس کې نشته او زمانه یې له (۲۴۰۰ ق م) نه نیولې بیا تر څلور زره قبل المیلاد کلونو پورې تخمینیږي یعني له هغه وخته، چې اریایي اقوامو لومړي پلا، له (اریانا ویجه) څخه هجرت وکړ. (۶)

هنـدو اروپـايي ژبې، چې ژپوهـان يې هنـدو جرمانيـک ژبې هـم بـولي، هغـه د آريايـانو، د تـوکم ژبـې دي. آريايـان دانسـانانو يـوه خـورا مهمـه ډلـه ده، چـې لـه پيړيـو پيړيـو څخـه، را پـه دې خـوا، پـه دې لويـه ځمکـه کـې دلـوړ مـدنيت خاونـدان وو. چـې دلويـديځ او ختـيځ سـتر سـتر ملتونـه لـه دې پښـته راوتلـي او پيـدا شـوي دي. آريايـان تـر خپرېدو او ډېرېدو دمخه پـه يـوه ځـای کـې اوسـيدل، چې دوی خپلـه پخـوانۍ ژبـه اريـک او هغـه ځمکـه چې دوی پکـې اوسـيدل آريانـا وېجو بلله. يعنې دآريايانو ځمکه يا داصيلانو او نجيبانو هيواد.

هنـدو اروپـايي نـوم پـر آريـايي ژبـو تـر ټولـو دمخـه نـامتو او مشـهور ژبپـوه تهومـاس ينـګ ايښـی دی. امـا د هنـدو جرمانيـک اصـطلاح تـر ټولـو دمخـه پـه ۱۸۲۳ مـيلادی کـال کـې جرمنـي ژبپـوه کلاپـورت رواج کـړه. کلـه چـې ژبپوهـانو د هنـدواروپايي ژبـو تـرمنځ دلغتونـو ،غږونـه او د ګرامـري قواعـدو ورتـه والـی او داسـی نـورې ځـانګړنې وليدلې، هماغـه وه چـې دوی يـوه ډلـه ژبـې پـه دغـو نومونـو سـره لـه يـوې کـورنۍ څخـه وګڼلې. امـا تـر ټولـو دمخـه ويلـيم جـونز د هنـد د ايشـيايی ټـولنې مشـر پـه ۱۷۸۶ مـيلادی کـال کـې دغـه ژبې يـوه کـورنۍ ګڼلـې وې ، خو دغه نومونه ور باندې وروسته کيښودل شو.**(۲)**

ژبپوهـانو د نـړۍ ژبـې پـه مختلفـو کورنيـو بانـدې ويشـلي دي، چـې تـر ټولـو مشهوره کورنۍ يې داندواورپايي ژبو د کورنۍ په نامه يادېږي

هنـدو اروپـايې ژبـې، چـې اوسـني زيـاتره متمـدن قومونـه وربانـدې غږېږي، د افهـام او تفهـيم ډګـريـې هـم پـراخ او وسيع دی،افغـاني ژبپوهـان دې کـورنۍ تـه ،د هنـدواروپايي ژبـو کـورنۍ او اروپـايي ژبپوهـان ورتـه، دهنـدواروپايي يـا د هنـدو جرمانيـک ژبـو کـورنۍ وايـې. هنـدو اروپـايي ژبنـۍ کـورنۍ د نـړۍ تـر ټولـو سـتره ژبنـۍ کـورنۍ ده، چـې د نـړۍ د نيـږدې نيمـو اسـتوګنو مـورنۍ ژبـې ورپـورې اړه

لري او له پنځو لويو وچو څخه د اروپا ،امريکا(شمالي او سويلي) او استراليا او سپډونکي يو مخيز او دآسيا يو جوت ډيرى (اکثريت) او همدارنګه د افريقا يو شمير اوسيدونکي پرې غږيږي (۵). دا کورنۍ په دوولسو ګروپونو باندې وېشل کيږي:

۱ – **هندي ګروپ:** دې ګروپ پورې سانسکريت، راجستاني، بهاري، هندي، اُردو، سينګالي، بنګالي، پنجابي، سندي، لاحده، کشميري، مرتهي، ګجراتي، جتهي، پالي، اريه او داسې نوري ژبې مربوطيږي. هندي ژبې په لاندې څانګو باندې ويشل کيږي:

۱.شمال ختيځه څانګه ، ۲.جنوبي څانګه ، ۳.ختيځه څانګه ، ۴.وسطې څانګه ، ۵.مرکزي څانګه ، ۶.بهاري څانګه. (۸)

| دورې | ختيځه ډله(باختري) | | لويديځه ډله(پرسيک) | |
|---|---|---|---|---|
| | | | | |
| دلرغونې دورې ژبې | (اوستا او ساکي ژبې) | | (ميدي او لرغونې فارسي ژبې) | |
| | شمال ختيځ | سويل ختيځ | شمال لويديځ | سويل لويديځ |
| دمنځنۍ دورې ژبې | باختري،سغدي، خوارزمي،ساکي | | پارتي | منځنۍ فارسي |
| دمعاصرې دورې ژبې | د پاميري (منجي، يدغه،اشکاني....) آسي او پښتو ژبې | اورمړي، پراچي | بلوڅي... | تاجکي،دري، فارسي... |

(جدول سرلیک: آرياني ژبې)

(۹)

**۴-جرمانیک ګروپ:** په دغه ګروپ پورې لاندې ژبې مربوطيږي، لکه سویدني، هالنډي، ناروېژي، ډنمارکي، جرمني، آیسلنډي، انګلیسي، فریزي او ایدیش.

**۵- سلاویک ګروپ:** دسلاویک ګروپ ژبې په دریو څانګو باندې وېشل کیږي:

الف) ختیځه څانګه: دې څانګې پورې روسي، بیلا روسي، او اوکرایني ژبې اړوندیږي.

ب) لویدیځه څانګه: په دې څانګې پورې پولنډي، چکي، سلواکي، کوشوبي او لوژیځکي ژبې مربوطیږي.

ج -جنوبي څانګه: په دې څانګې پورې بلغاري، سربي، خرواتي، مقدونې او زړه سلاویانې ژبه مربوطه ده.

۶- ارمني ګروپ : په دې ګروپ پورې یوازې او یوازې ارمني ژبه مربوطیږي.

۷- الباني ګروپ : په دې ګروپ پورې هم یوازې او یوازې الباني ژبه مربوطیږي.

۸- روماني ګروپ: په دغه ګروپ پورې فرانسوي، ایټالوي، هسپانوي، پرتګالي، ساردیني او لا تیني ژبه اړه لري.

**۹-** دمړو ژبو ګروپ: دهندو اُروپایي ژبو کورنۍ کې یوشمیر مړې ژبې هم شتون لري لکه :اریک، سانسکریت، اوستایي، تخاري، خوارزمی او داسې نورې ...

**۱۰-** یوناني ګروپ: ددغه ګروپ ژبې لرغونی تاریخ لري. چې تر ټولو مشهورې ژبې یې نوې یوناني، زړه یوناني او ویزنتي ژبه بلل کیږي.

۱۱ – بالتیک ګروپ: په نوموړي ګروپ پورې لیتوانې، لاتشي، پروس او لتاګالي ژبه اړه لري.

۱۲ – کلتیک ګروپ: دې ګروپ پورې ایرلنډي، شاتلنډي او برتانوي ژبه اړوندېږي. (۳)

اوس غواړم دلته یوائې دلغتونو او کلمو دنږدیوالي پر بنسټ دهندو آروپایی ژبو ترمنځ ورته والی په لاندې لښتلیک کې ور وښیم:

۱ – شمیر نومونه په ځینو هندو اروپایي ژبو کې:

| پښتو | دري | انګلسي | فرانسوي | الماني | لاتیني | روسي |
|---|---|---|---|---|---|---|
| دوه | دو | ټو | دوي | څواني | دوو | دوه |
| دري | سه | ټرې | تراو | درای | تریس | تري |
| اته | هشت | ایټ | ویت | اخت | اکتو | وسیم |
| نهه | نو | ناین | نوز | نوین | نوم | دیویت |

**۲ – د کورنۍ او بنسټیز ژوند د کلمو ورته والی په نوموړو ژبو کې:**

| پښتو | پارسي | انګلیسی | سویدنی | الماني | روسي | فرانسوي | لاتینی | سانسګریت |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| مور | مادر | مادر | مور | موتر | مامه | میر | ماترا | ماتري |
| پلار | پدر | فاډر | فادر | فاتر | پاپه | پییر | بټر | پاتري |
| ورور | برادر | برادر | برور | برودر | برات | فریر | فراتر | بهراتر |
| خور | خواهر | سیستر | سیستور | سوستر | سیستر | سور | سوردر | سواچه |

وګوری دغه ژبې، چې موږ په مخنی انځور کې آریایي ژبې وګڼلې او دوی مو د هندو اروپایي ژبو په غټه کورنۍ کې داخلې کړې، ټولې په اساسو، قواعدو او لغاتو کې ډېرې سره نیږدې دي. (۲)

په پایله کې ویلی شو، چې هندو اروپایي ژبې د غړونو، ګرامر او لغتونو په برخه کې په خپل منځ کې نیږدې ورته والی لري نو ځکه ژبپوهانو دغه ژبې له یوې کورنۍ څخه ګڼلې دي.

Summary

Language is very complex all attempts to define it have proved inadequate. Language is defined as a system of conventional, spoken or written symbols and is mostly used for communication. On the other hand language is the system of words and sounds used by human to express their thoughts and feelings. There are many languages spoken currently worldwide. Indo-European language family is the famous one among the others. Linguists compared languages in this language family and found their similarity according to their grammatical structures, phonemic structures, and lexical structures and divided them into twelve groups which are Indic, Bakhtaric, Persic, Germanic, Romani, Greek, Baltic, Albanic, Slavic, Keltic, Armanic and other dead languages.

**اخځلیکونه**:

۱ـ ارشاد، اورنګزیب، افغانستان پېژندنه، پېښور: دانش خپرندویه ټولنه، ۱۳۸۴ ل.ل، ۱۸۰ مخ.

۲ـ حبیبی، عبدالحی، د پښتو ادبیاتو تاریخ، کابل: دانش خپرندویه ټولنه، ۱۳۸۴ ل.ل، ۳۲ مخ.

۳ــ روزینتـــال ، دیمتـــری، دژبنـــی اصـــطلاحاتو قـــاموس ، مســـکو : دمعـــارف وزارت مطبعه، ۱۹۷۶ ل.ز.

۴ .روهـــی ، محمـــد صـــدیق ، دژبښـــوونې مســـالی ،کابـــل : پښـــتو ټولنـــه، ۲۴۱۳۶۱ ل.ل. مخ

۵ .زیـــار، مجـــاور احمد، پښـــتو او پښـــتانه دژبپـــوهنې پـــه رڼـــا کـــې، کابـــل : ساپی خپرندویه ټولنه،۱۳۷۹ ل.ل. ۸مخ.

۶ــ ښـــاد ، جبارخیـــل، پښـــتوژبـــه او ادبیـــات، کابـــل : دولتـــی مطبعـــه، ۱۳۶۹ ل.ل. ۱۲ مخ.

۷ــ شـــاکر،نور احمـــد، ژبنـــی څیړنـــې ، کابـــل : پوهنتـــون مطبعـــه ، ۱۳۵۰ ل.ل. ۶مخ

۸ــ شـــپون ، وجیـــه الله، دلرغونـــو ژبـــو ســـره د پښـــتو ژبـــې اړیکـــې، کابـــل : مومنـــد خپرندویه ټولنه، ۱۳۸۹ ل.ل. ۲۳ مخ.

۹ــ اورمـــړ، څیړنپـــوه دکتـــور خلیـــل الله : زبـــان بـــاختری، نبراســـکا مطبعـــه، کابل، ۱۳۹۱ لمریز کال، ۴۵ مخ.

۱۰ــ آریانـــا دایرتالمعـــارف، څلـــورم ټـــوک ،کابـــل : نبراســـکا مطبعـــه ، ۱۳۹۰ ل.ل. ۲۲۸ مخ

سر محقق عبدالواجد واجد

## د آسمانی ستورو په باب د خلکو پوهه او عقاید

### دستورو په وسیله د وخت معلومول:

د منـي ورځـې وې ، خـو هـوا تـوده وه ، ننګرهـار تـه ولاړم ، د کـامې ولسـوالۍ په شنه او سرسبزه سیمه کې د شپې لـه خـوا د خپـل کـور د بام پـه سر پـه کټ کې پـروت وم او د آسـمان سـتورو تـه مـې کتـل ، د الله (ج) پـه قـدرت د آسـمان سـتوري منظم چلېدل او ځلېدل.

پـه زړه کـې مـې راوګرځېـدل چې پخـوا خـو ځینـو څـه چې زیـاترو خلکـو د وخـت د معلومولـو لپـاره سـاعتونه ، نـه درلـودل او د آسـمان د سـتورو پـه ذریعـه بـه یـې هـم خپـل وخـت معلومـاوه او هـم بـه یـې پـه شـپه کـې د همـدغو سـتورو پـه وسیله خپل تګلوری ټاکه.

انسـانان لـه پخـوا نـه پـه دې پوهیـدل چې موسـمونه بـدلیږي او تغیـر مـومي ، نـو د آسـمان سـتوري هـم ددې موسـمونو د تغیـر او تبـدیل سـره سـم د تغیـر او

تبدیل په حالت کې دي او دوخت د بدلون سره سم خپل ځایونه بدلوي ، لمر له شرقه راخیژي او په غرب کې غورځېږي ، شپه او ورځ د لمر د راختو او غورځېدو سره تړاو لري ، سپوږمۍ کله لویه او کله وړه شي و کله بیخي نرۍ او بالاخره ورکه شي .

دآسمان ستوري بیل بیل ډولونه ، رنګونه او جسمونه لري ، واټن یې هم یو له بله توپیر لري ، نو ځکه ځینې واړه او ځینې غټ معلومیږي ، ځینې ستوري ګڼ معلومیږي او ځیني بیا په یوه کتار کې واقع شوي وي.

زما هم د خپل ژوندانه پخوانی وخت را په یاد شو ، چې ولسي خلکو د آسمان ځینې ستوري په ډول ډول نومونو نومولي وو ، د مثال په توګه یو ستوری یې د سهار یا "سبا سترګې" په نامه نومولی و ، نو کله به چې دغه ځلانده ستوری له شرقه راښکاره شو ، نو خلکو به ویل چې د "سبا سترګه" راوختله او سبا شو ، اذانونه به وشول او ټولو خلکو به داوداسه او لمانځه د ادا کولو بندوبست او تصمیم ونیو ، د لمانځه د ادا کولو وروسته به په خپلو کارونو پسې وخوځېدل.

دولسی عقایدو له مخې د ستورو دویش په لړ کې ځینې ستوري د "پریوونې"* په نامه هم یاد شوي دي ، چې دغه ډله ستوري د یوې غونچې په شکل تنظیم شوي دي او کله چې دغه غونچه ډوله ستوري "پریوونې" د آسمان له فضا نه فنا شي او پریوزي ، نو بیا هغه درې ستوري چې د "تلې" په نامه یادیږي راوخیژي ، نو ولسي خلک داسې فکر کوي چې سبا ورپسې را

---

* په آسمان کې یوه غونچه ستوري دي چې په پارسي کې ورته ( پروین ) او عربي کې ورته ( ثریا ) وایي. ( فرهنګ عمید )

روان دی ، دا ستوري کتې مټ د تلې (ترازو) په شان جوړښت لري ، چې درېواړه په یوه لیکه کې داسې تنظیم شوي وي ، چې یو ستوری یې د تلې یوه پله او بل ستوری یې د تلې بله پله او منځنی ستوری یې د تلې د موټي په شکل تنظیم شوي دي ، ددې دواړو ډلو ستورو لپاره دغه شعر ښه ثبوت دی :

تلې راوختلې پریوونې پریو تلې
جانانه تښته ګوندې کېوتلې

بله ډله هغه اووه ستوري دي چې د "آسمان کټ" په نامه یادیږي ، چې په هکله یې یوه اصطلاح ده چې وایي : "څه د آسمان کټ دي له ځانه جوړ کړی دی" یعنې که یو څوک خپل دوست او ملګری ډېره موده وروسته ووینې ، نو بیا ورته همدغه اصطلاح استعمالوی.

یا دا لنډۍ: " جانانه لاړې آسماني شوې ــ آسمان چې ځمکې ته راځي قیامت به وینه " خبره د آسمان په کټ کې ده : وایي چې دا اووه ستوري داسې تنظیم شوي چې څلور ستوري یې کټ مټ د کټ د پښو په شکل او نور درې ستوري پرله پسې په یوه لیکه کې واقع شوي دي او خلک دا عقیده لري چې له دې دریو ستورو څخه لومړنی ستوری د پسه په نامه چې د کټ د پښې پورې تړلی ګڼي ، دویم ستوری د پسه محافظ او د بوډۍ په نامه یادوي او ویل کیږي چې دغه بوډۍ یوه څرخه لري چې ټوله شپه خپله څرخه کوي او پسه له لېوه څخه ساتي او دریم ستوری د لېوه په نامه یادوي چې د کټ په جوړښت کې له بوډۍ څخه وروسته موقعیت لري.

کله چې کټ د آسمان په هسک کې راښکاره شي خلک وایي اوس نیمه شپه ( دولس بجې) شوي دي.

بلـه ډلـه سـتوري د " دلــدل لاره" پـه نامـه يـاديږي ، دا يـوه سـپينه لاره يـا سـپين خـط دی چې پـه ځينـو قاموسـونو کـې دغـه خـط د کهکشـان پـه نامـه هـم يـاد شوی دی.

کهکشـان : وريځـې تـه ورتـه يـو سـپين خـط دی چې لـه ميليونونـو سـتورو څخـه جـوړ شـوی او دشـپې لـه خـوا پـه آسـمان کـې ليـدل کيـږي او دا خـط هغـې لارې تـه ورتـه دی چـې پـه هغـې کـې بـوس شـيندلي وي او پـه عربـي کـې ورتـه مجـره وايـي ، پـه پارسـی کـې ورتـه آسـمان دره ، د کهکشـان لاره ، د حاجيـانو لاره ، د شـودو لاره[1] او د يـو روايـت لـه مخـې پـه پښـتو کـې د دلـدل تـرپ هـم ويـل شـوې دي.

بـل ډول سـتوری د عقـرب د سـتوری پـه نامـه يـادوي او کلـه چـې د منـې پـه موسـم کـې هـوا سـړه شـي نـو دا سـتوري راوخيـژي ، ددې سـتوري د راختـو سـره سـم تـول شنه پـوټي وچ شي او د شپې لـه خـوا سپينه پرخـه ووريـږي ، نـو وايـی چـې " چنـۍ " ورېـدلې ده او تـول شـنيلي چنـۍ وهلـي او وچ شـوي دي ، نـو بيـا يـې ددې ستوري اغيز د خپل يار د اغيزمنتوب سره داسې تشبه کړی دی :

جانان مې ستـــــــوری د عقرب دی
د لويو غرو په سريې وچ کړل سره ګلونه[2]

ليلـی او مجنـون : وايـی چـې " ليلـی او مجنـون" هـم د سـتورو پـه شـکل آسمان ته ختلي دي ، په دې باب دغه لنډۍ د لوستلو وړ ده :

---

[1] عميد ، فرهنگ عميد ، ۹۹۴ مخ ، تهران-۱۳۸۳ کال
[2] څېړندوی حبيب الله رفيع ، ننداړتون ، ۱۳۹۰ ، ۱۰۹ مخ

آســــــمان ته لار د ختو نشته
لیلی او مجنون په عاشقۍ ختلي دینه

لـه پورتـه لنـډۍ څخـه دا راوځـي چـې د لیلـی او مجنـون عشـق مجـازي عشـق نه ، بلکې حقیقي عشق ګڼل شوی دی.

د لیلـی او مجنـون د قصـې پـه بـاب مختلـف نظریـات شـته چـې پـه لنـډه توګه یې یادونه بې ګټې نه ده .

ددې قصی اساس او منبع :

د لیلـی او مجنـون رومانتیکـه قصـه عربـي اسـاس او فولکلوریکـه مبـدأ لـري چې د اسـلامي عصـر لـه پیلـه د مخـه منځتـه راغلـې ده او وروسـته بیـا شـرقي سـیمو ته راسیدلې چې له یوې خولې نه بلې ته اوله یوه کتابه بل ته نقل شوې ده .

دا قصــه پــه مختلفــو ژبــو لکــه پښــتو ، پارســي ، اردو ، ازبکــي ، ترکــي او نورو تنظیم او ترتیب شوې ده.

وایـي چـې دا وخـت پـه عربـو کـې د ټـولنیز جوړښـت لـه مخـې دوه ډولـه خلـک موجـود وو ، چـې یـوه ډلـه یـې د بـدوي او بلـه ډلـه یـې د ښـاري خلکـو پـه نامـه یـاد شـوي دي ، بـدوي خلـک پـه خپلـه خـوارۍ او غریبـۍ اختـه وو او شـعر او شـاعرۍ تـه وزګـار نـه وو ، خـو برعکس ښـاري اوسـیدونکو تـه دا زمینـه مسـاعده وه چـې پـه شـعر او شـاعرۍ کـې پـر مـخ ولاړ شـي ، پـه همدغـه دوره کـې د عربـي ژبـي پـه ادبیـاتو کـې فصـاحت او بلاغـت لـوړ مقـام ونیـو ، همـدا وخـت فصـیحو او بلیغـو شـاعرانو پـه ټولـه عربـي نـړۍ کـې لـوړ او تـاریخي شخصـیت ترلاسـه کـړ ، حتـی تـردې چـې خپـل شـعرونه بـه یـې د مکـې معظمـې پـه دیوالونـو ځـړول چـې د لوستونکو بازار به ورباندې تود و .

ددغو شاعرانو په شعرونو کې دلیلی او مجنون افسانوی قصه د شعر په ژبه بیان شوې ده د مثال په توګه " د ابن الاعرابي او ابن الکلبي له روایتونو څخه راوځي چې دا مجنون کوم تاریخي شخص نه و ، بلکې د مجنون قصه او اشعار یې د بني امیه یو سرواني زلمي جوړ کړي دي ، چې د خپل تره په لورمین و او په دې نامه یې خپل ځان پټ ساتلی دی ".[۱]

په بل روایت کې وایي :

" قیس عامري د یو عرب (*) امیر زوی د خپل تره سعد عامري په لور مین شو ، خو د لیلې پلار دی لیونی ـ مجنون وګاڼه او لیلی یې ابن اسلام نومي سړي ته ورکړه ، لیلی د خپل مېړه په کور کې د مجنون په عشق او مینه کې سوځیدله ، د مجنون عشق او مینه د خلکو په خولو کې لوېدلې وه. د لیلی د مېړه تر مړینې وروسته دواړه وصل شول.[۲]

همدارنګه اروابښاد دوست د لیلی او مجنون د هغه کتاب په مقدمه کې چې د علومو اکاډمۍ له خوا په ۱۳۵۸ کال چاپ شوی لیکي : " دا هم باید

---

[۳] رحمت داوي ، لیلی مجنون قیصه ، د مصطفی نژدې او عبدالهادی هاند په سریزه ۱۳۶۰ ، ۲ مخ

(*) عرب ته ولې عرب وایی: په دې کې دوه رایې دي د یوې رایې سره مطابق د عرب معنا فصاحت او ژبورتوب دی ، عرب وګړي نور وګړي په فصاحت او بلاغت کې د ځان سیال نه ګڼي ، نو ځکه دوی ځانونو ته فصیح البیان او نورو ته عجم یعنی ګونګیان وایی. له بلې رایې سره سم د عرب لفظ له (عربه) څخه اخیستل شوی دی چې معنا یې بیدیا او شګلنه سیمه ده ، څرنګه چې ددغې سیمې ډېرې برخې بیدیاوې او شګلنی سیمې دي ، نو ځکه ټول هیواد خلکو ته عرب وایی.( د اسلالم تاریخ ، ډاکټر حمیدالدین ، د سرمحقق مرستیال الحاج مولوي زین الله منلی ژباړه) .

د پښتو آریانا دایرة المعارف ، ۵۹۲۶ مخ [۲]

وویـل شـي چـې پـه عربـي ادبیـاتو کـې پـه دې بـاب کـوم بشـپړ منظـوم یـا منثـور داسـتان نـه دی لیکـل شـوی ، بلکـې دغـې افسـانې تـه د ختـیځ غیـر عربـي مسـلمانو ولسـونو زیـات آثـار وقـف شـوي دي او ددوی پـه فولکلـوري ادبیـاتو کـې مهـم ځـای لري چې مبدأ یې هماغه عربي روایات دي" .

د ځینـو ولسـي روایتونـو لـه مخـې خـو داهـم ویـل کیـږي چـې لیلـی او مجنـون پـه آسـمان کـې دوه ځلانـده سـتوري دي ، کلـه چـې لیلـی پـه پسـرلي کـې کـوچ کـوي ، نـو دا دواړه سـتوري یـو د بـل سـره یـو ځـای کیـږي او بیـا بېرتـه جـلا کیـږي او کله چې په مني کې د لیلی کډه بیرتـه راګرځـي ، نـو دا دواړه سـتوري یـو ځـل بیـا یـو لـه بلـه سـره یـو ځـای کیـږي ، یعنـې د لیلـی او مجنـون یـو ځـای کیـدل یـو ځـل د کال په سر او بل ځل د کال په پای کې تر سره کیږي. لکه دا لنډۍ :

آسمان کــې ستورو غېږې ورکړې

ماته بې ننګه جانان غېږ نه راکوینه

دغـه ذکـر شـوې لنـډۍ هـم پـه آسـمان کـې د لیلـی او مجنـون د سـتورو د یـو ځای کېدلو په شاهدي ورکولو دلالت کوي.

پـه نتیجـه کـې ویـلای شـو چـې د آسـماني سـتورو څخـه د وخـت معلومولـو او پیژنـدلو پـه بـاب زیـاتره د ولسـي پـوهې او تجربـو څخـه پـه اسـتفاده دا مقالـه بشـپړه شـوې ده ، خـو پـه دې سـتورو کـې د لیلـی او مجنـون سـتوري یـوه افسـانوي قصـه ګرځیـدلې ده او بالاخره لـه یـوې خولـې نـه بلـې او لـه یـوه کتابـه بـل کتـاب تـه د نظـم او نثـر پـه شـکل انتقـال شـوې او د ټولـو لیکونکـو او لوسـتونکو د پـام وړ ګرځېدلې ده .

**اخځلیکونه** :


۱. عمید، فرهنګ عمید : تهران ، ۱۳۸۳ کال ، ۹۹۴ مخ.

۲. رفیع ، ځیړندوی حبیب الله ، تندارتون ، ۱۳۹۰ ، ۱۰۹ مخ.
۳. داوي ، رحمت داوي ، د لیلی مجنون قیصه ، د مصطفی نژدی او عبدالهادی هاند په سریزه ، ۱۳۶۰ ، ۲ مخ.
۴. پښتو آریانا دایرة المعارف ، ۵۹۲۶ مخ.
۵. جامي ، د عبدالرحمن جامي د لیلی او مجنون داستان ، ۲۹ مخ.
٦. انصاري ، د میرزا خان انصاري دیوان ، ۲۵ مخ
۷. هیوادمل ، زلمی ، فرهنګ زبان و ادبیات پشتو ، لومړی ټوک ، ۲۱۷ مخ.
۸. ختک ، د سکندر خان ختک د لیلی او مجنون دیوان ، د دوست په سریزه ، ۱۳۵۸ ، ۴ مخ

*د اسلام تاریخ ، ډاکټر حمیدالدین ، له اردو نه د سر محقق زین الله منلي ژباړه.

پروفیسور عبدالخالق رشید

# عریان الغیب

## د ستر افغان عارف بایزید روښان یو بل نوی اثر



**دعریان الغیب لومړی مخ**

کـه پښتـانه عارفـان او کـاملان د روښـاني غورځنـګ ایجـاد ګـراو پاسـوال دي همداسې هندوستان هم د روښاني عرفاني غورځنګ روزونکې او پالونکې سیمه وه او ده ، دغه غورځنګ په دغه لویه او پراخه فرهنګي حوزه یا سیمه کې په خورا پیاوړتیا سره د شرقي عرفان ، تصوف او فلسفي افکارو اومطالعاتو په بهیرکې لویه فرهنګی او عرفانی وړتیا او پیاوړتیا ترلاسه کړه ، تر اوسه هم ددغه پراخ هیواد په اوږدو او لنډو کې د روښاني طریقت علمي او عرفاني شمعې نه دي مړې شوې بلکی دهرې ورځې په تیریدو سره دهندوبار په هره خوا کې ددغه غورځنګ د عارفانو او مفکرینو آثاراولیکنې د شعوري اسلامي عارفـانو او کـاملانو د هلوځلـو پـه توګـه ځـان برجسـته کـوي ا و پـه لارښوده رڼایی کې یې دعرفاني دنیا لوی شیړونکي او څارونکي اوس هم په نویو، ناویل شویو شیړنو بوخت دي اود ځانګړو لرلیدونو پـه لور خپله لاره په حقیقت سره ور وباسي .

د سترعارف او کامل پیربایزید روښان دآثارو په اړه له موږ سره دا ځوکاله هماغه یو لست پروت دی چې په هغه کې د خیرالبیان ، حالنامې ، مقصودالمومنین ، صراط التوحید او فخرالطابین او دوونورو نومونه راغلی دي چې د زیاترو نسخې اوس هم په هندوستان کې له ځانګړو کسانو نیـولی بیا تر لویو کتابخانو پورې خوندي دي . د روښان پیرنوم او طریقت تراوسه هم په هند کې خپل عارفانه تسلسل لري ، تراوسه هم دحضرت ارزاني مزار او خانقاه د هندوستان د بیهار د ایالت په مرکز پټنه کې د ددغې سلسلې د افکارواوطریقت لویه مرجع ده ، دغه مزار چې کلونه مخکې ما په دغه سیمه کې له څو پیړیو ورکې وروسته وموند او بشپړه لیکنه مې پرې خپره کړه ، بیاهم د پښتونخوا له درنو لیکوالو پرته زموږ دیو شمیرلیکوالو چی په دغه اړه یې حدسی معلومات ورکړي وو د پاملرنې وړنه شوه. زیاترو خو داهم ویل چې داکیدای حکیم ارزانـي وي ، هغـه څـوک چـې تـر روښـاني ارزانـي نـژدي یـوه پیـړې وروسـته یـې نـوم

او کارنامې دیادونې وړدي ، به داچې دامې هم له یو شمیراوریدلی چې گواکي دارزاني مزار په پټنه کې نه بلکه ډیلی ته نژدي په ( خورجه ) کې دي ، په داسې حال کې چې خورجه ما کوڅه په کوڅه او هدیره په هدیره ولټوله خوڅه مې په دغه برخه کې نه له چا واوریدل او نه مې ولیدل .د ثناالله خان لالا خبره ده چې راته ویل یې « چا چې د خورجې خبره کړې هغه خپله راوله چې در ویې ښیې ... » .

په هرډول دغه لیکنه یوځل بیا په دې نژدي وختوکې په « کابل مجلې » کې ددغې مجلې د گران مدیر او دعلومو اکادیمی دځوان غړي سیدي صاحب په همت هم خپره شوې ده چې ټول جزیات په کې راغلي دي . ددغې موندني له مخې موږ ته څرگنده شوه چې دروښانی طریقت د دویم نامتو سالار ارزاني خویشکی د مړینې کال چې زموږ لیکوالو او لویو څیړونکی (۱۰۱۰ هجري ) کښلی و ، ناسم وبلل شو ځکه چې د ارزانی دمزار په موندلو سره څرگنده شوه چې د پښتو ژبې دغه نومیالی عارف او شاعر په (۱۰۲۸ هجری ) کال کې په پټنه کې وفات شوي دی ، څه موده پخوامی د جهاني صاحب یوه مقاله ولوسته هغه هم تراوسه لاخبر نه دی چې ددغه عارف مزارموندل شوی اودوفات نیټه یی هغه نه ده لکه چې ده ښاغلي (۱۰۱۰هجری ) لیکلي ده .

په هرډول خبره د روښانیانو او د دوی د آثارو او افکارو ده ، په دغه برخه کې لا هم ډیر کار او ډیرو څیړنو ته اړتیا ده چې باید هڅه پسې وشي ، دهند په اړه په دې نژدې وختوکې د کابل پوهنتون پښتو څانگی یو شمیر ماسترانو ته په هند کې د یوشمیرژورنالستي څیرو پر اندو ژوند باندې د تیزسونو موضوعگاني ټاکلي وې ، چې زیاتره یې په سرسري توگه د یوه ساده مونوگراف حق هم ادا نه کړ ، ددغو تیزسونو لار ښوونکو ته معلومه ده چې څوک دهند په اړه څیړنې کوي ، باید لږ دموضوعاتو ارزښت او اهمیت ته متوجه شي، د رادیویی خپرونو د معرفۍ پرځای

چې د ادژورنالیزم د زده کونکو کاردی باید په یوشمیرنورو مهموادب. تاریخي مسایلو اونسخو باندې کارشوی وای ځکه نو په دغه برخه کې ترهغه څه چې پخوانو کار پرې کړی و زیات څه ونه لیکل شول. زموږ ځوان څیړونکي باید په تحقیق کې نوښت او دموضوع ارزښت ته پام وکړي ، نن سبا په نړۍ کې په سلګونو او ملیونو ډالره پر څیړنو باندې خرڅیږي چې یوڅوک باید یوڅه «نوې څیړنه »دهرمسلک په اړه رامنځ ته کړي خو له بده مرغه چې موږ دومره ناتوانه یو چې نه خپل زاړه چا ته معرفی کولای شو اونه هم ځوانان دنوښت په لور هڅولای شو، ځکه خو زموږد څیړنو حالت اوس د دریو لسیزو پخوا په پرتله په کوردننه دعلمي آسانتیاوو او میتودونواوسمو لارښونود نشتوالی له امله دسختې اندیښنې وړشوی دی .

دری لسیزې دمخه روښانیان دافغاني تاریخ ، فرهنګ ، ادبیاتو په برخه کې داسې مهم څېرکی و چې په کال دوو کې به دولت په دغه اړه دنړۍ له ګوټ ګوټ څخه پوهان له نویو څیړنو سره رابلل او هر نړیوال سمینار به یې له نویوعلمي بریاوو سره مل و. له بده مرغه چې په تیرو دوو لسیزو کې موږ په دې ونه توانیدو چې د روښاني غورځنګ په عرفاني او تصوفی اړخ باندې نوې علمي څیړنې ترسره کړو او یا دې یوه نوې خبره په دغه اړه دعلمي څیړنو ډګر ته را وړاندې کړو. موږ باید په دې پوه وو چې په اسلامي عرفاني مطالعاتو کې روښاني عرفانی غورځنګ یوه پراخ او دوامداره تحقیق ته اړتیا لري چې باید علمي کار ورباندې وشي او زموږ دپوهانو له نظره باید په دوامداره توګه ونه لویږي. ځکه چې دا یوازني غورځنګ دي چې د دوی آثار او افکار زموږ د دواړو ژبو ( پښتو او دري ) زیب او زینت دي چې له دغه امله هم د روښانیانو په اړه څیړنې زموږ لپاره یو ځانګړی علمی او ملي امتیازله ځان سره لري.

**عریان الغیب دروښان پیریوبل نادر فلسفي اثر :**

دعریان الغیب دقلمي نسخي مشخصات په لاندي ډول سره دي :

---

**کچه : ۱۲/۵ = ۲۲/۵**

**کرښي : ۱۱**

**مخونه : ۲۸۲**

**خط : نستعلیق**

**ژبه : فارسی دری**

---

ددغه قلمي اثر په اړه ما د روښاني شیرنو په ترڅ کې تراوسه څه نه دي لوستي او نه یې چا د روښان په آثاروکی نوم یاد کړی دی او که یې کړي وي ، ما به نه وي لوستی ، که چا لوستي وي دمهرباني له مخې یې دله موږ سره شریک کړي او که یی دکومي نسخي پته ورته وي هغه دهم ولیکي څوموږ وکولای شو دیوې پرتلیزې څیړنې لپاره په راتلونکي کې یو کوټلی تحقیقي کار وربانديې وکړو . اوس خو په ټول هند کې له دغې نسخې پرته ما دبلې نسخې پته ونه مونده اونه هم چا تراوسه چیرې اشاره ورته کړې وه .

دغه نسخه چي دلته زما دڅرګندونو موخه ده ، پرهغې بانديې دلیکلو نیټه نه ده کښل شوې ، مانداچی دا ګرانه ده چی ووایو دا نسخه په کوم کال او چیرې لیکل شوې ده خو دا په ډاګه ترې ښکاري چې دغه اثر دبایزید هادی ،مسکین په ژوند لیکل شوې دی . یوازې د نسخي پرلومړي مخ دوه ځایه ددغې نسخې د مالکانو نومونه لیکل شوي دي، دیوه مالک سید محمد مرتضی خان اصفهانی له نامه سره سنه هم لیکل شوې چې ګواکي دغه نسخه په ۱۳۱۱ هجری کال کې له نوموړي سره وه . نسخه په فارسی

ژبه ده او په ښکلي نستعلیق خط باندې لیکل شوې ، په هرمخ کې دوو لس کرښې لري چې په دوورنګو تور او سره لیکل شوې ده. ټول ټال (۲۸۲) مخه ده. دغه یوازنۍ نسخه ما سرتر پایه کتلې ، خو داسې څه چې د لیکلو نیټه دې ترې څرګنده شي په کې نه ښکاري ، ددغه اثر دنامه په اړه ددغې نسخې په یوه برخه کې یوه بشپړه یادونه په عربي ژبه داسې لیکل شوې :

« یا بایزید طاعت شیخ الکامل طاعتی النبی وطاعت فینبعی ان مطلبی عن شیخ الکامل ویحذرعن جمع الحرام ویاکل قلیلاً حلال الطعام ولا یقول کسیر الکلام ویحذر عن کثیر المنام والا عتزال عن الانام ویذکرنی بذکر الدوام حتی یسهُ کل شی ونفسه ولم یسبُه سوایي حتی وجد جمع المقام جعلنا اسم هذا الکتاب عریان الغیب ومن عمل به یخرجنا له من الکفر الی الایمان ومن ذنوب الی الطاعته ومن غفلته الی الذکرومن سیته الی رویهته من صمیته الی السماع ومن فضال الی الوصال ...» ( همدغه قلمي نسخه )

لیکوال او موضوع :

په نسخه کې د بایزید روښان ، بایزید مسکین اوبایزید هادي او شیخ داټول نومونه لکه چې د بایزید روښان لپاره دده په نورو آثاروکې راغلي او کښل شوي دي ترسترګو کیږي .

ددغې نسخې نورهرڅه ډیر روښانه دي ، نوم یې عریان الغیب دی، په وروستۍ پاڼه کې په سره خط لکه چې دلته یې وینئ لیکل شوي چې دبایزید انصاری تصنیف دی . دمتن په پیل کې هم په ډاګه لیکل شوي چې دغه نسخه د بایزید روښان د یوه مرید او شاګرد حسین بن حسن د سوالونو ځوابونه دي چې لیک یې د خیرالبیان له لیک سره نژدیوالي لري ، دم ګړۍ ما یوازې دا ټکی په دغه نسخه کې ولید چې دلته ( ګ ) د ( ک ) په بڼه لیکل شوې اوداهغه څه دي چې د روښانیانو په تیره دبایزید روښان

په نورو آثارو کې هم په ورته ډول سره ترسترګو کیږي . نسخه په دري ډوله فارسي په لوړه ادبي املايي انشايي ورتیا سره لیکل شوې داسې چې له زیاترو هغو روښانی آثاروسره چې تراوسه په فارسي ژبه زموږ لاس ته راغلي دي دلیکنې ډول دورتیا له املـه تـوپیرلري مانـاداچې فارسـي ژبـه بـې لکـه چـې اسـتاد حبیبـي دروښـان پیـر دیوشـمیرلیکنولپاره د ( ګـوډې مـاتې ) فارسـی نومونـه ورتـه کـارولې داسـې نـه ده ، لـه همـدې املـه موږعریـان الغیـب تـه دیـوه جامع فارسـی اثـر هـم نـوم ورکـولای شـو اوهـم دهندوستان د منځنیو پیړیو د دري ډوله اوچتی فارسي لیکنې ځانګړني په کې لیـدای او لوستلای شو. چې ګران لوستونکی کولای شي دغه رمز ته ددغو څو قلمي پاڼود لوستلو په ترڅ کې هم ځیرشي .



دعریان الغیب ۱۱ – ۱۲ مخونه

موضوع یې عرفان او تصوف دی ، خو څه چې په دغه اړه له مبالغې پرته وویل شی هغه دادي چې دلته، د روښانی فلسفی او عرفاني لید له پلوه مسایل په خورا لوړ تحلیل او فلسفی اندازاو اوچتې فارسي ژبې تشریح شوي او لیکل شوي دي. ما تراوسه په روښانی آثارو کې د عرفان او تصوف اوله روښانی لید سره سم دمقامونو داډول عالي تشریح له پښتو پرته په فارسي کې نه وه لیدلي ، ماناداچی له املااو انشآ یی جوړښته نیولې بیا ترفلسفي درک او تحلیل پورې ډیرې اوچتې علمي ځانگړني لري چې دغه اثرته یې له نورو روښاني متونوسره یوځانگړی توپیراواهمیت ور په برخه کړي دي .

په عریان الغیب کې بایزید، هادي، مسکین ، شیخ او کامل پیر هغو پوښتنو ته ځواب وایې هغه چې دده دیو شاگرد اومرید حسین بن حسن له خوا طرحه کیږي په دغو پوښتنو کې زیاتره د ایمان ، کامل پیر، دڅلورعلمو یا مقامو لکه ( شریعت ، طریقت ، حقیقت او معرفت ) په اړه هغه هم د قرآني آیایتو ، نبوي او قدسي احادیثو پرښنسټ خبرې کوي. چی د تشریحاتو ډول یې له هغو تشریحاتو سره گرد سره یوشي دی لکه چی بایزید روښان په خیرالبیان کې په پښتو ژبې سره کړی دی د ویلو ډول او تسلسل یې هم د خیرالبیان په شان دی چې لومړی قرآنی آیت ، بیا حدیث او له هغه وروسته د مطلب ترجمه په فارسی کې راوړي :

« اوبایزید ! دخپلې پوهې په اټکل یې وکښه تمام گوره انا کل شئ خلقنا بقدر... ( تحقیق هر شی را پیدا کرده ام با اندازه ) په قرآن کې دی عیان . (کان بقدر علم و عقل الانسان ) هادي ویلي دي رحمت دخدای په ده داکلام » ( خیرالبیان دکابل عکسی چاپ )

لکه چې یاده مو کړه په عریان الغیب کې د تحلیل یوه ځانگړی ورتیا ترسترگو کیږي، سره له دې چې دغه ورتیا د بایزید روښان د خیرالبیان کې په پښتو

ژبه هم شته ده ، خو دلته په ډیرو برخوکې له یوه ځانګړي وضاحت سره مل ده ، په عریان الغیب کې د علم په برخه کې وایي :

" علم نبی چهار است اول شریعت ودوم علم طریقت وسوم علم حقیقت وچهارم معرفت باین چهارعلم کفتنی (گفتنی ) هرمقام مکویی (میگویی ) وهرکردنی میکنی وازناکفتنی (گفتنی) وازناکردنی حذرمیکنی واز رویت واز یافتن وازشناختن و ازقربت واز وصلت واز توحید حق خبرداری فهو المراد پس خود را صادق مطلق بشمار وبعد ذلک بیقین راست باورکن که ایمان بخدای ورسول وی آوردۀ وهرکه درین وصف بود اجروی آنست که درقرآن یاد کرده است ولهم اجرهم نوُرُهمُ...(۶۴ مخ قلمی )

له همدغې لیکنې سره په پرله پسې توګه بیا ددغو څلورو علومو د زده کړې په برخه کې په یوه ځانګړي دریځ او مقام باندې ټینګار کوي او خپل مرید ته وایي :

" ای عزیز این چهار علم که بیان کردم بی پیرکامل حاصل نمیشود پس سالک را باید که طلب پیرکامل بکند تا از پیر راه بیابد وبی دین نماند وپیر را باید که راه نمائی کند وباندازۀ ومعنی ترتیب آنست که چون زراعتی غله را زراعت کرده باشد وهرکیاه (گیاه) که باغله برآمده باشد پرورده ونیکو برآید چون اخلاق بد از وی بستاند بعدازآن اخلاق نیکو بجا بنهد و شرط اول چست (چیست ) که چه کند اول شرط آنست که عقل ویرا درسر خواب برده است آن (را) بیدارکند وخواب ازوی بیرون کند تا کوهر (گوهر) عقل وی منورکردد ( گردد ) وتا هنوز عقل کار منفعت دین بودآن بکند واز ان (آن ) که زیان دین باشد ازآن حذرکند بنکر (بنگر ) که مشایخ کامل فرموده است العقل ینامُ فی الانسان من لم استیقظ عقله لم یخرج من ظلمت الی النور ولم یروهُ ولم یعرفه فی الظلمة اضر الدین ولانفعهُ دوم آنکه ازهوای نفس یعنی ازآرزوی تن بازکرداند (گر)وچشم عقل بهوای نفس دارد یعنی آرزوی تن بچشم عقل فهم دارد تا

بفرمان هوأ نفس کارنکند ازآن که سرمایهٔ کناه (گناه) آرزوی تن است و هرنبی وغیرنبی را از راه گمراه کر (گر) داند... " (۸۰مخ قلمی)

**د دغې نسخې د ليکلو ډول** :

لکه چې په تیرو کرښو کې اشاره وشوه ، د نسخې په پیل کې ویل شوي چې دغه نسخه دهغو پوښتنو پرېنسټ لیکل شوې ، هغه چې د بایزید هادی یو شاګرد حسین له ده څخه کړي دي، لیکنه داسې ښکاروي چې د لیکنې ډول یې (ملفوظات یا وینې ) وي او دا هغه ډول دی چې تردغه مهاله په هند او خراسان کې له زیاتو روحاني او عرفانی پیرانو او فاضلانو څخه په میراث را پاتې دی دنظام الدین اولیا ملفوظات (فوائد الفواد) د حضرت باقی باالله او مجدد الف ثاني ملفوظات او همدا شان د نورو اسلامی عارفانو داډول آثار او ملفوظات له موږسره تراوسه پورې شته دي ، په عریان الغیب کې هم ټولې خبرې او پوښتنې په خپله د بایزید هادي دلکچر او ځواب په بڼه دده مخاطب یامرید ته دده په خپلو الفاظو او لیکنه کې لاس په لستوڼي ورغبرګي شوي او ویل شوي دي . په پای کې له هغو ارشاداتو او وینو څخه دبایزید هادي عریان الغیب جوړشوی دی. دعریان الغیب دغه وینې ترډیره حده دهغو ارشاداتو په شان او بنسټ دي هغه چې په خیرالبیان کې په پښتو ژبه ویل شوي او لیکل شوي دي. ژبه یې فارسي دري ده او ښکاروي چې دژبې املااو انشآیی یې خپل درنښت او ارزښت لري ، او ژبنې تعقید په کې لږ لیدل کیږي . دفارسي ژبې دیوشمیر نورو پخوانو آثارو لکه کشف المحجوب ، تذکره اولیاء او په راوروسته نوروسره ورته والی لري .اوان چې هغو فارسی متونو په شان چې په مسجع ډول ویل شوي او لیکل شوي ځانګړنې هم په کې لیدل کیږي. چې له هغو سره هم په هراړخیزه توګه خپله یورنګي ساتلی شي .ماته خو په یوه نظر عریان الغیب دبایزید د ملفوظاتو یوډیرعالی او نادرډول ښکاره شو . داچي ده به لیکلي وي که نه او یا به دده

شاګرد حسین لیکلی وي ، په دي باب به د نسخي تر دقیقي څیړني پوري سترګې په لاره شو ، زموږ د درانه محقق ګران معصوم جان هوتک نظر هم په دغه برخه کي همدا دادئ. خوزموږ له دغه احتیاط سره سره د کتاب پرورستۍ پاڼه باندې موږ په ډاګه لولو چې « تمت تمام شد نسخه عریان الغیب من تصنف بایزید انصاری » . بله خبره داده چې ما تراوسه په دی نیت حالنامه نه ده کتلي ، زیات باورشته چي د حسین په اړه به د حالنامي اونورو روښاني آثارو په پاڼوکې هم معلومات ومومو .



دعریان الغیب وروستي مخونه

ددې لپاره چې د حضرت بایزید روشان ددغه اثر د لیکلو په ډول باندې لږ نورهم پوه شو ، یادونه کوو چې ده په خپل فارسی نثر کې هم هغه تګلاره په پام کې نیولې ، هغه چې د اسلامی عرفان یوشمیر مخکښو فارسی ژبو عارفانو په خپلو مهمو آثارو کې په پام کې نیولې ده . جالبه خو داده چې په عریان الغیب کې هم د مسجع ډوله نثر ځانګړنی هم ترسترګو کیږي ، په هغه ډول لکه چې بایزید مسکین هغه د خیرالبیان په پښتو لیکنه هم په پام کې نیولې دي، داچې خیرالبیان د پاک قرآن د رحمن سورة پروزن او آهنګ ویل شوی ، په عریان الغیب کې یې دغه مسجع تګلاره په ځینو برخو کې ترسترګو کیږي ، خو نه په ټول عریان الغیب کې .

" یا حسین درین تمثیل فهم کن که عزازیل چند علم خوانده بود و چند ملک و مملکت را دیده بود و چند جای طاعت و عبادت کرده بود چون حق سبحانه و تعالی امر کرد که به آدم سجده کن ووی سجده نکرد چون بیک امر خداوند بی فرمانی کرد بخدای عاصی شد باز توبه وزاری وباز کشت (گشت) نکرد مجرم و در تاریکی دور راند کجا و در زیان کاری بماند بخدای عاصی شد که در قرآن یاد کرده و کفته (گفته) است ان الشیطان کان للرحمن عصیاً یعنی توبه نکرد و درمعصیت ماند صفت ونامش بدل شد شیطان کشت (گشت) ومطیع وی دایم درعذاب شد باز بقصهٔ آدم فهم کن که آدم صلواهٔ الله علیه چه کونه (چگونه) صورت یافته بود وروح درآمده بود وبه بزرکی (گی) رسیده بود وعالم ملکوة ویرا سجده کرده بود و دربهشت درآمده بود و از نعمت بهشت کوناکون (گوناگون) خورده وچسیده (چشیده) بود وکوناکون (گوناگون) حلهٔ بهشت بتن وی پوشیده بود و تاج بهشت برسروی نهاده بود لیکن یکنهی پیش آدم صلواة الله علیه نهاده بود که به نزد

درخت مکرد (مگرد) وفرمان شیطان نیز چون این یک بی فرمانی کردوهرچند که فضل درجه مذکور یافته بود ... "

په پای کې دم درحاله له ټولو دوستانو او څیرنکو څخه هیله من یم چې په دغه اړه به خپلې مشورې ، لیکنې او اوریدنې له ماسره شریکې کړي ، زه یوځل بیا خپلو ټولو دوستانو او دروښاني فلسفي او عرفاني مطالعاتو ددغې نوې موندنې له ښه زیرې سره یوځای ټولو ته مبارکي هم وایم او وړیام چې موږ دتاریخ په یوه حساسه مرحله کې داسې پلرونه او نیکونه چې دعلم او عرفان له لارې یې داخلاقو او لوړو انساني خصایلو تشریح راته کړې درلودل او داسې لوی اوشهکاري میراثونه چې هره کرښه یې له ویاړ او پرتم پرته بل څه نه ده راته پرېښې دي .

مجيب الرحمن اميري

# د پسرلي په شاعرۍ کې ټولنيز او اخلاقي ايډيال
## (لومړۍ برخه)

اخلاق په اصل کې هغه ټولنيز ارزښتونه دي، چې د افکارو، علومو او تجربو زېږنده ګڼل کېږي او د انسانانو اعمال وربانديې په ښه توګه تول او تنظيمېږي. دا هغه څه دي، چې د اخلاقي فلسفې له اصولو سره هم يو څه اړه لري.

د نړۍ مشهور فيلسوف کانټ هم وايي "اخلاقي اصول د رياضياتو په څېر فطري دي، له پخوانيو علومو سرچينه اخلي، يعنې هغه تجربې چې د حواسو له لارې لاسته راځي، دا د اخلاقي اصولو د دين ستن، د احساس او وجدان اړتيا او زموږ د وجود هسته ده.

له نېک عمل سره مينه هغه مطلق امر دی، چې زموږ له وجدان څخه راپورته کېږي. د دوو تنو ترمنځ باطني الزام وي، موږ احساس کوو، چې روحاً يو په بل پورې تړلي يو او دا هغه احساس دی، چې نړۍ ته د سترګو غړولو پر مهال زموږ په وجود کې و." (۱: ۲۱۸)

په دې توګه موږ ویلی شو، چې له نېکو کارونو سره زموږ مینه له وجدانه سرچینه اخلي. په دې توګه د نېکو کارونو تړاو له وجدان سره کېدای شي. په خپله وجدان هم له عقل نه پورته یو شی دی، چې په ټولیزه توګه د انساني حواسو د نتیجو او ادراک ساتنه کوي او د ابلاغ په وخت خپل کردار ادا کوي.

کانت هم تجاوز، خیانت، غلا، بدغوښتنه، تعصب، وژنې، شته راټولول او دې ته ورته نورې کړنې غندلې او محکمول د ننیو اخلاقو قانون ګڼي او دا قانون د هغو فضایلو او ښو کړنو ضامن بولي، چې له بدیو او ناوړه کړنو سره لوی توپیر لري او دا ټول هغه څه دي، چې سرچینه یې بیا هم وجدان دی.

لوی شاعران هرو مرو فیلسوفان هم وي. موږ که د استاد پسرلي اخلاقي او ټولنیز ایډیال مطالعه کوو، نو د استاد پسرلي فیلسوفانه نظریات مخې ته راځي، نو ځکه دا قضاوت کولی شو، چې نوموړی په حقیقت کې فیلسوف هم دی.

موږ چې کله هم د وجدان خبره کوو، نو په ذهن کې مو د ښو کړنو تصویر راځي، له دې ښکاري چې وجدان په حقیقت کې د ښو کړنو د تنظیم منبع ده، خو که څوک ناوړه کړنې ترسره کوي، موږ هغه ته بې وجدانه وایو، معنا دا چې وجدان نه لري.

په دې توګه غوره اخلاق د غوره ټولنې استازي توب کوي او ناوړه اخلاق د ناوړه او ناسمې ټولنې. یو شمېر ټولنې شته، چې د غوره اخلاقو تر څنګ ناوړه اخلاق هم په کې خواره وي، خو د ناوړو اخلاقو پر وړاندې مبارزې ته اړتیا وي.

د استاد پسرلي په غزلونو کې هم داسې مسایل ډېر بیان شوي چې د نېکو او غوره اخلاقو ټولګه جوړوي او همداشان داسې موضوعګانې هم په کې شته چې د ناوړه اخلاقو جز ګرځي، چې هغوی یې غندنه کړې ده. موږ به د ده په شاعرۍ کې دواړه ډوله موضوعګانې په لنډ ډول را وسپړو.

د بېلګې په توګه دوه مخي توب، دوه رنګي او منافقت هغه څه دي، چې په یوه ټولنه کې د خلکو پر ذهنونو او افکارو باندې ناوړه اغېزه ښندي او ټولنه د ناسمون پر لوري رهبري کوي. په حقیقت کې د انساني ټولنې مکرم او معزز شخص هغه څوک دی، چې هغه باتقوا او الله ج ته ډېر نږدې وي. اما زموږ د ټولنې په ګڼون په یو شمېر ټولنو کې داسې کسان شته، چې خودخواه، جاه طلب او یواځې ځانویني، نور هېڅ هم نه. دا ډول خلک په ټولنه کې کرکې او بدمرغیو ته لار پرانیزي. استاد پسرلی هم همدې مسئلې ته اشاره لري، وایي:

ډېر و پرېدلی یم په ژوند له دوه ژبانه خلکو
له زهردارو ښامارانو لرې لرې ښه یم
(۲:۲۷۹)

دوه ژبي خلک هغو ته وایي، چې په خوله یې یوه وي او په زړه بله یا دا چې یو چا ته یو څه وایي او بل چا ته بل څه. دا په حقیقت کې د درواغجن او منافق انسان خاصه ده. دروغ په شریعت کې هم د لویو ګناهونو په سر کې راځي او دا داسې یوه ټولنیزه بدمرغي ده، چې ټولنه له هره اړخه ځپلې او رنځولې شي. استاد پسرلي هم دا ډول درواغجن او دوه ژبي خلک له زهردارو ښامارانو سره تشبیه کړي. له ښامار سره د دوی تشبېه هم د دوی د باطني او ظاهري خصلت له مخې شوې ده. نو دا چې په ژوند کې تر ډېرې نالېدلی او دردېدلی دی، ځکه یې له دوی نه پناه غوښتې ده.

څه بده دوره شوه، بې شره بشر نه وینو
یوه بې یې پرده ده، چې بې نه وي شر پاته شي
ای زړه بې تبعیضه د هر سړي په ښه ورځه
غواړې چې ارزښت دې دایم لکه زر پاته شي

لږ ګوره عیبونو ته ښو ته نظر ښه کوې
پلونه چپ و راست د هر یوه رهګذر پاته شي
(۲:۳۷۶)

په پورته بیتونو کې لومړی بیت ډېره نازکتیا لري، هغه دا چې لفظاً تجنیس راغلی. که د بشر د کلمې لومړی توری (ب) لرې کړو، شر پاتې کېږي. استاد هم د داسې یوې دورې یادونه کړې، چې بشریې د سر (ب) نه لري، یعنې بشریې په شر اوښتی او که بېرته ورته (ب) ورکړل شي، نو بشر ترې جوړېږي او بشر باید له شره خالي وي او ټول بشري اخلاق او معیارونه ولري.

دویم بیت هم د تبعیض مسئله ده. په اسلام کې هم د تبعیض، کرکې او نفرت غندنه شوې. انسان باید له بل انسان سره له هر ډول تبعیض څخه ډډه وکړي. هغه څوک چې دا ناروغي ونه لري، تل به ژوندی او تل به یې نوم ښه یادېږي.

په درېیم بیت کې هم خپلو عیبونو ته پاملرنه کول، د یوه ټولنیز او اخلاقي اصل په توګه یاد شوي دي. هر انسان له عیب او تېروتنو خالي نه دی. انسان چې هر څومره پوره شي، بیا هم انسان دی، بنده دی، عاجز دی او محتاج دی؛ خو غوره انسان هغه دی، چې خپلو عیبونو ته پاملرنه وکړي او خپل عیبونه د خپلې وسې مطابق له منځه یوسي. انسان خپلو عیبونو ته ډېر ځله خپله نه متوجه کېږي، بلکې تر ډېره یې عیبونه د نورو له خوا ور په ګوته کېږي؛ خو ښه انسان هغه دی، چې د ځان په اړه د نورو سالمې نیوکې او د هغوی له خوا ور په ګوته شوي عیبونه په خپلو ورځنیو کړنو کې پلي او په پام کې یې وساتي. خو که څوک خپل عیبونه او خپل نواقص په پام کې ونه نیسي او یواځې د خپل زړه ومني، نو هرو مرو به یې د بدو بد یادېږي او د ښو ښه. که څوک بد وکړي، په بد نامه به مشهورېږي او که ښه وکړي په ښه.

په یوه انسان کې انسانیت او انساني جوهر تر ټولو غوره اصل دی. یو شمېر انسانان شته، چې له لرې او په ظاهري ډول ډېر ښه ځرګندېږي، خو باطناً سم نه وي او نه په کې انساني جوهر او اخلاق وجود لري. د انسان پېژندل ډېر ستونزمن کار هم دی، خو په حقیقت انسان د انسانیت په معیار سره پېژندل کېدای شي او د انسانیت معیار د انسان په باطن پورې تړلی دی؛ ځکه داسې انسانان هم شته، چې په ظاهر یو رنګ او په باطن بل رنګ لري. خو غوره انسان هغه دی، چې د باطن او ظاهر رنګ یې یو وي او د انسانیت په معیارونو برابر او مجهز وي او همداشان موږ باید یوازې د انسان پر ظاهر ونه غولېږو، بلکې باطن ته یې پاملرنه وکړو. استاد پسرلی هم همدې ټکي ته اشاره لري او وایي:

دا ښویه سپوږمۍ هم کوږې ناواره ده که ورشې
ښکارېږي ډېر کاږه سرې هم سم له لرې لرې
(۲:۴۴۴)

پر ځان ویسا او باور بل هغه ټولنیز اصل دی، چې د انساني ښکو اخلاقو یوه برخه ګڼل کېږي. انسان ته بویه چې تل پر ځان باوري وي، د بل در ته سترګې و نه نیسي او نه هم د بل په مټ وناز ېږي. موږ په پښتو کې په دې برخه کې ځینې متلونه هم لرو، لکه (چې په تمه د سپور شي، هغه پاتې په میرو شي – پردي خواږه یا پور دي یا پېغور – پردی کټ تر نیمو شپو وي او داسې نور). له دې ښکاري، چې د بل پر مټ، د بل پر خواږو، د بل په ورکړه، د بل په لاسنیوي باید تکیه ونه شي؛ ځکه دا ډول کړنې انسان لټ او بدبخته کوي او بالاخره د ټولنې د اوږو بار ګرځي او له هڅو او تلاش څخه ډډه کوي. انسان باید تل هڅاند وي، کار وکړي، زیار وګالي او همدا د پرمختګ اصلي عامل هم دی. استاد پسرلی هم پر بل تکیه کول غندي، پر هغو مرګ غوره ګڼي او بالاخره انسان پر ځان بسیاتوب ته رابولي، وایي:

سپی که تر سپوږمۍ ورشي هم به اوري کوچ – کورې
مرګ ښه دی له لوږې نه، نه د بل په ټوک غپل
سیوری دې د بل ورک شي ان که د هما هم وي
څه دي د بل سیوري کې بس د مختورۍ متل
(۲:۳۴۲)

پت او عزت د انساني او اسلامي ټولنې تر ټولو مهم اخلاقي اصل دی. بې پته او بې عزته سړی په ټولنه کې منفور او حتا ځای هم نه لري. په اسلامي ټولنه کې د پت مسئله ډېره مهمه ده. هر انسان هیله لري چې د پت او د عزت ژوند ولري، خو د دغه ډول ژوندانه لپاره جهاد، همت او مبارزې ته اړتیا ده او که خدای مه کړه د چا ژوند بې پته او بې عزته شي، نو د هغه ژوند بیا نه ژوند دی او تر هغه ورته مرګ ډېر غوره دی، لکه:

د پت د ژوند لپاره واړه عمر بویه جهاد
ښه اس لایق شي د چړې که له جهاده ووت
(۲:۴۷۱)

یا:

یو ډز به د واورینو غرو په شنو درو کې نه وای
همت که ستړېدونکی وای او تنګ ویده کېدای
(۲:۴۶۰)

د انسانانو پر وړاندې ظلم، تېری او زیاتی، د ټولو انساني او اخلاقي اصولو خلاف کړنه ده. انسان له انسان سره باید مینه وکړي؛ خو له بده مرغه ځینې انسانان پر ځینو نورو باندې ظلم او تېری کوي. دا ډول انسانان انساني احساس او عاطفه نه لري. ظلم بقا نه لري او ظالمانو هر وخت د خپل ظلم سزا لیدلې ده او ویني به یې، لکه:

درد رسوي نورو ته اخته د بې دردۍ په رنځ
وای د هغه چا چې له احساسه را لوېدلي دي
کوم چې يې تهذاب کې د سرونو کوپړۍ اېښې وي
هغه لوړ قصرونه له اساسه را لوېدلي دي
(۲ : ۵۸۶)

عبرت اخيستل د ټولنيزو او انساني اخلاقو په سمون کې ستر رول لري. د بېلگې په توگه استاد پسرلی د واکمنو زنده گي د عبرت زنده گي بولي. په دې معنا هغه څوک چې واک ته رسېږي، د هغوی له کړو څخه بايد عبرت واخيستل شي. که ښه يې وکړل، ښه به يې ياد شي او که بد، ظلم او ناروا وې يې وکړې، بد به يې ياد شي، خو د هغوی له دواړو (ښو _ بدو) بايد عبرت واخيستل شي او تخت او څوکۍ ته د رسېدو پر مهال په پام کې ونيول شي. تخت او څوکۍ هېڅ ته هم د تل لپاره په ميراث نه پاتېږي. ښه خلک هغه دي، چې خلکو ته يې گټه او خير ورسېږي.

د واکمنو زنده گي هم د عبرت ده
مست موجونه دي چې يو پر بل سپرېږي
دا دستور دی زورور امواج د بحر
لحظه پس تر کمزوريو لاندې کېږي
(۲ : ۷۰۰)

فکري بدلون او نوښت د يوې سالمې انساني ټولنې په رامنځ ته کولو کې ډېر مهم دی. د فکر بدلون په حقيقت کې د ټولنې بدلون دی. هغه ټولنه چې تل پر يوه فکر او يوه فکري بنسټ ولاړه وي، تل به په يوه حال وي او د پرمخيون هېڅ نښې به ورکې نه ښکاري؛ خو هغه ټولنې چې د فکر او فکري بنسټونو د بدلون په هڅه کې وي، هغه به تل بريالۍ، پرمختللې او هوسا ټولنې وي.

الله ج هم د یوه قوم، ټولنې او ولس حالت تر هغو نه بدلوي، تر څو چې هغوی خپل حالت په خپله بدل نه کړي. استاد پسرلی هم د فکر او فکري بنسټونو د بدلون غوښتونکی دی او د ټولنې او ولس د پرمختګ، بریا او هوساینې اصلي لامل هم د فکر بدولون بولي او د فکر بدلون په خپله د حالت د بدلون لامل کېږي، لکه چې وایي:

څو ځان بدل نه کړو احوال به مو بدلېږي څنګه
چوچوڼي هم چې را لویېږي بال و پر بدلوي
نه زوړ منطق چلېږي یاره، نه زاړه فکرونه
ځیرک زلمي په تاوده جنګ کې هم سنګر بدلوي
که سم بدلون غواړې پسرلیه فکر مه هېروه
مود خو خولۍ بدلوي، فکر دی چې سر بدلوي
(۲:۷۲۳)

که موږ په ژوند او طبیعت کې تنوع نه درلودلی، نو نه به مو پرمختګ کولی او نه به مو له ژوندانه څخه خوند اخیستلای. په نړۍ کې هېڅ داسې ټولنه نه شته، چې تل په یوه حالت او یوه رنګ پاتې شوې وي، بلکې په ځلونو ځلونو یې تنوع، اوښتون او اوړون موندلی دی. که موږ وګورو نو د انسان ژوند او دنیا ته د هغه راتګ په خپله یوه ډول بدلون او انقلاب بلل کېدای شي، ښاغلی پسرلی وایي:

که بشر په طبیعت کې بدلون غواړي او راوړي یې
د ادم تخلیق په خپله په خلقت کې انقلاب و
(۲:۹۶۷)

انسان الله ج انسان پیدا کړی، عقل او شعور یې ورکړی، پوهه او حکمت یې ورکړي او بالاخره یې اشرف المخلوقات ګرځولی دی. د انسان د باطني او ظاهري ښکلا وو معیار انسانیت ښودل شوی دی. انسانیت د یوه کامل انسان ټولې ښېګڼې او

ځانګړنې په ځان کې را نغاړي، خو يو شمېر انسانان داسې هم دي، چې انسانيت په کې نه شته، خو انسانان دي، معنا دا چې انساني جوهر يا انسانيت نه لري. تر دې ډول انسانانو حيوانات هم غوره ګڼل شوي. د استاد پسرلي په عقيده حيوان هېڅکله له خپل حيوانتوب څخه نه دى اوښتى، خو انسان دى، چې له انسانيته حيوانيت ته ځي او حتا تر حيوان هم بدتر شي، لکه چې وايي:

يو حيوان په ټول عالم کې سړى نه شو
دا انسان دى چې په خپله ځناور شي
(۲:۱۷۶)

که چېرې يو انسان دا درک کړي، چې څنګه يې خپل ژوند خوږ او ور ته ګران دى، همداسې د بل د ژوندانه لپاره هم فکر وکړي، نو هېڅکله به د بل انسان ژوند ته په ټيټ نظر و نه ګوري او نه به له بل انسان نه ژوند واخلي.

کاشکې خو درست په دغه و پوهېږي
چې څنګه زما داسې د بل دى ژوندون
(۲:۵۹۸)

استاد پسرلي ته انسانيت دومره مهم او ارزښتمن دى، چې په هېڅ صورت کې د انسان وژلو، د انسان رنځولو، کړولو او پر هغه باندې د ظلم کولو جرئت نه کوي، چې لاندې غزل يې د انسانيت د فلسفې يوه ښه بېلګه کېداى شي:

د ټيټ سر زنده ګۍ ته فخر و شان ويلى نه شم
له سره به مې تېر شم، خو وجدان وژلى نه شم
کسات به د شهيد ولس له روسه اخلم څنګه؟
مومن يم، کونډې، رنډې، يتيمان وژلى نه شم

دستور د کریملین دی، چې هم خپل وژني هم بل
د دوی غوندې بې رحمه، انسانان وژلی نه شم
دغه خواري یې بس ده، چې د روس په وندر ښکېل دي
د شمې په څېر سوي پتنگان وژلی نه شم
افغان یم په ټېنکونو مغروران یې را ته گورئ
روسی نه یم او تش لاس غریبان وژلی نه شم
انسان یم انسانیت زما د توري مخه نیسي
اسیر چې یې بې پرسه په میدان وژلی نه شم
دوښمن سره به گورم که افغان وي، که روسی وي
په جرم د روسي ژبې روسان وژلی نه شم
پسرلیه له زمریانو مو کړې ډېرې درگې لوگې
دا چاوې چې سپر سپر یران وژلی نه شم
(۲:۴۷۴)

ځانغوښتنه یا خودخواهي او همدا شان شهرت غوښتنه هم هغه څه دي، چې له انسانیت او انساني اخلاقو او معیارونو سره ټکر لري؛ ځکه دا کار په انساني ټولنه کې د کرکې رنځ خپروي او همداشان په خپله دا ډول انسانان له سالمو انساني معیارونو سرکشي کوي او بالاخره ټولنیزو اخلاقو او د انسانیت معیارونو ته صدمه رسوي. استاد پسرلی هم خودپرست یا ځانغوښتونکی انسان تر گاو پرست او مار پرست بدتره گڼي، ځکه په گاوپرست او مارپرست کې عاطفه او مینه وجود لري، خو ځانغوښتونکی له مینې لرې پاتېږي، عاطفه یې سوځي او له انساني ټولنې څخه په انزوا کې پاتېږي. دا پاتې کېدل یې انساني مینه او عاطفه له منځه وړي او کله یې چې دا له منځه لاړل، نو انسانیت هم ورنه تللی بویه، لکه چې وایي:

ګاو پرست او مار پرست کې سرېتوب شته
خو لاس واخله له هغه چې خودپرست شي
(۲:۷۷۰)

خو له بلې خوا د انسانانو ترمنځ ورورګلوي، مینه او محبت هغه څه دي، چې د انساني ټولنې په رغبنت، پرمختګ او هوساینه کې ستره ونډه لري. د انساني ټولنې معنا دا ده، چې انسانان په کې ژوند کوي او انسان په خپله له انس څخه اخیستل شوې کلمه ده. انس مینې او محبت ته وايي. په دې توګه انسان د الله ج داسې مخلوق دی، چې په مینه پیدا شوی. له یو بل سره مینه، وروروالي او ښېګڼه وکړي، خو دا کار ژوندي کولی شي، نه مړه. د استاد پسرلي په لاندې بیت کې د مینې او وروګلوۍ ډېره ښه بېلګه وړاندې کړې. سیوری تل له انسان سره مل وي، خو ورور یې نه شي کېدای. سیوری انسان ته مینه، عاطفه، مرسته او همدردي نه شي رسولی، خو ورور دا هر څه ورکولی شي، لکه:

وروګلوي وي په ژوندو کې نه په مړو کې
سیوری خپل وي د انسان خو ورور یې نه وي
(۲: ۸۲۹)

که وروګلوي انسان ته خوښي او نېکمرغي ورپه برخه کوي، نو همداسې نفاق او بېلتون انسان ته بدمرغي هم ورپه برخه کولی شي. په یوستوي ځان هېڅ نه کېږي او نه هم له یوه لاسه ټک خېژي. زموږ د اسلامي ټولنې د بدمرغۍ یو مهم لامل هم دا دی، چې یو بل ته مو په حقیقي توګه لاس نه دی ورکړی. که موږ یو بل ته لاس ورکړو، د یو بل مرستې ته ودانګو او یو بل ومنو، نو د نړۍ هېڅ قوت به مو مات نه کړای شي، لکه چې وايي:

جوړ زنځیر شي ترې فیلان پرې ترل کېږي
چې وړې وړې کړۍ سره پیوست شي
(۲:۷۷۰)

بیا مو ټینګ سدونه نه شي تمبولای
که په یوه مرکز را غونډې پرګنې کړو
(۲:۶۵۵)

انسان باید تل په تلاش او هڅه کې وي. د بل د اوږو بار نه وي او نه هم د بل تقلید او پلیونی وي، بلکې په خپله نوښتګر وي. په بل پسې تګ او د بل په تمه ژوند، انسان د خپل فکر له مسیره ګرځوي او د استاد پسرلي په وینا هغه به تل مختوری او تل به ټکرې خوري:

هغه پرېوتی به مختوری وي تل
چې لکه سیوری په هر چا پسې ځي
(۲:۸۵۳)

د بل تمه له ځان سره وي لویه دوښمني
د بل په مټ لاسونه د دوښمن مه لنډوه
(۲:۵۹۷)

نور بیا...

پوهنیار فهیم بهیر

# د یو لیکوال د سبکي ځانګړنو پېژندنه

اوسمهال چې ورځ تر بلې د زده محصلينو علمي کچه لوړېږي او د بېلابېلو ټولنيزو عواملو پر اساس يې ذهنيت پراخېږي، نو په خپلو تدريسي او تيوري اثارو کې ګڼ شمېر ستونزې وينې چې د دوی د زده کړو غوښتنو ته سم ځواب نه شي ويلای يا د دوی په تدريسي اثارو کې هغه مسايلو ته پاملرنه نه ده شوې چې د دوی په روزلو کې اساسي رول ولري.

د دې ستونزو په لړ کې د سبک پېژندنې موضوع ده چې په ډېرو تدريسي اثارو کې ورته لازمه پاملرنه نه ده شوې. د سبک پېژندنې له لارې د يو شاعر او ليکوال سبکي ځانګړنې پېژنو او د همدې ځانګړنو له لارې موږ کولای شو د يو غوره او عالي ادب په رامنځ ته کېدو کې نوي رنګونه واخلو. په ګڼو تيوري اثارو کې دومره ويل شوي چې سبک د سپينو زرو ويلي کول او په قالب کې اچولو ته وايي د دې تر څنګ د دې يادونه هم ور سره راغلې چې د يو ليکوال يا شاعر د ويلو خاص طرز ته سبک وايي. ايا هغه

کسان چې غواړي سبکي ځانګړنې وپېژني يواځې د پورتنيو تعريفونو په اساس نه شي کولای چې د يو ليکوال يا شاعر په ليکنه کې سبکې ځانګړنې پيدا کړي. ښه لا ره دا وه چې په هغه لارو چارو بحث شوی وای چې د هغې پر اساس مورږ سبکي ځانګړنې پېژندلی شو او بيا په يوه ليکنه کې په عملي توګه د يو ليکوال سبکي ځانګړنې ښودل شوې وای. حتې د ژبو او ادبياتو پوهنځي ډېر محصلين تر فراغت وروسته هم د يو ليکوال يا شاعر سبکي ځانګړنې نه شي پېژندلای. اصلي ستونزه دا ده چې په تدريسي بهير کې دوی ته ياده موضوع سمه نه ده تشريح شوې او هم د دوی په اثارو کې ورته هيڅ پاملرنه نه ده شوې، لکه ادبي تاريخونه، نثري او نظمي اثار لوستل کېږي، مګر په دې اثارو کې هيڅ داسې عنوان نه ليدل کېږي چې د هغې د منځپانګې د لارښوونې په اساس مورږ د يو ليکوال سبکي ځانګړنې وپېژنو.

د سبک د پېژندنې پر لارو چارو سربېره په يو شمېر تدريسي اثارو کې د سبک د پېژندنې په اړه هم مبهم تعريفونه وړاندې شوي چې لوستونکو او محصلينو ته سبک په سمه توګه نه شي پېژندلای. د نمونې په توګه د پښتو ادب په لرغونې دورې اثر کې ليکل شوي: ((په هره اندازه چې سبک د يو ليکوال د طرز تفکر سره ټينګه رابطه لرله په همغه اندازه د ليکوال د ځانګړي ژوند له مختلفو دورو سره کلکې اړيکې لري ))(۲: ۵۱).

په دې متن کې محصل نه شي کولای، چې د سبک په اړه سمه پوهه تر لاسه کړي. همدا ډول په دې اثر کې د سبک په اړه نور معلومات هم په دې توګه وړاندې شوي: ((ادبي سبک له مورږ سره دا مرسته کوي چې د يوه خاص ليکوال او هنرمند د يوې تاريخي دورې اثر د بلې تاريخي دورې سره مقايسه کړو او په دې مقايسه کې د هنري اثارو د قهرمانانو کرکټرونو تحول او بدلون ښه وليدل شي))( ۲: ۵۱).

زه د یو محصل یا لوستونکي په توګه فکر کوم چې د سبک په اساس موږ یوائحې د دوه تاریخي دورو اثار پرتله کولای شو او د متن وروستۍ برخه: ((قهرمانانو، کرکټرونو تحول او بدلون ښه ولیدل شي)). د سبک له پېژندنې سره سم تړاو نه لري. دلته یو لوستونکی د لیکنې د طرز پر ځای محتوا په اړه فکر کوي، چې د لیکنې طرز نه بلکې محتوای مهمه ده.

د سبک په اړه همدا ډول راغلي: «لنډه دا چې ادبي سبک د یوه لیکوال او هنرمند د ټولو اثارو او د هغوی پرمختیا تر څېړنې لاندې نیسي» (۲: ۵۱). د دې متن په لوستلو سره هغه څوک چې غواړي سبک وپېژني په ذهن کې شکونه را ولاړېږي، چې سبک څه ډول پوهه ده چې د شاعر د ټولو اثارو پرمختیا څېړي؟!

په دې ادبي تاریخ (لرغونې دوره) کې د سبک تر سرلیک لاندې کوم مثال نه دی راوړل شوی او هغه نقطې یا ټکي هم نه دي معرفي شوي چې د هغې پر اساس د یوې لیکنې سبکي ځانګړنې پېژنو. د لرغونې دورې په ادبي تاریخ کې د خوشحال د ادبي مکتب او سبک د ځینو ځانګړنو تر سرلیک لاندې لیکل شوي: «د مضمون له پلوه هم په دې سبک او مکتب کې د ژوند ټول اړخونه را بر سېره شوي دي. په دې وخت کې ډېر اثار لیکل شوي دي او د پښتو ادب دنیا یې رنګینه کړې ده خلک یې د اجتماعي او د ژوند له نورو مسایلو سره اشنا کړل» (۲: ۵۸).

د پورتني متن په لوستلو سره ستاسو پام دې ته اوړي چې د سبک په پېژندنه کې د لیکنې موضوعي اړخ مهم دی نه لفظي.

څو کاله وړاندې مې د اروابناد روهي په ادبي څېړنو کې د سبک په اړه مقاله لوستې وه چې د سبک د پېژندنې په اړه یې بېلابېل معلومات وړاندې کړي و، زما په اند هغه نقطو ته یې اشاره په کې نه ده کړې چې له امله یې په اسانه توګه د یو لیکوال سبکي ځانګړنې وپېژنو او د لوستونکي د لا پوهاوي په موخه یې کومه لیکنه نه ده وړاند کړې

چې په عملي توګه په هغې کې سبکي ځانګړنې په ګوته شوي وي. استاد روهي د هېواد تکړه څېړونکی و، نوموړي د سبک په اړه مقاله د خپلې څېړنې د اصولو له مخې لیکلې وه؛ خو اوسمهال په ادبیاتو پوهنځي کې یاده مقاله د تدریس په برخه کې لوستل کېږي، نو ځکه ما پورتینو ټکو ته اشاره وکړه؛ خو اسدالله غضنفر د نثر لیکلو په هنر کې د رحمان بابا د شاعرۍ په سبکي ځانګړنو باندې مقاله لیکلې ده، په دې مقاله کې د نورو لیکوال پر عکس د شعر موضوعي اړخ ته یې هیڅ پام نه دی کړی او د سبک پېژندنې په تړاو د رحمن بابا د شاعرۍ ژبنۍ او ادبي ځانګړنو ته یې اشاره کړې ده او یوا ځنۍ مقاله ده چې د لیکنې د موضوعي اړخ پر ځای په کې د لیکنې د ژبې په طرز باندې بحث شوی دی.

اوسمهال چې د ادبیاتو په پوهنځیو کې د علو اکادمۍ د غړي څېړنوال سید محی الدین هاشمي ګڼ شمېر اثار تدریسېږي او نوموړي استاد یو ځل بیا ادبپوهنه له نویو زیاتونو سره چاپ کړې ده په دې اثر کې هم د سبک په اړه تعریفونه او ډولونه یې وړاندې شوي دي او د لوستونکو د لا پوهاوي په موخه یې کومه لیکنه نه ده وړاندې کړې چې په هغې کې هغې ټکي روښانه شوي وي چې محصل په عملي توکه وکولای شي د یوې لیکنې سبکي ځانګړنې وپېژني؛ خو د استونزه استاد غضنفر د نثر په لیکلو کې تر ډېره بریده حل کړې ده او د (سبک په څنګه معلومو) تر سرلیک لاندې هغه لارښونو ته اشاره شوې ده چې د هغې په اساس سبکي ځانګړنې پېژندلای شو. نوموړی لیکي: «د سبک یو بل مشهور او معاصر تعریف چې له نورم Norm څخه کږېدلو او انحراف ته سبک وایي» (۴ : ۳۴).

له پورتني متن څخه معلومیږي کله چې یوه لیکنه د یونکي له ژبې څخه جلا ځانګړنې ولري همدا ځانګړې سبکي ګڼل کېږي.

نوموړي استاد يو ځای ليکي: «د سبک د پېژندلو لپاره د مفکورې پېژندل ضروري دي، ځکه د يو فکر د بيان خاص طرز ته سبک وايي» (۴: ۳۳).

د پورتني متن په لوستلو سره لوستونکي فکر کوي که چېرې په سبک کې مفکورې پېژندل اړين وي نو بيا د ليکنې موضوعي اړخ ته پام په کار دی، کنه د ليکنې کلمات او جملې خو حتمي يوه مفکوره وړاندې کوي. که چېرې په سبک کې مفکوره رامخکې شي نو لوستونکی ترې د ليکنې د پيغام، موضوع او د منځپانګې معنا اخلي.

استاد غضنفر په خپله ليکنه کې د استاد روهي هغه تعريف راوړی چې زما په اند د نوموړي استاد (غضنفر صاحب) له مخکنۍ خبرو سره په تقابل کې واقع ده او لوستونکی په دوو کې حيرانېږي چې پورتنی او دا متن د يوې موضوع د روښانولو په هدف نه دی وړاندې شوی، بلکې د دواړو نظريو ليد لوري د موضوع په تړاو ډېر لرېوالی لري. د نثر ليکلو په هنر کې د استاد روهي د ليکنې دا برخه وړاندې شوې: «په يو سبک کې هغه څه چې يو لوستونکی درک کوي يوازې ليکل شوې مفکوره نه ده، بلکې ځينې نورې ضمني اشارې Connotations ور سره شته. همدا ضمني اشاري دي چې فکرونو ته رنګ ورکوي او د رنګونو تو پير او ترتيب په خپل ذات کې ډېر اهميت لري. دلته زما مقصد له رنګ څخه د ليکونکي احساسات او ذهني حالات دی چې د يوه فکر د افادې پر ډول اغېزه کوي» (۴: ۳۱).

په پورتني متن کې کې د سبک په پېژندلو کې مفکوره نه، بلکې ځينې نورې ضمني اشاري ښودل شوي دي چې د بيان خاص طرز ته راجع کېږي نه مفکوري ته.

مجيب الرحمن اميري د پښتو غزلبول شاعر استاد محمد صديق پسرلي د شاعرۍ په سبکي ځانګړنو مقاله ليکلې او د ځانګړنو په اړه يې ليکلي: «د هندي سبک ځانګړنې د نوموړي په شاعرۍ کې په دوو اړخونو کې په ګوته کولای شو چې

لومړی یې فکري او هنري اړخ او بیا پر معنوي او معاني ښایستونو باندې خبرې کوو » ( ۱ : ۷۱ ).

په پورتنۍ متن کې د فکري او معنوی برخې یادونه شوې ده کیدای شي یو لوستونکی فکر کوي چې د سبک د ځانګړنو په پېژندنه کې یواځې د وینا طرز نه، بلکې د لیکنې معنوي یا موضوعي اړخ هم راتلای شي .

د پورتینو بېلابېلو نظریاتو یوه مهمه نتیجه اخلو چې ځینې لیکوال یا شاعران ځانګړې مفکوره لري یا د یو څه په مقابل کې جلا فکر لري که دا فکر د نوموړي په اثارو کې په زیاته اندازه ځان څرګند کړي دا برخه هم په سبکي ځانګړنو کې شمېرل کېږي.

استاد ښکلی چې د ادبیاتو په په برخه کې ګټور تیوري اثار لیکلي دي او د سبک په اړه بېلابیل مسایل په سبکپوهه کې څېړلي دي او په یوه برخه کې د سبکې ځانګړنو په پېژندنه کې د شاعر او لیکوال په اړه د ادبیانو پوهه، تصوف او فلسفه، عمومي تاریخ، ژبپوهنه، معاني او بیان او د ادب تاریخ په دې برخو کې معلومات اړین بولي (۵ : ۶۸).

استاد ښکلي دا اثر په لوړو معیارونو لیکلی دی او چې ځینې مسایل د تکړه لیکوالو، سبکپوهانو لپاره اړین دي، خو هغه کسان چې زده کړه کوي او غواړي د یو لیکوال سبک معلوم کړي او پورتنۍ پوهې د سبک د معلومولو نه مخکې اړینې وبولي کیدای شي د سبک د پېژندنې په اړه یې ذوق مړاوی شي او د زده کړې په دې پروسه کې شاته ګام واخلي.

ځینې کسان سبک د لیکوال شخصیت ګڼي، په دې اړه په سبکپوه کې لیکل شوي : ((سبک د شاعر یا لیکوال د شخصیت هنداره ده، پنځګر چې په کوم ډول غږېږي او څه افکار لري دا دواړه چې د لیک جامه واغوندي سبک شي )) «۵ : ۱۳» .

همدا ډول د نثر لیکلو په هنر کې د فرانسوي لیکوال نظر د سبک او شخصیت په اړه راوړل شوی: «د فرانسی د اتلسمې پېړۍ لیکوال او فزیکپوه بوفن سبک د لیکوال شخصیت ګڼي معنا دا چې د لیکوال سبک د هغه د شخصیت هنداره ده» (۲۱: ۴).

همداسې په ډېرو اثارو کې سبک د لیکوال شخصیت ګڼل شوی دی. که چېرې سبک د لیکنې ځانګړې طرز وټاکو چې په لیکنه کې په غالبه بڼه څرګندیږي، نو دا ځانګړې طرز څنګه کولای شي د یو لیکوال شخصت څرګند کړي. شخصیت د اروا پوهنې له نظره ډېر اړخونه لري او پېژندل یې پراخه مطالعه غواړي او یوازې د لیکنې ځانګړې طرز د چا شخصیت په بشپړه توګه نه شي څرکندولای. زما په اند دا مسئله حتی په تخلیقي پنځونه کې ډېر توپیر لري، ځکه موږ وایو ډېری شاعران چې کله شعر لیکي دوی ته الهام کېږي او هر وخت دوی نه شي کولای یو شعر ولیکي، نو کله چې الهام کېږي دا وخت نو فکر او حواس هم بدلون مومي.

هغه مهال (۱۳۸۸ ل ل) چې د ننګرهار پوهنتون محصل وم د شریعاتو د پوهنځي اول نمره تکړه قاري و، نوموړی ډېر شوخ د ولسي خلکو په اصطلاح عشقي شعرونه یې لیکل. د نوموړي د شعرونو موضوع او د شعر کلمات یې د مینې له خوږو مالامال و، خو ما به هیڅ فکر نه کاوه چې د دې شعرونو شاعر به قاري صیب وي، ځکه نوموړی تقوادار، دیندار، عاجزه او له خلکو سره د نوموړي نرم چلند دا هغه څه و، چې د نوموړي شخصیت یې له پنځونو سره جلا انځوراوه، د دې تر څنګ د خپلې سیمې داسې کسان مې لیدلي چې د نوموړو په اړه خلکو د هغوی له اثارو څخه بیل برداشت اخیسته مګر کله چې له نوموړو کسانو سره زما نږدې اړیکې پیدا شوې او څو کاله تېر شول، دوی د خپلو اثارو او د عامه ذهنیت په خلاف عالي شخصیتونه درلودل. همداسې په هېواد کې د ځینو هنرمندانو په شخصیت یو ډول بحث کېږي او د هغوی

په هنري پنځونه بېل بحث. له دې کرښو مې هدف دا و چې د یو لیکوال یا شاعر لیکنه نه شي کولای د هغوی شخصیت څرګند کړي.

استاد ښکلي د استاد صمیم او استاد زیار د سبکونو د پرتلې په پایله کې د هغوی د شخصیت تصویر کاږي: «استاد صمیم احساساتي شخصت ده پر ټولو سبک وزرې غوړولي دي او هر کلمه یې د احساساتو ښکارندوي کوي...

استاد زیار منطق علمي او د استاد احساساتي دی، استاد زیار دې جذباتو ته نه ، بلکې عقل ته مخاطب وي او استاد صمیم دې د احساساتو را پارونې هڅه کوي دا خو د استاد زیار د ساړه یا علمي او سخت شخصیت برکت دی، چې ژبه یې سره، کلمې او جملې یې پېچلې او اوږدې وي»(۵: ۱۵۴).

د پورتني متن په تړاو خپله یوه تجربه شریکوم په ۱۳۸۶ کې ما د خپل سیموال او د هېواد ملي اتل غازي محمد عثمان خان په اړه معلومات را ټولول او ډېر کوښښ مې وکړ چې د نوموړي کوم انځور هم پیدا کړم، خو د ملي مبارزینو په اثر کې د نوموړي یو تصویر چاپ شوی و چې عکس یې د رحمن بابا سره شباهت درلود او ډېر سپین ږیری ښکاریده، خو د نوموړي غازي د کورنۍ د غړو د معلوماتو پر اساس چاپ شوی تصویر د نوموړي له شخصیت سره هیڅ اړخ نه لګاوه.

همدا ډول په ادب تاریخ کې چې کوم شاعران معرفي شوي دي په هغو کې د بیټ نیکه په اړه مې یو انځور ولید، یو دوست استدلال وکړ چې دا انځورونه اثارو ته په کتو سره جوړ شوي دي او د هغوی حقیقي انځورونه، نه دي. زما په اند د ادبپوهانو ترمنځ همداسې کانه د سبک او شخصیت په اړه هم شوې ده. اوس د پورتنیو نظریاتو په رڼا کې سبک په دې ډول پېژنو.

سبک: سبک د یو لیکوال د لیکنې ځانګړې طرز ته وایي . د یو لیکوال په لیکنه یا یو شعر کې ځانګړی طرز باید غالبه بڼه ولري که چېرې دا رنګ یې تـت وي سبک یې نه شو بللای.

اوس نو سوال پیدا کېږي چې ځانګړی طرز له کومو لارو چارو پیدا کېږي؟ د ځانګړې طرز موخه د یو شمېر جملو، کلمو، ادبي صنعتونو او نورو هغه برخو کارونه ده چې د نوموړي لیکوال په لیکنه کې په زیاته اندازه لیدل کېږي. هر لیکوال د سبک خاوند نه دی، ځینې کسان د سبک خاوندان دي، ځکه ځینې لیکوال دا وړتیا او مهارت لري چې خپله لیکنه څنګه ترتیب او تنظیم کړي او کوم رنګونه د دوی د لیکنې په شکل پریوزي . اوس نو کولای شو په اسانه توګه د یو لیکوال سبکي ځانګړنې د لاندې نقطو د لارې پیدا کړو:

د جملو کارونه: د یو لیکوال په لیکنه کې د جملو له کارونې هدف دا دی چې د نوموړي په متن کې اوږدې، لنډې سوالیه، معترضه، یوستوی، غبرګې ، تعجبي، خبري او نورې کوم ډول جملې ډېرې کارول کېږي، لکه غبرګې او یوستوې جملې چې د استاد رښتین د سبک یوه ځانګړنه ده.

د کلمو کارونه: ځینې لیکوال په خپله لیکنه کې سوچه پښتو کلمات ډېر کاروي، ځینې هنري کلمې، مستعارې، نوې جوړې شوې کلمې، عربي یا د نورو ژبو کلمې په زیاته اندازه کاروي چې د نوموړي لیکوال سبکي ځانګړنه ګڼل کېږي، لکه د صمیم صاحب په لیکنه کې د هنري کلمو زیاته کارونه.

د صفتونو، قیدونو او فعلونو کارونه: په یو شمېر لیکنو کې صفتونه، قیدونه او فعلونه په زیاته اندازه کارول کېږي ، که چېرې د دې له درېو واړو څخه یوه برخه په ډېره اندازه په لیکنه کې څرګنده شي، نو د لیکوال سبکي ځانګړنه ګڼل کېږي.

د ترکیبونو کارول: په یو شمېر ادبي لیکنو او شعرونو کې لیکوال د ښکلا او ادبي مفهوم د رسولو په هدف توصیفي یا نور ترکیبونه جوړوي او یو شمېر لیکوال اضافي، عددي او نور ترکیبونه په خپله لیکنه کې ډېر کاروي چې د نوموړي په سبکي ځانګړنو کې شمېرل کېږي.

د وییکو کارونه: په یو شمېر لیکنو کې ځینې لیکوال او، خو، نو، مګر، بلکې او داسې نور ویکي ډېر کاروي، ځینې د ضرورت پر اساس او یو شمېر لیکوال یې بې ضرورته ډېر کاروي چې د لیکوال سبکي ځانګړنه ګڼل کېږي.

د لیکنې ژبه: ځینې کسان کیدای شي استدلال وکړي چې د لیکنې ژبه د جملو او کملو له کارونې څخه معلومېږي زما موخه له دې نقطې څخه دا ده چې یو شمېر اثار د ګڼو کسانو له خوا چاپ شوي دي نه یې جمله اوږده ده او نه سخت یا بهرنۍ کلمې کاروي، مګر بیا یې هم ژبه روانه نه وي او مطلب ورنه په سختۍ سره اخیستل کېږي، د ځینو لیکنو په ژبه لهجوي تاثیرات ډېر وي له ځینو سره طنز هم ګډ وي.

د ادبي فنونو کارونه: د یو شمېر شاعرانو او لیکوالو په لیکنه کې کنایه، استعاره، مجاز، یو ډول ځانګړې تشبه ګانې، سېمبولونه او یو شمېر بدیعي صنعتونه زیات کارول کېږي، چې د دې هرې برخې زیاته کارونه سبکي ځانګړنه بلل کېږي، لکه ډاکټر اکبر د شعر یوه ځانګړنه د طباق او تکرار احسن صنعت کارونه ده چې د اوسنیو ټولو شاعرانو په پرتله یې زیات کاروي.

د چاپیریال اغېزې: د اروا پوهنې له پلوه چاپیریال په یو لیکوال او شاعر باندې خپلې اغېزې شیندي د خپل چاپیریال لیدلي شیان او حس شوي توکي د لیکنې پر مهال د ده په اثارو باندې هم خپل اغېزې شیندي که دا برخه د یو لیکوال په اثارو کې په زیاته بڼه ځان څرګند کړي یوه سبکي ځانګړنه ګڼل کېږي.

ولسي اصطلاحات: ځينې کسان د خبرو پر مهال د ولسي اصطلاحاتو نه ګټه اخلي په ادبي ليکنو کې په دې برخه کې له متلونو څخه زيات کار اخيستل کېږي، چې دا برخه هم په شعر او هم په نثر کې راتلای شي که يو ليکوال په ليکنه کې زياتره له متلونو يا نورو ولسي يا سيمه ييزو اصطلاحاتو نه کار اخلي د ليکنې دا ځانګړنه سبکي ګڼل کېږي.

څو ځلې د يو متن لوستل: لوستونکی څو ځلې د يو متن په لوستلو سره د متن د معنا او د متن د ژبې په اړه ډېر معلومات اخيستلای شي، ځينې کسان د يو شمېر شعرونو په منځپانګه نه پوهېږي ځينې وايي دغه شاعر عميقه شاعري کړې ده ځينې وايي د ده په شعر کې فلسفه پرته ده. حقيقت خو دا وي چې ځينې لوستونکي د نوموړي د ليکنې له طرز سره بلد نه وي .

کله چې ما د ډاکټر اکبر اکبر د شاعرۍ په اړه تيزس ليکه زه هم له ورته مشکل سره مخامخ وم، خو څو ځلې مې د نوموړي شعري ټولګې ولوستې ځينې خبرې چې مهمې راته ښکاره شوې يا مې څه په کې وليدل له ځان سره مې ياداشت کول، نو که تاسو څو ځلې يو متن ولولئ کيدای شي د يو ليکوال د سبکي ځانګړنو بيلابيل رنګونه په کې پيدا کړئ.

پر پورتينو ذکر شو برخو سربېره نورې خوا وې هم شته چې د يو ليکوال سبکي ځانګړنې بلل کېږي او پورتنۍ هره نقطه په لسګونو نورې وړې او بيلې برخې لري چې د سبک په جوړښت کې رول لري.

ځينې کسان په دې اند دي چې کله د يو ليکوال سبک پېژنو، نو بايد ډېر اثار يې ولوستل شي، خو زما په اند که چېرې کوم ليکوال د سبک خاوند وي نو بيا کولای شو په اسانۍ سره د نوموړي ليکوال په يوه ليکنه کې هم سبکي ځانګړنې پيدا کړو. او س

به د ښه وضاحت په موخه د استاد صمیم د لیکنې یوه برخه را واخلو او وبه ګورو چې له پورتنیو نقطو څخه کومه برخه په کې ډېره لیدل کېږي.

استاد صمیم د څېړنې او ژېپوهنې تر څنګ د پښتو ادب لرغونې آثارو تدوین هم کوي چې د حمید مومند کلیات د ده په سریزې، څېړنې، اوډنې او ویپانګې سره د دانش کتاب پلورنځي له خوا په ۱۳۸۳ او ۱۳۸۶ هـ ش کلونو کې چاپ شوی دی.

د دغه کتاب په پیل کې ښاغلي صمیم یوه نثري لیکنه کړې چې نمونه یې دلته راوړو:

« ... د عبدالحمید مومند هنري سبک او ښکلاییزه خوا:

حمید مومند یو نازکخیال او رنګین خیال شاعر دی، د ده په کلام کې هنري او ښکلاییزه خوا دومره غښتلې او دومره پیاوړې ده، چې دی یې د پښتو ادب د اسمان لوړو مدارجو ته خېژولی دی. د ده د شاعرۍ منشور (غمی) چې له هرې خوا او هروت څخه وکسې، یوه نوې رڼا او نوې پلوشه ترې پر ستر ګو لګي. دی د شعر پر ښکلاییزو باریکیو او رنګینیو دومره خپور او را چاپېر دی، چې مینه والو او پلیو نیوه یې په حقه وېښته چوونکی بللی او د موشګافۍ پر پلاز او ګدۍ (مسند) یې کېنولی دی.

د پښتو څېړونکیو او سبک پوهانو د عبدالحمید مومند د سبک ښکلا، رنګینې او هنري لوړتیا د هندي ادبي ښوونځي له اغېز بللې ده، خو مخکې له دې چې د دې ارزونې او تقییم په باب څه ووایو په کار ده چې پر ادبي سبک او ادبي ښوونځي یو څه رڼا واچوو. که څه هم له بده مرغه د دواړو تر منځ د برید او پولې نړېدو او ناڅانخبري نه بېلتون، د ارزښتونو او څرنګتیا وو پوهېدا لړه ګرانه کړې ده، خو د دواړو نومونو او اصطلاحاتو د پوهېدنې لپاره دواړه سره په لنډه توګه جلا جلا څېړو:

سبک: ویلونه، ویلې شوی فلز په سانچه یا قالب کې اچول، کلمې او وییونه په ښکلي ډول اوډنه، طرز، دود.

مکتب: لیکځی، لوستون، ښوونځی.

څرنګه ،چې سبک د طرز او دود په معنا هم راځي نو ادبي سبک له ادبي مکتب نه مطلب په ښه توګه څرګندولای شي.

د ادبي سبک او مکتب توپیرونه:

۱ – سبک د مکتب په پرتله ځانګړی او راغونډ دی او مکتب عام.

خپور (غوړیدلی) او له یو ې ډلې ادبي او هنري پنځوونکیو را چاپېر پدونکی دی.

۲ – سبک په خپلو ځانګړیو کلیاتو کې یواځې د همغه پنځوونکي یا ایجادګر ښېره ځلو، خو ادبي مکتب بیا د یو شمېر پنځونکیو او لیکوالو د ځانګړنو څرګندوی دی.

۳ –سبک د ادبي مکتب په برید او ونډ کې غړیږي، خو مکتب د سبکونو له یوښت او ورته والي رامنځته کېږي.

۴ –سبک: یوه ټاکلې تاریخي دوره ځلوي، خو مکتب یوه پراخه او غوړیدلې دوره را اخلي.

۵ .سبک یواځې د یوه هنرمند او لیکوالو په اثر کې د مضمون او جولې د بېلوونکیو بنسټي ځانګړنو ټولګې یا مجموعې ته وایي، خو مکتب د یوه لیکوال نه، بلکې د یوې ډلې لیکوالو ځانګړنه ده.

په بله وینا ادبي مکتب د داسې یو شمېر لیکوالو په پنځونو او ایجادیاتو کې یوښت او وحدت ته ویل کېږي، چې په خپله ایډیالوژۍ او اند دود کې د ربړو او ستونزو په اواري کې د یو شنان لارو د پېژندنې او لید توګې د پوهندود (د افادې طرز)

په ورته والي او داسې نورو کې سره نژدې وي، يعنې سبک د ځانګړتيا (انفراديت) نوم دی او مکتب د ټولیزوالي يا جمعيت.

د دغو بيلونو او توپيرونو په رڼا کې بويه، چې (سبک او مکتب) يو د بل پر ځای ونه کاروو، د هندي مکتب يا ښوونځي نومونه هم ځکه ټکنی او پاموړده، چې په هند کې ډېر زيات ادبي او فکري مکتبونه دي او هغه څه، چې موږ هندي مکتب بولو، د هند له لرغونو ادبي عنعنو سره زيات توپير لري.

د (هندي مکتب) پر ځای هندي سبک له لغوي املـه هم جواز لري (ځکه) د فارسي ژبې ټولو ادبپوهانو هم د مکتب پر ځای د خراسانيو، عراقي او هندي سبکونو نومونه منلي دي، نو د هندي سبک اصطلاح د دودېدو له امله هم راوړل او کارول بې ځايه نه دي.

د هندي سبک ځانګړنې:

۱ – دغه سبک زياتره ابهام او پېچلتيا لري.

۲ – نويو مضامينو او تازه فکرو موندلو ته په کې زياته پاملرنه کېږي.

۳ – ايجاز او لنډون د دې سبک بله ځانګړنه ده، يعنې ډېرې خبرې په لږو عباراتو کې.

۴ – د تشبيهاتو استعارو ژورتيا.

۵ – د فولکلوري توکيو (متلونو، ګړنو او...) زياته کارونه.

۶ . د مسرو تر منځ انډول او تناسب ساتنه او د بديعي صنايعو (تقابل، مراعت النظير، مدعا و مثل او حسن تعليل) پالنه.

۷ – شعر په کې د يوه ځانګړي وزم او تال درلودونکی دی.

۸ – د دې سبک غزليزه شاعري زياتره د مينې پر چورليز چورلي او موضوعي تيت و پرکتيا په کې زياته تر سترګو کېږي.

۹ – د دې سبک شاعران زیاتره په لفظي نزاکت، باریکۍ او مضمون پنځونې پسې ګرځي او د شعر د دودیزو ارونو څه ډېره پروا نه ساتي.

۱۰ – افراط، تفریط، اغراق او مبالغه د دې سبک په تابع شاعر کې ډېره لیدل کېږي.

دغه سبک پښتونخوا او افغانستان ته د یوولسمې پېړۍ په شاو خوا کې لاره وکړه او د پښتنو په فرهنګي ټولیو کې یې لوستوال درلودل.

په پښتونخوا کې د هندي سبک لومړی پلیونی شاعر عبدالحمید مومند دی د ده په شاعرۍ کې د هندي سبک دغه ټولې ځانګړنې او ارونه یو یو تر سترګو کېږي.

په تلو تلو کې یو څه پر دې کلیات، انګیزو او خپل کار دود:

څرنګه چې د حمید بابا شاعري په لومړي ځل دیوې ټولګې، جونګ او غونډ په جامه کې د پښتو شاعرۍ د مینه والو او لوستوالو مخې ته ایښود کېږي. نو بویه هغه یو څو انګېزې او د کار دود څرګنکتیاوې په ګوته شي چې د دې کلیات د رامیدان ته کېدو لامل شول:...»(۳: یولس – څوارلسم).

په پورتنۍ نثري نمونه کې موږ ته تر ټولو د هنري کلمو کارول ډېر ښکاري، چې همدا برخه یې سبکي ځانګړنه ده او د همدې کلمو په تړاو چې نور څه لیدل کېږي په لاندې توګه ور ته اشاره کوو:

۱ – هنري کلمې: د صمیم صاحب په نثر کې هنري کلمې ډېرې کارول شوي دي، که نوموړی معلوماتي نثر لیکي خو بیا هم د هنري کلمو څخه په کې استفاده کوي، چې دا نمونې د نوموړي په ټولو لیکنو کې لیدل کېږي لکه د پورتنۍ نثر سر لیک( د عبدالحمید مومند هنري سبک او ښکلاییزه خوا) یا د لومړي پرګراف پیل کې هنري کلمې ډېرې لیدل کېږي «...حمید مومند یو نازک خیال او رنګین شاعر دی د ده په کلام کې هنري او ښکلاییزه خوا دومره غښتلې او پیاوړې ده، چې دی د

پښتو د ادب اسمان لور مدارجو ته خېژولی دی. د ده د شاعرۍ منشور (غمی) چې له هرې خوا او هروت څخه وکسې یوه نوې رڼا او نوې پلوشه ترې په ستر گو لگي. دی د شعر پر ښکلاییزو باریکیو او رنگینیو دومره خپور او را چاپیر دی ...».

۲ – همانیزې کلمې: د استاد صمیم په نثر کې همانیزې کلمې ډېرې لیدل کېږي، نوموړی استاد هڅه کوي، چې نوې کلمې وکاروي، نو د دې کار لپاره نوې او پخوانۍ کلمې دواړه کاروي تر څو لوستونکي ته د مطلب په اخیستو کې ستونزه پیدا نه شي او د نویو کلمو په معنا په اسانه پوه شي. د هممعانیزو کلمو نمونې د نوموړي په دې بېلگه کې: «ادبي مکتب د داسې یو شمېر لیکوالو په پنځونو او ایجاداتو کې یوښت او وحدت ته ویل کېږي، چې په خپله ایډیالوژۍ او اند دود کې د ربړو او ستونزو په اواري کې د یو شان لارو د پېژندنې او لید توگې د پوهندود په ورته والي او داسې نورو کې سره نژدې وي یعنې سبک د ځانگړ تیا (انفرادیت) نوم دی او مکتب د ټولیزوالي یا جمعیت»

۳ – سلاست: هغه مهال چې د پوهنځي محصل وم، نو له هر استاد نه به مې اورېدل چې د ښه نثر یوه ځانگړنه دا ده، چې سلیس او روان وي. سلاست یوه لیکنه ښکلې کوي او متن په اسانۍ سره لوستل کېږي او هم لوستونکی په اسانه ترې مطلب اخلي، نو د ښو لیکوالو په نثرونو کې دا ځانگړنې لیدل کېږي. د صمیم صاحب نثر سلیس او روان دی ، کله چې یو لیکوال ځینې وخت په یوه لیکنه کې هنري کلمو ته مخه کړي، نو نثر یې سلاست له لاسه ورکوي مگر د صمیم په نثر کې سره له دې چې هنري کلمې کارول شوي دي، روان او خوږ لوستل کېږي لکه: «که څه هم له بده مرغه د دواړو تر منځ برید او پولې نړېدو او ناځانخبري نه بېلتون د ارزښتونو او څرنگتیاوو پوهېدا لږ گرانه کړې ده».

۴– موسیقي– تال– اهنگ: دا توکې د نثر په ښکلا کې ځانګړی رول لري چې په هنري کلمو او جملو کې ډېر کارول کېږي . په یوه لیکنه کې د ځینو کلمو توري یا یو شمېر داسې کلمې راوړل کېږي چې په متن کې موسیقي رامنځته کوي او کله چې په یوه متن کې اهنګ او موسیقي وي د لوستونکي او اوریدونکي په احساساتو هم خپل اغیز شیندي او د هغوی پټ احساسات راوینښوي. دا ځانګړنه د صمیم صاحب په نثر کې هم لیدل کېږي، لکه د دې بېلګې په وروستیو کلمو کې: «دغه سبک پښتونخوا ته او افغانستان ته د یولسمې پېړۍ په شاو خوا کې لار وکړه او د پښتنو په فرهنګي ټولیو کې یې لوستوال درلودل».

۵ – اطناب: د ځینو لیکوالو په لیکنو کې اطناب لیدل کېږي او یوه خبره بې ضرورته اوږدوي یعنې هغه پیغام چې په کمو کلمو او جملو کې وړاندې کوي، دوی بې ضرورته ځینې کلمې راوړي تر څو یې لیکنه اوږده ښکاره شي یا ځان پوه وښایي نو بې له اړتیا ډېر لغات کاروي، مګر کله چې په یوه لیکنه کې اطناب وي نو لوستونکی بیا په اسانۍ سره له نثر څخه مطلب نه شي اخیستلای او هم په یوه لیکنه کې د ډېرو کلمو راوړل د لوستونکي وخت ضایع کوي. اوسهال د ژباړو لړۍ ګرمه ده، که چېرې په کې اطناب وي او بیا په کمپیوټر لیکل کېږي نو اقتصادي زیان هم اړوي، نو ښه نثر هغه دی چې اطناب په کې نه وي . د صمیم صاحب په نثر کې هم اطناب نه لیدل کېږي که کومه کلمه یا جمله اوږده وي، نو موخه به یې د ښکلا رامنځته کېدل یا د هنري کلماتو کارول وي.

ځینې لیکوال یوه لیکنه د موضوع له مخې بې ځایه اوږدوي، خو د صمیم صاحب د نثر استاد دی او لیکنه له اصلي موضوع پیلوي لکه په پورتنۍ نثري بېلګه کې د هندي سبک د ځانګړنې او یا د حمید مومند د پېژندنې په اړه چې کوم سرلیکونه

وړاندې شوي دي، ليکوال په اصلي موضوع خبرې کړې دي. که چېرې نور ليکوال واى، نو د هر سرليک وړاندې به يې څو پراګرافونه پرته له اړتيا ليکلي واى.

۶ – لنډون: استاد صميم هڅه کوي، چې ځينې کلمې يا جملې په لنډه توګه وړاندې کړي او لوستونکي ته د معنا په رسولو کې کومه ستونزه هم پيدا نه شي . هغه مهال چې د ننګرهار پوهنتون د دويم کال محصل وم، نو استاد صميم د تختې پر مخ سنه داسې وليکله: «۱۳۸۸ هـ ش». يا لکه د عبدالحميد مومند په کلياتو کې د نيرنګ عشق چاپي نسخې په اړه يې ليکلي: « په ۱۲۴۹ ل » کې د پښتو ټولنې له خوا د پوهاند رښتين په زيار او څارنه د ده له سريزې او ويپانګې سره »

اوسمهال په کابل کې داف ام ځينې راډيو ګانې خپرونې لري چې څپې يې د کابل اړونده سيمو ته رسيږي خو په هر خبري ساعت کې يې ويانډ وايي: تاسي اوسمهال خبرونه له پلازمينې کابل څخه اورئ. په دې متن کې د پلازمينې راوړل يوه اضافي کلمه ده او متن يې اوږد کړى، ځکه د کابل هر وګړى په دې پوهيږي چې کابل د هېواد پايتخت يا پلازمينه ده، خو د صميم صاحب ليکنه مونږ ته دا رازده کوي چې ځينې کلمې او جملې نه بايد بې ځايه اوږدې شي، بلکې په لنډه توګه لوستونکو ته پيغام ورسوي.

۷ – عربي کلمې: استاد هڅه کوي، چې په خپل نثر کې نوې پښتو شوې کلمې استعمالې کړې، خو پر دې سربېره په يو شمېر جملو کې عربي کلمې د معنوي نقش له پلوه هم کاروي . لکه، مرغوب، نفيس، نفاست، مقام او ماحول ... خو عربې کلې د نورو ليکوالو په پرتله د نوموړي په نثر کې لږ ليدل کيږي.

۸ – د فعلونو تنوع: د استاد صميم په نثر کې د فعلونو او کلمو تنوع ډېره ليدل کيږي، د کلمو او فعلونو تنوع يوه ليکنه له کليشو هم لرې ساتي چې د ليکنې دا طرز د يو بريالي ليکوال ځانګړنه ده . د نوموړي د نثري ځانګړنو په اړه استاد غضنفر يوه مقاله

هم لیکلې ده په هغې کې د صمیم صاحب د فعلونو د تنوع په اړه د نوموړي د «ادب او ارزښتونو» لـه مقالې څخـه یـوه نمونـه را اخیستې چې پـه دې ډول ده: « د دې ټـول تلولیتوب او تذبذب پایله دا راوځي چې خلک خپلو خپلو ارزښتونو تـه ژونـد سپاري او چې کلـه بېلابېـل او متضاد ارزښتونه سره ټکرېـږي، نـو فسـاد تـرې پیـدا کېـږي، ارزښتونو تـه پـر ژونـد، ارزښـت او لومړیتـوب ورکـول کېږي او پـه دې توګـه ارزښـت د ارزښت لپاره ژوندنۍ غوښتنې شاته غورځوي او په خپله یو ...»(۴: ۲۶۶).

**پایله**:

سبک د پښتو ادب د ځینو برخو د شننې پـه موخـه یـوه اساسي برخـه ده چې محصلین او لوستونکي د همدې سبک په اړه کولای شي چې د یو شاعر یا یو لیکوال په لیکنه کې سبکي ځانګړنې پیدا کړي او د ځانګړو طرزونو پـه رڼا کې د پښتو ادب د ښکلا لپاره ترې نوی سینګار واخلي.

سبکپېژندنه موږ ته دا زده کوي چې کومې برخې یا نقطې د یو شاعر یا لیکوال پـه لیکنه کې سبکي ځانګړنې جوړوي او دا ځانګړنې د لیکوال د لیکنې ځانګړی طرز ګڼل کېږي چې هر لیکوال دا طرز نه لري، بلکې یو شمېر لیکوال د سبک خاوندان ګڼل کېږي. پـه پښتو ادب کې پخوا پـه دې اړه هیڅ هڅې نه وې شوې او پـه منظمـه توګه سبک تشریح شوی نه و او هغه لارو چارو ته خو په تیوري اثارو کې هیڅ ځای ورکړل شوی نه و چې د هغې پر اساس یو لوستونکی وکولای شي د نورو لیکوالو پـه لیکنو کې سبکي ځانګړنې پیدا کړي.

سبک کې ټولنیز عوامل هم اساسي رول لري، نو د سبک د شننې لپاره نورې هڅې هم مهمې دي او نور هغه اړخونه یې باید هم وسپړل شي چې د سبک پـه رامنځتـه کېدو کې برخه لري. سبک موږ په اسانه توګه داسې پېژنو کـه د کوم شاعر پـه لیکنـه کې یـو

شمېر ځانګړې جملې، کلمې، ویکي، فعلونه، قیود یا نور څه په زیاته اندازه ولیدل شي دا سبکي ځانګړنې دي او لیکوال یې د سبک خاوند ګڼل کېږي.

د استاد روهي په وینا سبک کې مفکوره نه بلکې یو شمېر نورې ضمني اشارې او رنګونه شته چې د سبک په جوړښت کې برخه اخلي دا رنګونه پراخه دي په دې مقاله کې پورتنۍ یوائې نقطې نه، بلکې په لسګونه نورې خواوې هم شته چې د سبک په جوړښت کې اساسي رول لري او پېژندل یې د لوستونکو او ادبپوهانو لپاره مهم دي.

**اخځونه**:


۱ـ امیري، مجیب الرحمن: کابل مجله (دویمه ګڼه)، د افغانستان علومي اکاډمي، ۱۳۹۴ ل – ل کال.

۲ .زیور، زیورالدین: د پښتو ادبیاتو تاریخ لرغوني دوه، پښتونخوا، د ساپي د پښتو څېړنو او پراختیا مرکز، ۱۳۹۰ ل – ل کال.

۳ .صمیم، محمد اصف: عبدالحمید مومند کلیات، پېښور، دانش خپرندویه ټولنه، ۱۳۸۳ل ل.

۴ .غضنفر، اسدالله: نثر لیکلو هنر، جلال اباد، مومند خپرندویه ټولنه، ۱۳۹۲ ل . ل کال.

۵ .ښکلی، اجمل: سبکپوهه: پېښور، دانش خپرندویه ټولنه، ۱۳۹۰ ل – ل کال.

سید شاه سعود

# غبارخاطر او د زړه لړې

ژباړه اسان کار نه دی. له یوې ژبې بلې ژبې ته معلومات اړول هم ستونزې لري. تر منځه ډېر څه وړاندې وروسته شي؛ کم او یا زیات شي. یوه ژه کې یو رقم وي بله ژبه کې یې څېره بدله شي. څه دژبې تخنیکي مشکلات وي، څه د هغه کس داخلي ستونزې وي چې معلومات ژباړي. مګر د معلوماتو ژباړل سره له دومره ستونزو هم اسان ښکاره شي چې کله یې د جذباتو احساساتو او کیفیاتو ژباړې سره مقایسه کړو. او بیا د اردو ژبې د ځانګړي سبک او اسلوب لرونکي ابوالکلام آزاد شانته لیکوال احساسات، جذبات او کیفیات، توبه!

زه د الحاج مولوي زین الله منلي صیب استعداد او حوصلې ته حیران یم. چې متن مې تر لاسه کړ نو ړومبی خبره مې زړه کې همدا تېره شوه چې ابوالکلام خو ابوالکلام دی، هغه پر خپل کلام دومره قادر دی چې د هغه اسلوب نقل کول هم د چا له وسه نه ده. دومره علم، دومره بلاغت، دومره دقیق لغات په داسې کمال کارول چې هېڅ دقیق معلوم نه شي او بیا د لغاتو شان

شوکت دا هر څه نو څوک له کومه راوړي؟ تر څو مې چې د الحاج منلي صاحب ژباړه لوستل نه وو پيل کړي تر هغه مې زړه کې همدا خبره ګرځېدله چې که دا ژباړه د غبار خاطر د اصل بښې نيم احساسات او کيفيات هم راورسوي نو کاميابه ژباړه به يې و بولم، خو چې کتاب لوستل مې پيل کړل نو يو څو جملې مې په تنقيدي نظر و لوستلې. شپږمه يا اومه جمله به وه، يا شايد لسمه دولسمه به وه، اوس مې له ياده وتلې، مګر د نظر زاويه مې همدلته چپه ته بدله شوه. خوند يې راکړ او بيا نه پوهېږم څووم مخ به و چې ناڅاپه مې ځان ته پام شو او پر مخ مې نرۍ موسکا خپره شو. ما ځان پسې خندل، ځکه چې د ژباړې لوستلو داسې له ځانه سره په مخه کړی وم چې دا مې له ياده وتلي وو چې زه د ابوالکلام د اردو ژبې د ليکنو پښتو ژباړه لولم.

چون ما درسونه په پېښور کې لوستي، ټولې زده کړې مې په اردو ژبه کړې، بيا مې په فلسفه کې تر ماسټرۍ وروسته په اردو ژبه او ادبياتو کې ماسټري کړې او اوس هم د اردو ژبې او ادبياتو پروفيسر يم، درسونه يې ورکوم، نو ابوالکلام ازاد سره بېخي له هلکتوبه بلد يم. د هغه نور کتابونه مې هم لوستلي مګر کوم خوند، علم، زور او د ازاد د اسلوب ځانګړی رنګ چې ه غبار خاطر کې دی بل يو کې هم نه شته. د ازاد د ليکونو نورې مجموعې هم چاپ شوې دي، لکه مکاتيب ابوالکلام آزاد، نقش آزاد، تبرکات آزاد او کاروان خيال. مګر غبار خاطر، غبار خاطر دی.

غبار خاطر په وړومبي ځل په ۱۹۴۶ کې حکيم اجمل خان مرتب کړی و او چاپ کړی يې و. دا هغه ليکونه دي چې ابوالکلام آزاد له ۱۹۴۲ نه تر ۱۹۴۵ پورې د احمد نګر کلا په بنديخانه کې ليکلي وو. هسې خو ابوالکلام ازاد د ژوند ډېره برخه په بنديخانو کې بنده تېره کړې، د ژوند هره اونۍ کې يې

یـوه ورځ د بنـدیخانې پـه برخـه رسـي مګـر د احمـد نګـر بندیخانـه تـر نـورو ډېـره سـخته وه ځکـه چـې نـه ورتـه چـا سـره د لیـدلو (ملاقـات) اجـازت و نـه د لیـک لیږلو.

لـه بنـدیخانې بهـر دنیـا سـره یـې صـرف د یـوې ورځـپـاڼې د لوسـتلو لاره خلاصـه وه، نـورې ټـولې دروازې بنـدې وې. تـر دې حـده یوازیتـوب چـې د خپـل فامیـل لـه احوالـه هـم نـه خبرېـده. مېـرمن یـې رنځـوره وه. لـه زړه یـې یـو الله خبـر و مګـر ده بـه داسـې د خپـل ظـاهر د سـاتلو زیـار ایسـتلو چـې پـه مـخ یـې هـېڅ اثـار ښکاره نه شي، نـه یې لـه رویې چا تـه د باطن کیفیـت ظاهر شي. هره ورځ بـه یـې د ورځـپـاڼې انتظـار ښـه پـه بـې صـبرۍ کولـو مګـر دغـه بـې صـبري بـه یـې پـه بـاطن کـې پټـه پرتـه وه او لـه ظـاهره بـه هـېڅ نـه معلومېـده. د ۱۹۴۳ د اپریـل د میاشـتې د یوولسمې نېټېلیک کې یې د همدغه کیفیت څرګندونه کړې ده.

زه وړومبـی د الحـاج زیـن الله منلـي صـاحب ژبـاړه لانـدې نقـل کـوم بیـا د غبـار خـاطر همدغـه برخـه پـه اردو ژبـه کـې نقـل کـوم. د ابـوالکلام ازاد داخلـي کیفیـت بـه هـم درتـه څرګنـد شـي او د الحـاج منلـي صـیب د ژبـاړې بـه هـم درتـه یـو څـه انـدازه وشي:

«څرنګـه چـې د خطـر نـاک حالـت خبـر راغـی، زه د خپـل زړه حالـت تـه متوجـه شـوم. د انسـان نفـس هـم یـو عجیـب حـال لـري څـوک وربانـدې پـه اسـانۍ سره غلبه نه شي میندلای.

پـه دغـه مهـال چـې څـه زمـا پـر زړه تېرېـدل هغـه مانـه شـو پټـولای. مـا هڅـه کولـه چـې دا وضـع پـه وریـن تنـدي او صـبر سـره وزغمـم، چـې زه پـه دې هکلـه پـه ظـاهر بریـالی وم، خـو پـه بـاطن کـې بریـالی نـه وم، زه پـوه شـوم چـې خپـل ظـاهر او باطن سره نه شم جوړولای.

لومړی مې دا هڅه وکړه چې دلته کومې چارې راته د ورځې په مخکې دي، په هغو کې فرق ونه کړم. د چای او خوراک څلور وخته دي، چې زه په کې له خپلې خونې ووځم او د نورو په مخکې وروستی خونې ته ورځم دا چې زه دوخت ډېر پام ساتم، نو دلته مې هم دا لحاظ کاوه په ټاکلي مهال له خونې نه ووځم او د خوراک مېز ته کښېنم لوږه مې کوره ته بنده ده، خو زه یو څوګولې په زور له ستونې تېروم. له مړی خوړلو نه وروسته دشپې تر ډېره پورې له ملګرو سره په انګړ کې کښېنم او په دې کې کوم فرق نه دی راغلی، چې زما په خبرو اوناسته کې کوم بدلون راشي.

اخبار دلته له دوولسو بجو څخه تریوې بجې پورې راځي زما د خونې په څنګ کې د سرمامور دفتر دی او چې جېلر اخبار واخلي نیغ زما کوټې ته راځي او چې له دفتره څخه مې د هغه د پښو څپار واورېده زړه مې په ټوپو شو، چې نن به څه خبره وي، خو زه مخ په شا دروازې ته کښېناستم، چې مخامخ راته ونه درېږي زما مخ نه شي لیدلای او چې جیلر راغی نوما ورته په مسکا وویل چې اخبار په مېز کېږده او بیا په لیکلو لګیا شوم. داسې مې څرګنده کړه چې ګوندې د اخبارلوستلو ته بیړه نه لرم. زه اعتراف کوم چې زما دا ټولې چارې تظاهر اوځان ښوونه وه چې زما مغرور دماغ کار و او دا کار مې د دې لپاره کاوه چې د بې صبرۍ داغ مې په لمن ونه لګي.»

جونہی خطرناک صورت حال کی پہلی خبر ملی، میں نے اپنے دل کو ٹٹولنا شروع کر دیا۔ انسان کے نفس کا بھی کچھ عجیب حال ہے۔ ساری عمر ہم اس کی دیکھ بھال میں بسر کر دیتے ہیں پھر بھی یہ معمہ حل نہیں ہوتا۔ میری زندگی ابتداء سے ایسے حالات میں گزری کہ طبیعت کو ضبط و انقیاد میں لانے کے متواتر موقعے پیش آتے رہے اور جہاں تک ممکن تھا ان سے کام لینے میں کوتاہی نہیں کی۔

تا دہر سم بود، زدم چاک گریباں
٣١٠ شرمندگی از خرقۂ پشمینہ ندارم

تاہم میں نے محسوس کیا کہ طبیعت کا سکون ہل گیا ہے اور اسے قابو میں رکھنے کے لیے جدوجہد کرنی پڑے گی۔ یہ جدوجہد دماغ کو نہیں مگر جسم کو تھکا دیتی ہے۔ وہ اندر ہی اندر گھلنے لگتا ہے۔

اس زمانے میں میرے دل و دماغ کا جو حال رہا، میں اسے چھپانا نہیں چاہتا میری کوشش تھی کہ اس صورت حال کو پورے صبر و سکون کے ساتھ برداشت کرلوں۔ اس میں میرا ظاہر کامیاب ہوا لیکن شاید باطن نہ ہوسکا۔ میں نے محسوس کیا کہ اب دماغ بناوٹ اور نمائش کا وہی پارٹ کھیلنے لگا ہے، جو احساسات اور انفعالات کے ہر گوشہ میں ہم ہمیشہ کھیلا کرتے ہیں اور اپنے ظاہر کو باطن کی طرح نہیں بننے دیتے۔

سب سے پہلی کوشش یہ کرنی پڑی کہ یہاں زندگی کی جو روزانہ معمولات ٹھہرائی جاچکی ہیں، ان میں فرق آنے نہ پائے۔ چائے اور کھانے کے چار وقت ہیں جن میں مجھے اپنے کمرے سے نکلنا اور کمروں کی قطار کے آخری کمرہ میں جانا پڑتا ہے۔ چونکہ زندگی کی معمولات میں وقت کی پابندی کا منٹوں کے حساب سے عادی ہوگیا ہوں، اس لیے یہاں بھی اوقات کی پابندی کی رسم قائم ہوگئی اور تمام ساتھیوں کو اس کا ساتھ دینا پڑا۔ میں نے ان دنوں میں بھی اپنا معمول بدستور رکھا۔ ٹھیک وقت پر کمرہ سے نکلتا رہا اور کھانے کی میز پر بیٹھتا رہا۔ بھوک یک قلم بند ہوچکی ہے لیکن میں چند لقمے حلق سے اتارتا رہا۔ رات کو کھانے کے بعد کچھ دیر تک صحن میں چند ساتھیوں کے ساتھ نشست رہا کرتی تھی۔ اس میں بھی کوئی فرق نہیں آیا۔ جتنی دیر تک وہاں بیٹھتا تھا، جس طرح باتیں کرتا اور جس قسم کی باتیں کرتا تھا، وہ سب کچھ بدستور ہوتا رہا۔

اخبارات یہاں بارہ سے ایک بجے کے اندر آیا کرتے ہیں۔ میرے کمرے کے سامنے دوسری طرف سپرنٹنڈنٹ کا دفتر ہے۔ جیلر وہاں سے اخبار لے کر سیدھا میرے کمرے میں آتا ہے۔ جونہی اس کے دفتر سے نکلنے اور چلنے کی آہٹ آنا شروع ہوتی تھی، دل دھڑکنے لگتا تھا کہ نہیں معلوم آج کیسی خبر اخبار میں ملے گی۔ لیکن پھر فوراً چونک اٹھتا۔ میرے صوفے کی پیٹھ دروازہ کی طرف ہے۔ اس لیے جب تک ایک آدمی اندر آکے سامنے کھڑا نہ ہو جائے، میرا چہرہ دیکھ نہیں سکتا۔ جب جیلر آتا تھا تو میں حسب معمول مسکراتے ہوئے اشارہ کرتا کہ اخبار ٹیبل پر رکھ دے اور پھر لکھنے میں مشغول ہو جاتا۔ گویا اخبار دیکھنے کی کوئی جلدی نہیں۔ میں اعتراف کرتا ہوں کہ یہ تمام ظاہرداریاں دکھاوے کا ایک پارٹ تھیں جسے دماغ کا مغرورانہ احساس کھیلا رہا تھا اور اس لیے کھیلتا تھا کہ کہیں اس کے دامن صبر و قرار پر بےحالی اور پریشان خاطری کا کوئی دھبہ نہ لگ جائے۔

دا خو معلومه خبره ده چې د تاریخ د کتاب ژباړه کې واقعات مهم وي، د ساینسي کتاب ژباړه کې معلومات مهم وي او د ادبیاتو ژباړه کې احساسات، جذبات او کیفیات مهم وي. څوک چې ژباړه کوي هغه د اصل متن د لیکوال احساسات، جذبات او کیفیات په ځان خپاره کړي. دا لیکونه بندیخانه کې لیکل شوي. چا چې بندیخانه کې وخت تېر کړی وي او چا چې بندیخانه کله په سترګو هم نه وي لیدلې، دې دواړو له پاره غبار خاطر بېله بېله مانا لري، بېل بېل احساس لري. بله دا چې ابوالکلام مکه کې زېږېدلی و، عربي ژبه یې داسې زده وه لکه خپله مورنۍ ژبه. فارسي هغه وخت د هند د علماوو ژبه وه. د میرزا غالب او علامه محمد اقبال فارسي شاعري د دې خبرې ګواهي راکوي چې هغه وخت فارسۍ د هند د رسمي ژبې حیثیت درلود او د ابوالکلام پرې ډېر لاس بر و. او اردو خو نو د ابوالکلام آزاد خپله ژبه وه. پینځلس شپاړس کاله عمر یې لرلو چې د «لسان الصدق» په نامه یې خپله یوه میاشتینۍ مجله روانه کړه. چې شبلي نعماني په اول ځل مولانا ولید نو ګومان یې وکړ چې دا به د ابوالکلام زوی وي. بیا چې خلکو ورته وویل چې دا خپله ابوالکلام دی نو یقین یې نه راتلو. د داسې نابغه لیکوال د ژوند تر ټولو ستر کتاب ژباړل همداسې یو نابغه ته حاجت لري. د غبار خاطر لیکونه عادي لیکونه نه دي. د ادب ډېر اصناف په دې لیکونو کې لیدل کېږي. طنز او مزاح په کې ډېره په عالمانه لاره لیدل کېږي. د انشاییې (تکل) رنګ په کې شته. د لنډې کیسې شانته په کې کردارونه تراشل شوي او یو راوي لګیا وي داستان بیانوي. د نثر اصناف خو پرېږده، چې کله کله خو پرې بېخي د شعر رنګ غالب شي. لکه په نثر کې یې چې شاعري کړې وي. که سرنامې ترې څوک وراني کړي نو ویې منئ که څوک پرې د لیکونو ګومان وکړي. داسې لویه فنپاره ژباړل اسان کار نه دی. یو څه خو له اردو ژبې چې پښتو ژبې ته احساسات را منتقلېږي نو طبعي زیان ورته رسېږي. که حبیبي صاحب یا قلندر مومند صاحب ژباړلې وای هم به دغه زیان ورته رسېدلو. بل د

انسان خپل داخلي کيفيت هم ډېره برخه په کې لري. کله کله مخې ته پراته لغات د هغو جذباتو څرګندونه نه شي کولای چې د اصل متن په لوستلو د مترجم په زړه کې زېږېدلي وي نو هغه مجبور شي چې لغاتو پسې ځو قدمه وړاندې لاړ شي. دغه ځو قدمه تلل د جذباتو او احساساتو روانه لاره کې بند راولاړوي، ويو رقم تصنع په کې احساسېږي. شکر الحاج منلي صيب ټکي په ټکي ژباړه نه ده کړې، نه يې له جملې نه په هغه حساب جمله سازه کړې. ما ته داسې معلومه شوه چې له احساسه يې احساس ژباړلی او له جذبې يې جذبه ژباړلې او چې کوم ځای يې وس نه دی رسېدلی هلته پرې بېخي چوپ پاتې شوی دی.

زما په خيال په احساس چوپ پاتې کېدل عيب نه دی ځکه چې سم او ناسم خو په دليل کې وي، قضيه کې وي، منطق کې وي. احساس خو نه سم وي نه ناسم. بس احساس وي. او داسې ممکنه نه ده چې څوک دې نيم احساس راواخلي او نيم دې پرېږدي. ځکه چې احساس خو يا وي او يا نه وي.

ابوالکلام يو سياسي سړی هم و مګر د ادب او هنر قد يې دومره پورته دی چې د سياسي نظرياتو مخالفين يې هم خپله سرمايه ګڼي او وياړي پرې.

د الحاج زين الله منلي پر پښتو ژبه او پښتنو نور هم ډېر احسانات دي. مونږ ته يې ډېر کتابونه راکړي. منندوی يم چې غبار خاطر يې هم را ته «د زړه لړې» په نوم راژباړلی دی. ليکوالانو له پاره دا کتاب د لارښود حيثيت لري. د دې کتاب ژباړل د نثر ليکوالانو ته د دې څرګندونه کوي چې نثر خلک داسې ليکي. او څوک چې ليکوالان نه دي هغوی ته د يو ستر انسان سازېدلو حوصله ورکوي. الله دې الحاج منلي صاحب ته اوږد ژوند ورکړي چې د پښتو ژبې ګل بڼ کې را ته نور ګلان را زرغون کړي. آمين.